# وهابيت

## د قرآن او سنتو په رڼا کې

لیکوال :

**شیخ جعفر سبحاني**

ژباړن :

**ولي الله کرامت**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د کتاب مشخصات :

د کتاب نوم : وهابیت د قرآن او سنتو په رڼا کې
لیکوال :شیخ جعفر سبحاني
ژباړن : ولي الله کرامت
د چاپ کال : لومړی () دویم () دریم ()

# فهرست

**فهرست ............................................................................ ۳**
**د شیخ محمد بن عبدالوهاب پېژندنه............................................................ ٦**
**د الهي اولیاوو د قبرونو ودانول ............................................................ ۱۵**
**الف : د قبرونو ودانولو په باب د قرآن نظر ................................................ ۱۷**
**ب: د قبرونو په ودانولو کې د اسلامي امت نظر ............................................ ۲۰**
**اسلامي اثار د دین د اصالت نښه ده ........................................................ ۲۲**
**ج : ابي الهیاج حدیث ....................................................................... ۲۵**
**د دې حدیث په باب زمونږ نظر ............................................................. ۲٦**
**د واقعیت پر ځای دلیل جوړونه............................................................... ۳٤**
**د کتاب او سنتو په رڼا کې، د قبرونو زیارت.................................................. ۳۷**
**ښځې او د قبرونو زیارت ...................................................................... ٤۰**
**د مذهبي شخصیتونو د قبرونو د زیارت رغنده نښې........................................... ٤۳**
**د د جناب رسول الله (ص) د قبر زیارت ...................................................... ٤٦**
**قرآني شهادت ................................................................................ ٤۷**
**بل شهادت .................................................................................... ۵۰**
**د جناب رسول الله (ص) د زیارت په باب اسلامي احادیث .................................. ۵۲**
**د قبرونو د زیارت لپاره د تګ د نص په تحریم کې ........................................... ۵۵**
**د شیخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې دلایل ..................................................... ۵۵**
**د اولیاوو له قبرونو سره لمونځ او دعا ....................................................... ۵۹**
**پر قبرونو د ډیوې بلول ....................................................................... ٦٤**
**د اولیاوو وسیله کول ......................................................................... ٦۵**
**د احادیثو برخه ............................................................................... ٦۷**
**لومړی حدیث د عثمان بن حنیف حدیث ...................................................... ٦۷**
**دویم حدیث:د رښتینو سائلانو وسیله کول .................................................... ۷۰**
**درېیم حدیث: د جناب رسول الله (ص) وسیله کول ........................................... ۷۱**

**څلورم حديث: د پېغمبر لخوا د پېغمبر اونوروحقو پېغمبرانو وسيله کول .......... ٧٤**
**پينځم حديث:........................................................................ ٧٦**
**شپږم حديث : د پېغمبر د ذات وسيله کول....................................... ٧٧**
**اووم حديث: د شهيدانو امام حسين په "دعای عرفه" کې وايي. .................. ٧٨**
**اتم حديث: د روژې مياشتې او په هغې مياشت کې د عبادت کوونکيو وسيله کول ........................................................................ ٧٨**
**د "توسل" په مساله کې د مسلمانانو چلند ........................................ ٧٩**
**د جناب رسول الله (ص) پر وير د صفيې (رض) شعر ............................... ٨٤**
**آيا د خدای د اولياوو د تلين او کليزې نمانځنه او درناوی بدعت دی؟ ............... ٨٦**
**د عبادت بريدونه او يو بشپړ او هر اړخيز تعريف يې ................................ ٨٨**
**د عبادت لومړنی تعريف ........................................................ ٨٩**
**د عبادت دويم تعريف............................................................. ٩٠**
**د بحث نتيجه ........................................................................ ٩٤**
**په ژوندوني له اولياوو الله نه مرسته.............................................. ٩٨**
**د اولياء الله له ارواحو نه مرسته غوښتنه ........................................ ١١٠**
**تر مړګ وروسته د انسان د روح بقا او پايښت ................................. ١١٠**
**قرآني آيتونه د ارواحو په پايښت ګواهي ورکوي ................................ ١١٢**
**د انسان واقعيت، د هغه روح دی .............................................. ١١٤**
**قرآن له بلې نړۍ سره د تړون پر امکان شهادت ورکوي ........................ ١١٥**
**د اسلام پېغمبر د انبياوو له ارواحو سره غږېږي ................................ ١١٧**
**قرآن پر پېغمبرانو درود وايي.................................................... ١١٧**
**په تشهد کې پر پېغمبر درود ................................................... ١١٨**
**د بحث نتيجه ...................................................................... ١١٨**
**مسلمانان او له مقدسو ارواحو نه حاجت غوښتنه ................................ ١١٩**
**له الهي اولياوو نه د شفاعت غوښتنه ............................................ ١٢٣**
**د شفاعت د غوښتنې د جواز په باب زموږ دلايل ................................ ١٢٥**
**له وړ (اهلو) خلکو غوښتنه يو مستحب کار دی ................................ ١٢٨**

**اسلامي احاديث او د صحابه وو سيرت ........................................ ١٢٩**
**د مرګ په حالت کې له چا څخه د شفاعت غوښتنه ........................... ١٣٠**
**د شفاعت غوښتنې د مخنيوي په باب د شيخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې د دلايلو څېړنه ........................................................................ ١٣٢**
**شفاعت يواځې د خدای حق دی ............................................ ١٣٧**
**ايا پر غيبي طاقت عقيده، شرک دی؟ ........................................ ١٤٠**
**د شيخ عبدالوهاب د ډلې نظر .................................................. ١٤٠**
**پردې خبره زموږ نظريه ........................................................ ١٤١**
**د يوسف عليه السلام غيبي سلطه ............................................ ١٤١**
**د موسی عليه السلام غيبي سلطه ............................................ ١٤٢**
**د سليمان عليه السلام غيبي سلطه ........................................... ١٤٣**
**حضرت مسيح او غيبي سلطه ................................................ ١٤٤**
**ايا له عادت نه د بهر چارو غوښتنه شرک دی؟ ............................... ١٤٧**
**سليمان (ع) د بلقيس تخت غواړي ............................................ ١٤٨**
**خدای ته د اولياوو پرمخ سوګند ورکول ........................................ ١٥٣**
**په اسلام کې د دې توسل پېښېدل ............................................ ١٥٥**
**حضرت آدم داسې توبه ويستله ................................................. ١٥٥**
**بې له خدايه پر بل څه قسم ................................................... ١٦٠**
**په غير خدای باندې د قسم د جواز دلايل ...................................... ١٦٠**
**د اهلسنتو څلور مذاهب او پر غيرالله قسم ..................................... ١٦٤**
**پر غير خدای باندې د قسم په باب د شيخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې لاسوند ... ١٦٥**
**الهي اولياوو ته نذر ............................................................ ١٦٩**
**د اولياوو د اثارو تبرک ......................................................... ١٧٣**

# د شيخ محمد بن عبدالوهاب پېژندنه

شيخ محمد پر ۱۱۱۵ هجري قمري کال د عينيه په ښار کې زېږېدلی، پلار يې د هغه ښار قاضي و. شيخ له وړوکتوبه د تفسير، حديث او عقايدو دکتابونو له مطالعې سره مينه لرله، حنبلي فقه يې له پلار او نورو علماوو زده کړه.
شيخ له نجد نه بصرې ته تللی او هلته يې د خلکو له ډېرو اعمالو سره مخالفت پيل کړ؛ خو بصريانو له ښاره وشاړه.
له بصرې نه د زبير د ښار په لاره کې د لوږې، گرمۍ او تندې سره مخ شو او نژدې وو، چې ومري؛ خو د "زبير" يو هستوگن يې مرسته وکړه اوبه يې پرې وڅښلې او له ځان سره سپور کړ او زبير ته يې ورساوه، له دې ښاره "احساء" ته او بيا "حريمله" ته ولاړ.
دا مهال ۱۱۳۹ کال و او پلار يې مرحوم عبدالوهاب له عينيه نه حريمله ته راغلی و، شيخ محمد له پلاره سره د کتابونو په لوستو پيل وکړ او د نجد د خلکو پر عقايدو يې نقد پيل کړ، چې د ده او پلار ترمنځ يې شخړه ونښته او څو کاله يې دوام لره تر هغې چې پلار يې په ۱۱۵۳ کال کې وفات شو.[1]
شيخ محمد د پلار تر مړينې وروسته د خپلو عقايدو په خپرولو او د خلکو د مذهبي اعمالو د يوې برخې په انتقاد لاس پورې کړ او د حريمله يو شمېر خلکو يې ملاتړ وکړ او دعوت يې مشهور شو. نومړی له دې ښاره عينيه ته ولاړ. په هغه وخت کې د عينيه امير عثمان بن حمد و.
عثمان شيخ په خورا احترام ومانه او په پام کې يې وه، چې ورسره همکاري وکړي. په مقابل کې شيخ محمد هم ورته وويل چې ټول نجد به د عثمان بن حمد اطاعت ته راوبولي. د شيخ محمد د دعوت خبر د احساء امير ته ورسېد، امير عثمان ته ليک ولېږه او نتيجه يې دا شوه، چې عثمان بن حمد شيخ محمد ځان ته راوغوښت او بخښنه يې ترې وغوښته؛ خو شيخ د هغه په ځواب کې وويل : که زما لاسنيوی وکړي، د ټول نجد خاوند به شي؛ خو عثمان دا خبره ونه منله او شيخ يې له عينيه وشاړه.

[1] د آلوسی د نجد تاريخ ۱۱۱-۱۱۳ مخونه

شيخ محمد په ۱۱٦۰ کاله تر عينيه نه وروسته "درعيه" ته (چې د نجد مشهور ښار و) ولاړ، په هغه وخت کې د "درعيه" امير محمد بن سعود (د سعوديانو نيکه) و. هغه د شيخ ليدو ته ورغی او د عزت او نيکۍ زيری ورکړ. په مقابل کې شيخ محمد هم د نجد پر ټولو ښارونو د غلبې زيری ورکړ او په دې توګه د شيخ محمد او محمد بن سعود اړيکې پيل شوې.
شيخ په دعوت پيل وکړ او چاچې به يې دعوت نه مانه؛ نو د کفر او شرک فتوی په يې پرې لګولې او د جنګي کافر په حيث به يې ورسره چلن کاوه، د دوی مال يې غنيمت ګاڼه او ښځو يې ورته د مينځو حيثيت درلود. په نجد، يمن، حجاز او د عراق او سوريې په شاوخوا کې يې ډيرې جګړې وکړې او ډير مسلمانان يې شهيدان کړل، د هغوی مالونه يې په غنيمت ونيول او ډيره شتمني په لاس ورغله.
شيخ محمد په ۱۲۰٦ کال وفات شو (د شيخ د پيدايښت او وفات په کلونو کې له ۱۱۱۵ او ۱۲۰٦ څخه پرته نور اقوال هم شته) او پيروانو يې لارې ته دوام ورکړ.
د شيخ محمد د فعاليتونو له امله په مسلمانانو کې يوه نوې فرقه پيدا شوه، چې له ځان پرته نورو ټولو مسلمانانو ته يې مشرکان ويل او د انګلستان او نورو قدرتونو سره يې لاس يو کړ. د مسلمانانو مرکزيت د (عثماني خلافت) يې له منځ يووړ او عربي هېوادونه يې د وخت د سترو طاقتونو ترمنځ وويشل او چې کله پر مکه او مدينه باندې برلاسي شول؛ نو ټول اسلامي اثار يې له منځه يووړل.[٢]

[٢] ١ – د حضرت رسول اکرم د پيدايښت ځای
٢ _ د حضرت خديجې کور.
٣ _ د مکې د حجر په کوڅه کې د حضرت فاطمې د زېږېدلو ځای
٤ _ د مکې په مسفله کې دحضرت حمزه (رض) کور او په احد کې يې قبر
٥ _ د صفا غره تر څنګه د ارقم د کور ورانول (په دې کور کې د لومړی ځل لپاره د اسلامي نهضت بنياد کېښودل شوی و
٦ _ د بدر د شهداوو قبرونه
٧ _ د احد د شهداوو قبرونه
٨ _ د پېغمبر اکرم د پلار عبدالله قبر

د شیخ محمد افکار د شیخ ابن تیمیه له عقایدو سرچینه نیولې. ابوالعباس احمد بن عبدالحلیم په ابن تیمیه مشهور، د اسلامي عمومي فرقو پر خلاف نظریات او عقاید لرل، چې په هماغه وخت کې د علماوو له سخت مخالفت سره مخ شو، چې د هغه عقاید په لاندې کتابونو کې نقد شوي دي.

۱ ـ شفاء السقام فی زیارة قبر خیر الانام د تقی الدین سبکي لکینه
۲ ـ الذرة المضیة فی الرد علی ابن تیمیه د پورته مولف
۳ ـ المقالة الموضیة د تقی الدین ابی عبدالله احنایي مالکي لیکنه
٤ ـ نجم المعندی ورجم المقتدی د فخر بن معلم قرشي لیکنه
۵ ـ دفع الشبهة د تقی الدین الحصنی لیکنه
٦ ـ التحفة المختارة فی الرد علی منکر الزیارة د تاج الدین لیکنه

او پردې سربېره د وخت مراجعو د هغه بدعتونه په گوته کړي او پر مخالفت یې فتواوې ورکړې.

شیخ ابن تیمیه پر ۷۲۸ کال د شام په یو زندان کې وفات شو او د فعالیتونو زور یې کېناست، ترهغه وروسته د هغو مشهور شاگرد ابن القیم د خپل استاد د افکارو د ترویج لپاره فعالیت کاوه؛ خو له هغه نه په راوروسته زمانو کې د شیخ ابن تیمیه د عقایدو په باب څه خبره نه وه؛ خو چې کله شیخ محمد د هغه د افکارو تر تاثیر لاندې راغلی؛ نو آل سعود د نجد په سیمه کې د خپل امارت د تینگښت لپاره له هغه سره لاس یو کړ او

---

۹ ـ د امام حسن او امام حسین د زېږدلو ځایونه
۱۰ ـ د ټول اصحابو د قبرونو ړوانول.
۱۱ ـ د حضرت پېغمبر اکرم د مور او ښځو قبرونه
۱۲ ـ د امام حسن، امام زین العابدین، امام باقر، امام جعفر صادق او اما مالک د قبرونو ورانول.
۱۳ ـ په مکه مکرمه او مدینه ممنوره کې یې اسلامي کتابخانې وسوځولې، په دې کتابخانو کې تر اسلامه د مخکې او وروستیو دورو کتابونو موجود وو. یوازې د مکې په کتابخانه کې له ٦۰ زرو ټوکو تاریخي او علمي کتابونو ځني ٤۰ زره خطی وو.

يو ځل بيا يې د توحيد په نامه يو لړ وچ کلک تعصبات د ځينو خلکو په اذهانو کې راوټوکول.

د شيخ محمد افکار د اسلامي فرقو د علماوو له خوا تر نقد لاندې نيول شوي، چې يو شمېر يې دادي:

١ _ د شيخ محمد، پلار عبدالوهاب او ورور يې شيخ سليمان به عبدالوهاب چې دواړه حنبلي علماء وو، د شيخ محمد عقايد يې تر نقد لاندې نيولي او ورور يې د الصواعق الالهيه فى الرد على الوهابيه او فصل الخطاب فى الرد على محمد بن عبدالوهاب په نومونو دوه کتابونه ليکلي، چې ورپسې بيا د مصر، نجد، هند، شام او عراق علماوو د شيخ محمد د عقايدو په نقد شروع وکړه.

٢ _ د شيخ محمد استاد محمد بن سليمان کردي شافعي د يو ليک په ترڅ کې په درې سوو پاڼو کې د هغه افکارو نقد کړی دی.

٣ _ د شيخ محمد استاد عبدالله بن عبدالطيف شافعي په تجرين سيف الجهاد لمدعى الاجتهاد کتاب کې د هغه عقايد نقد کړي دي.

٤ _عفيف الدين بن داود حنبلي په الصواعق والرعود کتاب کې د شيخ محمد عقايد نقد کړي او علامه علوي بن احمد حداد وايي چې دا کتاب د بصرې، بغداد، حلب او احساء علماوو تاييد کړي او تقريظونه يې هم پرې ليکلي، د عمان د راس الخيممه قاضي محمد بن بشير دا کتاب خلاصه کړی هم دی.

٥ _ علامه محمد بن عبدالرحمن بن عفالق حنبلي په تهکم المقلد بن بمن ادعى تجديد الدين کتاب کې د شيخ محمد عقايد نقد کړي دي.

٦ _ علامه احمد بن علي قباني بصري شافعي په لسو برخو کې يوه رساله ليکلې او د ابن عبدالوهاب عقايد يې نقد کړي دي.

٧ _ علامه برکات شافعی، احمد او مکي د هغه عقايد نقد کړي دي.

٨ _ شيخ عطايي مکي په الصارم الهندي فى عنق النجدي کتاب کې د هغه افکار نقد کړي دي.

٩ _ شيخ عبدالله بن عيسى موسى د هغه عقايد نقد کړي دي.

۱۰ ـ شيخ احمد مصري احسايي د هغه عقايد نقد کړي.
۱۱ ـ د بيت المقدس علماوو په السيوف الصفال فی اعناق من انکر علی الاوليا بعدالانتقال کتاب کې د شيخ ابن عبدالوهاب عقايد نقد کړي دي.
۱۲ ـ د سيد علوي بن احمد حداد د السيف الباتر لعنع المنکر علی الاکابر کتاب.
۱۳ ـ شيخ محمد بن عبدالطيف احسايي د هغه افکار نقد کړي دي.
۱٤ ـ د طايف اوسېدونکی علامه عبدالله بن ابراهيم ميرغني د تحريض الاغنياء علی الاستغاثه بالانبياء و الاولياء کتاب.
۱۵ ـ سيد علوي بن احمد حداد وايي: په مسجد الحرام کې مې مقام ابراهيم ته مخامخ د شيخ محمد صالح زمزمي شافعي سره ملاقات وکړ او د ۲۰ جزوو په حددو کې يې د ابن عبدالوهاب افکار نقد کړي وو.
۱٦ ـ بيا همدا سړی وايي: طايف ته ولاړم او د علامه طاهر سنبل حنفي سره مې ملاقات وکړ او الانتصار للاولياء الاءبرار په نامه کتاب کې يې د ابن عبدالوهاب عقايد نقد کړي وو.
۱۷ ـ چې کله ابن عبدالوهاب په دې پلمه يوه ډله خلک شهيدان کړل، چې سرونه يې نه وو خرولي؛ نو علامه سيد منعمي د هغه په نقد کې داسې قصيده وويله: افی حلق راسی بالسکاوالحد – حديث صحيح بالاسانيد عن جدي
يعنې ته مې له نېکه نه مستند حديث لرې، چې سر مې په چاقو او توره وخروې؟
۱۹ ـ د احساء ستر عالم سيد عبدالرحمن په ٦۷ بيتونو کې د ابن عبدالوهاب د عقايدو پر نقد قصيده ويلې:
بدت فتـنـة کالليـــــل قـــد عـــطت الافقـــــا
و شـــاعت فکادت تـــبلغ الغرب والشرقا
يعنې: د تورې شپې غوندې فتنه را پيدا شوې او افق يې نيولی او ژر دی، چې ټول شرق او غرب هم ونيسي.
۲۰ ـ د علامه سيد علوي بن حداد د مصباض الانام وجلا الظلام فی رد شبه البدعی النجدی التی اضل بها العوام کتاب.

۲۱ ـ د تونس شيخ الاسلام اسماعيل تميمی مالکي، چې پر ۱۲۴۸ ه ق وفات شوی، د ابن عبدالوهاب د افکارو په نقد يې رساله ليکلې.
۲۲ ـ د تونس د شيخ صالح کواش د سعادة الدارين فی الرد علی الفرقتين کتاب.
۲۳ ـ علامه داود بغداد حنفي د هغه افکار نقد کړي دي.
۲۴ ـ صنعاني د ابن عبدالوهاب په وصف کې يوه قصيده ويلي وه، چې د ليبيا شيخ ابن غلبون د هغه پر ضد ۴۰ بيته قصيده ويله، چې دا قصيده د شيخ صالح کواش په سعادة الدارين کتاب کې هم چاپ شوې او مطلع يې داده:
سلامي علـــی اهل الاصابه والرشد
و ليس علـی نجد ومن حل فی نجد.
يعنی: د اهل حق او اهل هدايت پر کسانو دې زما سلام وي؛ نه پر نجد او اوسېدونکيو يې.
۲۵ ـ سيد طباطبايي بصري د صنعاني د قصيدې پر نقد قصيده وويله، چې ددې قصيدې د اغيزې له امله د صنعاني فکر له ابن عبدالوهاب څنې وگرځېد او دا قصيده يې وويله، چې د بيت اوله مصرع يې داده: رجعت عن القول الذی قلت فی النجدی
يعنې: کومه خبره مې، چې د نجدي په باب کړې وه، ترې وگرځېدم.
دا خبره د تجديد کشف الارتياب په ۱۵ مخ ليکل شوې.
۲۶ ـ د علامه شيخ ابراهيم سمنودي منصوري د سعادة الدارين في الرد علی الفرقتين الوهابية و مقلدة الظاهرية کتاب.
۲۷ ـ د شيخ مشرفي مالکي جزائري د اظهار العقوقو ممن منع التوسل بالنبی والوالی الصدوق کتاب.
۲۸ ـ د المغرب د فاس مفتي مرحوم علامه شيخ مهدي وازتاني د توسل په جواز رساله ليکلې او د شيخ محمد افکار يې نقد کړي دي.
۲۹ ـ د مصري عالم شيخ مصطفی حمامي د غوث العباد ببيان الرشاد کتاب.
۳۰ ـ د شيخ ابراهيم قادري اسکندري د جلال الحق في کشف احوال اشرار الخلق کتاب.

۳۱ _ د علامه شیخ سلامه عزامي د البراهین الساطعة کتاب.
۳۲ _ شیخ حسن شذي حنبلي دمشقي د صوفیه مذهب په تایید او د معترضینو په نقد رساله لیکلې ده.
۳۳ _ انبیاوو او اولیاوو ته د توسل د جواز په باب د شیخ محمد حنین رساله.
۳٤ _ د شیخ حسن خزبک د المقالات الوفیة فی الرد علی الوهابیة کتاب.
۳٥ _ د شیخ عطا الکسم دمشقي د الاقوال المرضیة فی الرد علی الوهابیة کتاب.
۳٦ _ د علامه شیخ جمیل صدقي زهاوي د الفجر الصادق فی الرد علی منکری التوسل والکرامات ولخوارق کتاب.
۳۷ _ د عبدالمحسن اشیقري حنبلي د الرد علي الوهابیه کتاب.
۳۸ _ د شیخ خالد بغدادي په الایمان والاسلام کتاب کې وهابیت نقد شوی دی.
۳۹ _ د شیخ احمد سعید بن ابي سعید صفي القدر بن عزیز القدر سرهندی د الحق المبین فی الرد علی الوهابیین کتاب.
٤۰ _ علامه فقیه عطاءالله بن ابراهیم بن یاسین کسم حنفي د الاقوال المرضیه فی الرد علی الوهابیة کتاب.
٤۱ _ د احمد بن علي بصري، چې په قباني مشهور دی، د فصل الخطاب في رد ضلالات ابن عبدالوهاب اعنی رییس الوهابیه کتاب.
٤۲ _ د شیخ حمدالله د اجوي حنفي هندي د البصائر لمنکري التوسل باهل المقایر کتاب.
٤۳ _ د عیسی بن محمد صنعاني یمني د السیف الهندي فی ابانة طریقة الشیخ النجدي کتاب.
٤٤ _ د الایمان و الاسلام کتاب د علامه شرف الدین احمد بن یحیي منیري.
٤٥ _ د قاضي عبدالرحمن قوتي د سبیل النجاة عن بدعة اهل الزیع والضلالة کتاب.
٤٦ _ د محمد حبیب محق قاضي برملي د مقیاس القیاس فی اثبات القیاس کتاب.
٤۷ _ د اسماعیل تمیمي تونسی ابوالفداء د عقد نفیس کتاب.
٤۸ _ د استاد حسین حلمي بن سعید استانبولي د علماء المسلمین والوهابیون کتاب.

۴۹ _ د شیخ مصطفی بن احمد بن حسن شذي حنبلي د النقول الشرعية فی الرد علی الوهابية کتاب.
۵۰ _ د شیخ علي زين العابدين سوداني د البراۃمن الاختلاق فی الرد علی اهل الشقاق والنفقاق في الرد على الفرقة الوهابیع الضالة کتاب.
نوموړی عالم پر ۱۹۸۰ کال په سودان کې له وهابیانو سره تلویزیوني مناظره کړې او سخته ماته يې ورکړې وه.
۵۱ _ د شیخ محمد انور شاه کشمیري دیوبندي د فیض الباري على صحيح البخاري کتاب.
۵۲ _ د علامه سید علوي بن احمد بن حسن بن قطب سید عبدالله حداد د جلاء الظلام فی الرد علی النجدي الذی اضل العوام کتاب.
۵۳ _ د شیخ ذاهر سنبل حنفي ابن علامه شیخ محمد سنبل شافعي د الانتصار للاولياء والابرار کتاب.
۵۴ _ د شیخ عید ابن الحاج وصیف بن الحاج محمد عبدالرحمن شافعي د نوراليقين فی مبحث التقلين کتاب په سریزه کې د شیخ محمد افکار نقد شوي دي.
۵۵ _ د تبصرة المؤمنين فی استحباب التلقين کتاب چې علامه شیخ محمد بن محمد نور الجمالي السیاحي لیکلی.
۵۶ _ د صفحه عن آل سعود الوهابیت کتاب د علامه سید مرتضی رضوي لیکنه.
۵۷ _ د خواجه حافظ محمد بن حسن حنفي د العقاید الصحیحة فی تردید الوهابية النجدية کتاب.
۵۸ _ د محمد عطاء الله بن محمد شرف بن ابي اسحاق رومي (په عطا مشهور) د الرسالة الردية على الطائفة الوهابية کتاب.
۵۹ _ د شیخ ابراهیم راوي د الاوراق البغدادية کتاب.
۶۰ _ د شیخ داود بن سلیمان بغدادي د المنحة الوهابية فی رد الوهابية کتاب.
۶۱ _ د علامه شیخ مالک بن شیخ داود د الحقایق الاسلامية فی الرد على المزاعم الوهابية بادلة الکتاب النبوية کتاب.

۶۲ _ تاريخ نجد و جحاز د مفتي محمد عبدالقيوم قادري ليکنه

***

د کفر نړۍ د مسلمانانو له يووالي وېرېږي؛ نو له همدې امله يې په مذهب جوړولو پيل کړی دی، چې مسلمانان په خپلو منځونوکې په اخ و ډب اخته وي؛ نو ځکه هغه څه چې د وهابيت تر عنوان لاندې مطرح دي، د هماغې طرحې يوه برخه ده، مونږ په دې کتاب کې د قرآن او سنتو په رڼا کې د شيخ محمد افکار او عقايد څېړلي دي او دا مو په ډاګه کړې چې د ټولو اسلامي فرقو عقايد له قرآن مجيد او سنت د جناب رسول الله (ص) نه سرچينه نيوله او د دوی ټول اعمال او حرکتونه له فطرت، قرآن او سنتو سره سمون نه خوري.

## د الهي اولياوو د قبرونو ودانول

د شيخ محمد بن عبدالوهاب ډله د پېغمبرانو او الهي اولياوو د قبرونو له ودانولو سره سخت حساسيت لري. دا مساله لومړی وار شيخ ابن تيميمه او د هغه مشهور شاګرد ابن القيم راولاړه کړه او د قبرونو د ودانولو د حرمت او د قبرونو د ړنګولو فتوی يې ورکړه.
ابن القيم په خپل کتاب کې زاد المعاد فی هدی خير العباد(زاد المعاد، ٦٦١ مخ، د کشف الاتياب ٣٥٨ مخ) کې وايي: پر قبرونو د جوړو شويو ودانيو ړنګول واجب دي او پر ړنګولو يې تر برلاسي وروسته يو ورځ يې هم پرېښوول جايز نه دي.
پر ١٣٤٤ ه ق کال، چې سعوديان پر مکې، مدينې او شاوخوا سيمو برلاسي شول؛ نو په دې فکر شول، چې د بقيع د نښو نښانو او د نبوي کورنۍ او صحابه وو د اثارو د له منځه وړو لپاره يو لاسوند او سند تر لاسه کړي او د مدينې له علماوو نه يې په فتوی سره ړنګولو ته لار سازه کړي او د حجاز خلک، چې له دې کار سره موافق نه وو، دې کار ته يې تيار کړي وو؛ نو د نجد قاضي القضات سليمان بن بلهيد يې مدينې ته واستاوه، چې د مطلوبو په باب د هغه ځای له علماوو نه استفاده وکړي، هغه پوښتنې داسې جوړې کړې، چې ځوابونه يې په خپله د شيخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې له خوښې سره سم په کې ځای شوي وو او په دې توګه يې مفتيانو ته اورول، چې هماغه څه به ځوابوي، چې په پوښتنو کې نغښتې دي، که نه نو مشرکان به يې، چې که توبه ونه باسي؛ نو وبه وژل شي.
پوښتنې او ځوابونه د مکې د ام القرى نومې جريدې د ١٣٤٤ ه ق د شوال مياشتي په ګڼه کې خپاره شول (د کشف الارتياب ٥٦ – ٦٠ مخونه)، چې په خپرېدو سره يې په مسلمانانو کې غاو او فرياد راولاړ شو؛ ځکه هغوی پوهېدل، چې د فتوی تر ورکولو وروسته به (که څه هم په زور او ګواښ وي) د اسلام د مخکښانو د قبرونو نړول پيل شي، عجيبه داچې د مدينې له پنځلسو عالمانو د فتوی تر اخستو او په جاز کې يې تر خپرولو وروسته د هماغه کال د شوال پر اتمه د بقيع د نښو نښانو بې کرکې نړل او ړنګول پيل شول او د جناب رسول الله (ص) د اصحابو او اهل بيتو ټول اثار له منځه

ولاړل او د بقیع د صحابه وو قبرونه له ځمکې سره داسې ځمکه شول، چې سرې یې په لید وبورږنېږي.
مورږ دلته یو لړ پوښتنې را اخلو چې ترې څرګنده شي، چې پوښتنوکی په کې د پوښتنو ځوابونه څنګه ځای کړی دي؟ یعنې هدف نه یوازې پوښتنه او استفتاء نه وه؛ بلکې خبره د رسالت د اثراو د ړنګوولو لپاره د عوامو پر وړاندې د یوه لاسوند او سند تر لاسه کول وو. که هدف په رښتیا په واقعیت پوهېده وای، په پوښتنه کې د نن د ځواب نغښتل څه معنی؟ بلکې له نښو نښانو څخه ښکاري، چې پوښتنې او ځوابونه له مخکې نه په یوه پاڼه کې لیکل شوي او خالي د لاسلیک لپاره د مدینې علماوو ته وړاندې شوي وو؛ ځکه دا څنګه کېدای شوه، چې د مدینې مخور علماء دې (سره له دې، چې کلونه کلونه په خپله او نېکونه یې د نبوي اثارو ساتندویان او زایران وو) ناڅاپه یو بل فکر غوره کړي او د هغو اثارو د ودانولو د تحریم او ړنګولو فتوی ورکړي؟
هغه په خپله پوښتنه کې وایي:
د مدینې علماء (خدای دې یې علم او پوهه زیاته لري) په دې لړ کې څه وایي؟ پر قبرونو او جوماتونو د ودانیو د جوړولو په باب، چې ایا جایز دي که ناجایز او که جایز نه دي او په اسلام کې سخت منع وي ایا ړنګول او نړول یې او څنګ ته یې لمونځ واجب دی که نه؟ که د بقیع په شان یوه ځمکه کې چې د کومبزې او قبرونو ودانې یې (د ځمکې) له ځینو برخونه د استفادې مخنیوی کوي، د موقوفاتو (وقف شویو) غصبول نه دي، چې باید له منځه لري شي، چې په دې توګه پر مستحق باندې شوی ظلم له منځه ولاړ شي؟
د مدینې علما په ګواښنه او ارعاب امیزه محیط کې د شیخ دې پوښتنې ته داسې ځواب وایي: پر قبرونو ودانی جوړول په اتفاق سره منع دي، دا د هغو احادیثو په شهادت سره، چې د هغه په ممنوعیت دلالت کوي؛ نو ځکه یې یوې ډلې د ړنګولو او نړولو فتوی ورکړې ده او په دې لړ کې پر هغه حدیث استناد کوي، چې ابي الهیاج له علی کرم الله وجهه نه رانقل کړی دی، حضرت علي هغه ته وویل: تا داسې یو کار ته لېږم، چې زه

ورته د جناب رسول الله (ص) هڅولی یم، چېرته چې تصویر او قبر وینې؛ نو له یوې مخې یې لرې او هوار کړه.
شیخ نجدي په هغ مقاله کې، چې د ام القری جریدې د ١٣٥٤ ق د جمادي الثانیه په ګڼه کې یې خپره کړې وایي: د ګومبزو او د قبرونو ودانول له پنځمې هجرې پېړۍ راهیسې دود شوي دي.
دا د قبرونو د ودانې په باب د شیخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې د وینا وو یوه بېلګه ده او دوی په خپلو لکینو کې زیاتره پردوو دلیلونو اړخ لګوي:
١ ـ د (قبرونو د ودانولو) د تحریم په باب د اسلام د علماوو اتفاق.
٢ ـ له علی (رضی الله عنه) نه د ابي الهیاج حدیث او ځینې همداسې نور.
د موضوع د رڼا لپاره به پر دریو برخو خبرې او څېړنه وکړو:
١ ـ د قرآن نظر په دې باب څه دی؟ ایا له قرآنه په دې باب حکم تر لاسه کېدای شي؟
٢ ـ ایا اسلامي امت رښتیا د تحریم په برخه کې یوه خوله دي او که نه په ټول اسلامي بهیر کې خبره پر عکس وه او ایا په خپله د جناب رسول الله (ص) او صحابه وو په وخت کې د قبرونو ودانولو او وربانديې دالان جوړول وو که نه؟
٣ ـ د ابي الهیاج او همدا شان نورو هغو حدیثونو مطلب څه دی، چې د شیخ محمد بن عبدالوهاب ډله ترې کار اخلي؟

## الف : د قبرونو ودانولو په باب د قرآن نظر

قرآن په ځانګړې توګه د دې موضوع له حکم سره ټکر نه دی کړی؛ خو ورسره د موضوع حکم په هغو کلیاتو کې لټول کېدای شي، چې په قرآن کې راغلي دي، دادی د دې برخې څرګندونه:
١ ـ قرآن کریم الهي شعایر د زړونو د تقوی او پر زړونو د پرهیزګارۍ د واکمنۍ نښه ګڼي او فرمایي:((ذَلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ ؛ دا (د حج کړنې

دي) او څوك چې د الهي شعايرو درناوی وکړي؛ نو په واقع کې دا (کار) يې د زړونو د پرهېزگارۍ نښه ده)) [حج ۳۲ آيت ]
د الهي شعايرو درناوی څه دی؟ "شعاير" د شعيره (نښه، علامه) جمع ده، د آيت هدف د خدای تعالی د وجود نښې نه دي؛ څکه هسې خو ټوله نړۍ د هغې (خدای تعالی) د وجود نښه ده او دا هيڅا هم نه دي ويلي، چې د عالم هستي درناوی د تقوی نښه ده؛ بلکې هدف د هغه (خدای تعالی) د دين نښې دي؛ څکه نو مفسرين آيت داسې تفسيروي: شعائر الله يعني معالم دين الله (مجمع البيات ۸۳/٤ ط صيدا) (د خدای د دين نښې).
په قرآن کې که صفا او مروه [إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللّهِ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَا وَمَن تَطَوَّعَ خَيْرًا فَإِنَّ اللّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ؛په رښتيا ((صفا)) او ((مروه)) د خدای له شعايرو(او نښو) دي، چا چې د بيت الله حج يا عمره وکړه؛ نوڅه باک نه لري، چې که د دواړو ترمنځ سعی (؛ تگ راتگ) وکړي (او د مشرکانو بې رويه کړنې د صفا او مروه د سپېڅليو ځايو مقام نشي راټيټولای، چې د صفا او مروه پر غونډيو به يې بوتان کېښوول) او څوك چې د نېکو چارو په تر سره کولو کې د خدای حکم ومني؛ نو په حقيقت کې خدای يې (د عمل پر وړاندې) شاکر(او په کړنو يې) پوه دی.] (بقره ۱۵۸آيت) او په منی کې حلاليدونکی اوښ الهي شعيار گنل شوي [وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ كَذَلِكَ سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ؛ [او تاسې ته مو (د حج په مراسمو کې) چاغ اوښان په الهي شعايروکې شمېرلي دي، په هغو کې درته خير او برکت دی (قربانۍ ته) چې پر ليکه ولاړ دي؛ نو د خدای نوم پرې ياد کړئ او(د ساه تر وتلو ورو سته يې) چې اړخونه پر ځمکه ولگېدل؛ نو له هغو يې پخپله هم وخورئ او پر قانعو نشتمنو او فقيرانو يې هم وخورئ او په دې توگه مو دغه څاروي تاسې ته اېل کړي دي، چې د خدای شکر پر ځای کړئ. ](حج ۳٦ آيت) له دې امله دي، چې دا د حنيف دين او ابراهيمي ايين نښې دي، که مزدلفې ته مشعر وايي؛ نو له دې امله دي، چې دا د الهي دين نښه ده او دغلته تمېدل د خدای پر

دين د عمل او اطاعت نښه ده، که د حج ټولو مناسکو ته شعار وايي؛ نو له دې امله دي، چې دا د توحيد د دين او حنيف دين چارې دي.
لنډه دا چې هر څه چې د الهي دين، شعاير او نښې وي، د هغو نمانځنه او درناوي الهي دربار ته د نژدېوالي زېرمه ده، څرګنده ده، چې انبياء اواوليا د الهي دين سترې نښې دي، چې په خلکو کې ددين د ابلاغ او پراخيتا وسيلي دي، هېڅ يو منصف سړی له دې نه منکرېدای نه شي، چې د جناب رسول الله (ص) او اهل بيتو او اصحابو کرامو وجود د اسلام له دلايلو او د دغه مقدس دين نښې دي اود هغوی د درناوي يوه لاره هم له ړنګېدو نه د هغوی د قبرونو اوثارو ساتنه او ژغورنه ده.
هر څنګه چې دي؛ خو له دواړو وجهو د الهي اولياوو د قبرونو درناوی څرګند دی.
الف: الهي اوليا په تېره هغه کسان، چې د دين د خپرلو په لار کې يې سربښندنې کړي، الهي شعاير او د خدای تعالی د دين نښې دې.
ب: د دوی تر وفات وروسته د درناوي يوه لار هماغه د دوی د قبرونو ساتنه او ودانونه ده؛ ځکه خو ټول ولسونه ستر سياسي او ديني شخصيتونه په داسې ځايونوکې خاورو ته سپاري، چې (قبرونه يې د مکتب او لارې نښه ده) د تل لپاره خوندي پاتې شي؛ لکه له نړېدو او ړنګېدو، چې د هغوی د قبرونو ساتنه د هغوی د وجود ساتنه او د هغوی دمکتب د نښو ساتنه وي.
۲ _ قرآن کريم په ډاګه موږته حکم کوي، چې د جناب رسول الله (ص) له خپلو خپلوانو سره مينه وکړئ فرمايي: [قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىَ؛ زه له تاسې په دې چار (رسالت) هېڅ بدله نه غواړم؛ خو (زما) له خپلوانو (؛ اهل بيتو) سره مينه (هرومرو غواړم ] شوری ۲۳ آيت:
ايا د نړيوالو (چې د دې آيت خطاب ورته شوی) له نظره له نبوي کورنۍ سره د مينې د څرګندونې يوه لار هم د هغوی د قبرو ساتنه او ودانونه نه ده؟
سره له دې چې دا دود د نړۍ په ګردو ولسونو کې ژوندی دی او ټول دا کار د قبر له خاوند سره يو ډول د مينې څرګندونه ګڼي؛ ځکه خو ستر سياسي او علمي شخصيتونه په کليساوو او مشهرو هديرو کې ښخوي او شاخوا يې ګلونه او ونې بوټي کري.

۳ _ د قرآن له آيتونو دا راولاړېږي، چې د باايمانه خلکو د قبرونو درناوی له اسلام نه په پخوانيو ولسونو کې يو دوديز او رايج کار و؛ لکه د اصحاب کهف په باب وايي: چې کله خلک له اصحاب کهف نه خبر شول؛ نو د غار خولې ته ورغلل او د هغوی د قبرونو په باب يې دوه نظره څرګند کړل:

۱ _ ابنواعليهم بنيانا (پر هغوی يا د هغوی پر قبرونو يې ودانۍ جوړې کړې؟)

۲ _ ((و قال الذين غلبوا على امرهم لنت خذن عليهم مسجدا))

يوې بلې ډلې، چې پردې کار بريالي شوي وو، وويل: د دوی مدفن به جومات کړو.

قرآن کريم دا دواړه نظره را اخلي بې له دې، چې نيوکه پرې وکړي؛ ځکه نو سړی ويلای شي، چې که دا دواړه نظره (د قرآن له مخې) مخالفت وای؛ نو قرآن به پرې ضرور ټکونه کړي وای او يا به يې د هغوی دا کار په سپوره ژبه را اخستی وای.

په هر حال د اولياوو او نېانو د نمانځنې او درناوي يوه لار هم د هغوی د قبرونو ساتنه ده.

د د غو آيتونو په پام کې نيوو سره څوک د الهي اولياوو او نېکانو د قبرانو ودانول يو ناروا کار نه شي ګڼلای؛ بلکې د الهي شعاريرو يو ډول درناوی او ورسره د نژديوالی لپاره د مينې څرګندونه او د هغوی نمانځنه او تعظيم ګڼل کېدای شي.

## ب: د قبرونو په ودانولو کې د اسلامي امت نظر

اسلام چې په ټاپووزمه کې خپور شو او وړانګې يې لرې لرې پر منځنې ختځ هم خپرې شوې؛ نو هغه وخت د هغو پېغمبرانو قبرونه، چې پېژندل شوي وو، دالانونه او ګومبزې يې درلودې او ځينو قبرونه اوس هم په هماغه زړه بڼه پاتې دي، په خپله مکه کې هم د حضرت اسماعيل عليه السلام او د هغه د مور (هاجرې بي بي) قبر هم په کوټه کې دی. د دانيال عليه السلام قبر د ايران په شوشتر کې او د حضرت هود، حضرت صالح، حضرت يونس او حضرت ذوالکفل (عليه السلام) قبرونه په عراق کې دي، د حضرت ابراهيم او د هغه د زامنو حضرت اسحق، حضرت يعقوب او حضرت

یوسف غوندې پېغمبرانو قبرونه، چې حضرت موسی له مصر نه بیت المقدس ته راوړل په، نیول شوي فلسطین کې ټول نښې نښانې او ودانۍ لرې؛ خو په جده کې د حوا علیه السلام د قبر اثر د سعودیانو تر واکمنۍ وروسته له منځه ولاړل.
مسلمانانو، چې دغه هېوادونه فتح کول، د دغو اثارو په لیدو نا ارامه نه شول او نه یې د هغه د ړنګولو امر وکړ.
که ربښتیا هم د اسلام له نظره د قبرونو ودانول او په پوښلیو قبرونو کې د مړیو ښخول منع وای؛ نو د هغه وخت پر مسلمانانو به یو لومړنی کار دا لازم و، چې په فلسطین او عراق کې پراته ټول قبرونه یې وړان کړي وای او د بیا لپاره یې د هغو د ودانولو سخت مخنیوی کړی وای. حال داچې نه یوازې وران یې نه کړل؛ بلکې څوارلس پېړۍ یې د خپلو مخکېنې پېغمبرانو د اثارو ودانولو او ساتنې هڅه کړې ده.
هغوی د عقل له مخې د پېغمبرانو د اثارو ساتنه هغوی ته یو ډول درناوی ګاڼه او ځانونه یې په دې کار نېکان او د اجر خاوندان ګڼل.
شیخ ابن تیمیه په الصراط المستقیم کې وایي: د بیت المقدس د فتحې په وخت کې د پېغمبرانو قبرونو ودانې درلودې؛ خو ورونه یې تر ٤٠٠ هجري پورې بند وو (کشف الارتیاب ٣٨٤ مخ)
که ربښتیا هم پر قبرونو د ودانیو جوړول حرام کار وي؛ نو ړنګول به یې واجب وای او بندیدلو به یې د پایښت جواز نه پیدا کاوه او په کار ده، چې ژر تر ژره یې چت او ودانۍ په میتیو او بلډوزرنو ونړول شي.
لنډه داچې په دې دومره موده کې د دغو ودانیو او ګومبزو شتوالی په خپله د علماوو او د اسلام د مشرانو له نظره په اسلامي قانون کې د جواز یوه څرګنده نښه ده.

****

## اسلامي اثار د دین د اصالت نښه ده

د نبوت د اثارو په تېره د د جناب رسول الله (ص) د اثرو لکه د هغوی مدفن، بیبیانو، بچیو، صحابه وو، هستوګنځیو او د هغو جوماتونو، چې لمونځ یې په کې ادا کړی دی، په یاد او ساتنه کې سترې ګټې دي، چې داسې یې یادوو:
نن د حضرت عیسی پر میلاد، د مسیح د وجود د هغه پر مور مریمې، انجیل او د هغه پر حواریونواو یارانو شل پېړۍاوښتي، چې په لویدیځ کې دا هر څه په تاریخي افسانه داسې بدل شوي دي، چې یوې ډلې ختیځپوهانو د مسیح په نامه د اسماني انسان (چې مور یې مریمه او کتاب یې انجیل دی) په وجود او شته والي کې شک کړی دی او د مجنون عامري او د هغه معشوقې لیلی په خیر یې یوه داسې افسانه ګڼي، چې خیالونه او مغزو زیږولې ده. دا ولی؟ دا ځکه چې د مسیح د خپل لاس کومه پاتې نښه یې په لاس کې نه شته. مثلا کومه ځانګړې سیمه او ځای چې هغه په کې زیږېدلی، هغه کور چې په کې اوسېدلی او هغه ځای چې د نصاروو په عقیده په کې ښخ شوی، څرګنده نه دی، په اسماني کتاب کې یې لاسوهنه شوې او د غه څلورګونې انجیلونه، چې د هر یوه په پای کې د حضرت عیسی د وژلو او ښخېدو کیسې راغلې، په منلې توګه په هغه پورې اړه نه لري او په ډاګه راښیي، چې ترمرګه یې وروسته راغونډ شوي دي؛ ځکه نو زیاتره څېړونېکو د دویمې میلادي پېړۍ ادبي اثار ګڼلي دي؛ خو که د دې تر څنګ د یوه پېغمبر او لارښود ټولې ځانګړتیاوې خوندي پاتې شي؛ نو ښکاره ده، چې د هغه پر اصالت شاهدي ورکوي او بیا نو دغسې خیالبافو او شکمنو ته د دغه شان سوچونو فرصت نه پاتې کیږي.
مسلمانان په ډاګه نړیوالو ته وایي خلکو! څوارلس سوه کاله د مخه د حجاز پر سیمه یو سړی د بشري ټولنې د لارښوونې لپاره وګومارل شو او په دې لار کې یې ستر بریالیتوبونه ترلاسه کړل. او د ژوندانه ټولې ځانګړتیاوې، بې له دې، چې یوه ذره ابهام او تیاره خوا په کې پاتې وي؛ خوندي حتی دا هر څه څرګند دي، چې دا یې زیږنځی دی، دا پرې د وحې د نزول ځای (حرا غار) دی، دا یې هغه جومات دی، چې لمونځ یې په کې کړی او دا یې هغه کور دی، چې په کې خاورو ته سپارل شوی دی او دا یې

د بچيو، بيبيانو او خپلوانو کورونه دي او دا يې د اولاد، خپلوانو، خلفاوو او بيبيانو قبرونه دي.
اوس که دغه ټول اثار له منځه يوسو، طبيعي ده، چې د هغه وجود او صالت نښې مو له منځه وړي دي؛ نو د رسالت اصحاب کرامو او اهل بيتو د اثارو ړنګول پر سپکاوي او بې احترامۍ سربېره د اسلام او پیغمبر د رسالت د اصالت له نښو سره مبارزه ده.
اسلام يو همېشنی او تلپاتې قانون دی او تر قيامته به د بشر قانون پاتې وي، زرونه کاله وروسته راتلونکی نسلونه يې بايد پر اصالت مؤمن او متفق وي؛ نو د دغه هدف لپاره بايد د رسالت د ښتن ټولې نښې نښانې خوندي وساتو، او په دې توګه د راتلونېکو زمانو لپاره د دين د بقا په لار کې يو ګام واخلو او داسې عمل ونه کړو، چې خدای مه کړه د جناب رسول الله (ص) نبوت د حضرت عيسی په سرنوشت اخته شي.
مسلمانانو د جناب رسول الله (ص) د اثارو په خوندي ساتنه کې دومره پام کړی دی، چې د رسالت د دوران د ژوندانه ټولې ځانګړتياوې يې په دفت سره راغونډې کړې دي ان چې په دغو خصوصياتو کې يې ګوته، پنې، مسواک، توره، زغره، نېزه، اس، اوښ، مريي او هغه ځاه ګانې، چې د جناب رسول الله (ص) ترې اوبه ښښلي او هغه ځمکې، چې وقف کړې يې دي، د مزله او خوراک څرنګوالي ورته ګران خواړه، د ږيرې او خصابو خصوصيات يې ثبت او يادداشت کړي دي. (طبقات ابن سعد ۱/ ۳۶۰-۵۰۳ مخونه، په دغو مخونه کې د د جناب رسول الله (ص) ډېرې ځانګړتیاوي اود ژوندانه څرنګوالی راغلی دی.
د مسلمانانو د تاريخ په لوستو او په پراخو اسلامي هېوادو کې ګرځېدو سره دا خبره څرګندېږي، چې د قبرونوجوړول او له نړېدو نه يې ژغورل په هر ځای کې د مسلمانانو له مراسمو او دودونو څنې يو دود دی او همدا اوس هم په ټولو اسلامي هېوادو کې د مزارونو په بڼه د پیغمبرانو، اولياوو، نېکانو او صالحانو قبرونه موجود دي، او د اثارو او قبرونو د ساتنې لپاره يې (چې زياتره اسلامي لرغونې اثار دي) اوقاف موجود دي، چې عوايد يې پر همدغو اثارو لګېږي.

په نجد کې د شيخ محمد بن عبدالوهاب ډلې تر رامنځ ته کېدو او پر حرمينو او شواخو او سيمو يې تر واکمنی نه مخکې په ټول حجاز کې د خدای د اولياوو قبرونه ودان او د خلکو د پام وړ وو. او د اسلام يوه عالم پرې هم نيوکه نه کوله دا يوازې افغانستان نه دی، چې د اولياوو او نېکانو قبرونه په کې د مزار په بڼه ودان دي.

بلکې په ګردو اسلامي هېوادنو، په تېره مصر، سوريې، عراق، المغرب پاکستان، ايران او تونس کې د اسلام علماوو او لويانو قبرونه ودان دي او مسلمانان يې ډلې ډلې زيارتونو او فاتحې لوستوته ورځي او دغه ټول ځانته خادمان او ساتندويان لري.

په اسلامي هېوادو کې د اسلام پردې دومره خپرېدو او پراختيا سربېره، د قبرونو ودانول ځنګه يو حرام کار ګڼل کېدای شي؟

سره له دې، چې دا دود د اسلام له صدر راهيسې راراوان دی، چې پوهان ورته سيرة المسلمين وايي، د دغه شان سيرت شته والی بې له دې، چې نيوکه پرې وشي، د هغې د جواز او ګرانښت ښنبه ده.

دا کار اړتيا د له مخې دومره دی، چې يو (د شيخ محمد بن عبدالوهاب پلوی) ليکوال پرې نېوکه کوي وايي:

دې کار ټول ختيځ اولويديځ هېوادونه نيولي دياو حتی په اسلامي هېوادو کې داسې يو ځای او سيمه نه شته، چې قبر او يوه ښنبه په کې نه وي، ان چې د مسلمانانو جوماتونه ترې هم خلاص نه دي اوعقل يې نه مني، چې دا به ګنې حرام کار وي، اسلامي علماء دې په برخه کې غلي اوسي. (تطهير الاعتقاد د مصر چاپ ۱۷مخ، د کشف الارتياب په حواله)

خو له دې اعتراف سره سره يې له ځير او لجاجت نه لاس وانه خيست او وايي : د يوه کاررواج او ورباندې د علماوو چوپتيا د هغه د جواز دليل کېدای نه شي او که بيا هم يوه ډله ځينې وخت د مصلحتونو له امله پر خوله لاس کېږدي؛ نو بله ډله، چې بېل نظر لري، ضرور حقيقت په ډاګه کوي.

د مدینې د علماوو په ځواب سړی حیران شي، چې وايي: په دې برخه کې د صحیحو احادیثو له امله د قبرونو ودانول د علماوو په اتفاق سره منع دي؛ نو ځکه زیات شمېر علماوو یې د ړنګولو فتوی ورکړې ده.
په یوه اتفاق پر قبرونو د ودانیو د مخنیوي د فتوی ادعا څنگه کېدای شي، حال دا چې مسلمانانو د جناب رسول الله (ص) په هغه کوټه کې دفن کړ، چې عایشي بي بي په کې ژوند کاوه. وروپسې د تبرک له وجهې د آنحضرت تر څنگ حضرت ابوبکر او حضرت عمرو دفن کړای شول. د عایشې بي بي کوټه یې په منځ دوه برخې کړه، په یوه کې عایشه بي بي اوسېده او بله د د جناب رسول الله (ص) او شیخینو د قبرونو له پاره شوه. دېوال ټيټ و؛ خو د عبدالله بن زبیر په وخت کې لوړ کړای شول. وروسته بیا د هر عصر د معمارۍ له مخې د جناب رسول الله (ص) د قبر برخه کوټه ودانېده، چې د امویانو او عباسیانو په وخت کې ورته زیات پام وشو او په هر عصر کې په ځانگړې معمارۍ ودانېده، د قبر وروستۍ ودانۍ، چې همدا اوس هم پاتې ده، د سلطان عبدالحمید د وخت ده، چې پر ۱۲۷۰ ق پیل شوه او په څلورو کالو کې بشپړه شوه.
تاسې کولای شئ، د تاریخ په بهر او د سمهودي تر عصره په اسلامي دورو کې د جناب رسول الله (ص) د روضې د ودانۍ مفصل تاریخ د سمهودي په وفاء الوفاء کې ولولئ.
(وفاء الوفاء ۳۸۳-۳۹۰ مخونه)

## ج : ابي الهیاج حدیث

اوس د شیخ محمد بن عبدالوهاب د پلوي علماوو مطلوب حدیث څېړو، دا حدیث له صحیح مسلم نه په یو مسند سره را اخلو:
حدثنا یحیی بن یحیی و ابوبکر بن ابی شیبه وزهیر بن حرب قال: یحیی اخبرنا و قال الاخزان، حدثناوکیع عن سفیان عن حبیب بن ابی ثابت عن ابی وائل عن ابی الهیاج الاسدی قال لی علی بن ابیطالب: الا ابعثک علی ما بعثنی علیه رسول الله ان لا تدع

تمثالا الا طمسته و لا قبرا الاسویته (صحیح مسلم ۳ جلد کتاب الجنائز ٦١ مخ، د سنن د ترمذي ۲۵٦/۲، باب ماجاء فی تسویه القبر، سنن نسائی ٤ جلد، باب تسویه القبر ۸۸ مخ.

ژباړه: د صحیح مولف له یحیی بن یحیی، ابوبکر بن ابی شیبه او زهیر بن حرب څخه رانقلوي، چې وکیع د سفیان، حبیب، ابي وایل او ابي الهیاج له خولې وایي، چې علي راته وویل: چې یو داسې کار ته دې گومارم، چې زه ورته پېغمبر وهڅولم، یو تصویر هم بې ورانولو پرې نه ږدي او نه کوم قبر داسې پرېږدې، چې له (خاورو) سره یې برابر نه کړې.

## د دې حدیث په باب زموږ نظر

که پر یوه حدیث د الهي احکامو په رڼا کې استدلال کول غواړو؛ نو په کار ده، چې حدیث دوه شرطه ولري.

۱ _ سند یې صحیح وي؛ یعنې د حدیث راویان دې له هغې ډلې وگړیو څنې وي، چې پر وینا یې باور کېدای شي.

۲ _ پر مقصود او مطلوب د حدیث دلالت روښانه وي؛ یعنې د حدیث الفاظ او جملې زموږ پر مقصود ښه دلالت وکړي.

داسې چې که حدیث د هغې له ژبې او ځانگړتیاوو سره بلد سړی ته ورکړو؛ نو هماغه څه ترې وپوهېږي؛ لکه موږ، چې ترې پوهېږو. متاسفانه دا حدیث له دواړو خواوو جنجالي دی، په تېره بیا د دلالت له پلوه؛ خو زموږ له مقصود سره هېڅ اړخ نه لگوي.

د سند له پلوه د دغو کسانو وثوق او رښتینوالی، چې حدیث یې روایت کړی، د حدیث پوهانو د باور وړ نه دی؛ ځکه په سند کې یې د

۱ – وکیع ۲ _ سفیان الثوري ۳ _ حبیب بن ابي ثابت ٤ _ الوائل الاسدي نومونه تر سترگو کېږي، حال داچې د حافظ بن حجر عسقلاني په څېر حدیثپوه په خپل کتاب؛ تهذیب التهذیب کې پر دغسې کسانو داسې نیوکې کړې دي، چې سړی د دغی

حدیث او د دوی ډلې د نورو احادیثو په صحت په شک او تردیدوي؛ لکه د وکیع په باب له امام احمد بن حنبل نه نقلوي چې:
انه اخطافي خمسمائه حدیث.
(تهذیب التهذیب ۱۲۵/۱۱)
دی په پنځه سوو حدیثو کې تېروتی دی.
اود محمد بن نصر مروزي له خولې وایي چې: کان یحدث بالمعنی و لم یکن من اهل اللسان.
(پورتنۍ سرچینه ۱۳ مخ.)
حدیث سفیان بحدیث فجئة و هو یدلسه فما رآنې استحبي.
(وګوري: پورتنۍ سرچینه ۱۱۵/٤)
یعنې سفیان حدیث وایه، زه پرې ناڅاپه راغلم، چې کاته مې تېر ایستنه یې کوله، زه یې، چې ولیدم؛ خولې پرې راماتې شوې.
تدلیس او تېر ایستنه، چې هر راز تفسر شي؛ خو راښیي، چې په دغه سړي کې د عدالت، رښتینولۍ او واقعیت لیدنې جوهر نه شته، چې غیر واقعیت ته یې د واقعیت بڼه ورکوله.
د یحیی القطان په ترجمه کې له هغه نقلوي، چې سفیان هڅه کوله، چې یو بې باوره وښیي؛ خو و یې نه کړای شول (پورتنۍ سرچینه ۱۱/ ۲۱۸)
د حبیب بن ابي ثابت په باب له ابي حبان رانقلوي چې: کان مدلسا
په حدیث کې یې تېر ایستنه او غولول کول.
او د عطا له خولې لیکي: د هغه روایت کړی حدیث د منلو نه دی، د هغه احادیث پاخه نه دي.
(پورتنۍ سرچینه ۱٦۹/۳)
د وائل په باب وایي: هغه د امیرالمؤمنین (حضرت علي کرم الله وجهه)له سرغړوونکیو ځنې و (شرح حدیدي ۱۲/ ۲۲۳) که د حدیث سند له دومره کړکېچ سره مخ وي، چې یو فقیه هم په هغه حدیث سره فتوی ورنه کړای شي، د حدیث دلالت له سند نه کم

(ارزښت) نه لري؛ ځکه په حديث کې دا لاندې جمله د استشهاد او شهادت غوښتنې لپاره ده.
و لا قبرا مشرفا الاسویته
اوس باید د دغو دوو ټکیو معنی ته ځیر شو.
الف: مشرفا
ب: سویته
الف: مشرف کلمه په لغت کې د لوړ او ستر په معنی راغلې ده، وايي:
د المشرف من الا ما کن العالی والمطل علی غیره.(المنجد، د شرف ماده.)
یعنې: مشرف لوړې او پر نورو برې ودانۍ ته وايي، د قاموس خاوند، چې د کلمو د معنی په تنظیمولو کې ډېر د ډاډ وړ دی وايي:
الشف محرکة : العلوو من البعیر سنامه.
شرف (د ری په زور) لوړ او د اوښ گوپان ته وايي.
نو مشرف کلمه مطلق لوړ والي په تېره هغه لوړوالي ته وايي، چې د اوښ د گوپان غوندې وي.د قراینو له مخې باید ولیدل شي، چې له څه ډول لوړوالي مراد دی.؟
سویته کلمه په لغت کې برابرول، مساوي کول او کار سمول دي.
سوی الشيئ، سم یې کړ، عرب وايي: کور مې سماوه؛ خو سم نه شو او بې عیبه صنعت ته هم وايي:
او په قرآن کې فرمايي: [الذی خلق فسوی؛ یعنې هغه خدای شته کړ او بشپړ یې کړ](اعلی ۲ آیت)
نو د معناوو په مفرداتو تر پوهېدو وروسته دا لیدل په کار دي، چې له دې حدیث نه مراد څه دی؟
په دغه حدیث کې دوه احتماله دي، د مفرداتو د معنی او نورو قرایینو له مخې یې باید یو غوره کړو.
۱ ـ مراد دادی، چې حضرت علي ابوالهیاج ته امر کړی، چې لوړ قبرونه ړنگ کړئ او له ځمکې سره یې هوار کړئ.

دا احتمال چې د شيخ محمد بن عبدالوهاب پلويان ورپورې نښتي، له څو خواوو د منلو وړ نه دی:
لومړی: د تسوية کلمه د نړولو او ړنګولو په معنی نه ده راغلې او که مطلب دا هم وي؛ نو بايد داسې وواياي: و لا قبرا مشرفا الاسويته بالارض
يعنې داسې قبر پرې نه ږدي، چې له ځمکې سره يې برابر نه کړې، حال داچې په حديث کې داسې کوم ټکی نه شته.
دويم: که مطلب همدا وي، ولې له اسلامي علماوو څنې يوه هم پرې فتوی نه ده ورکړې؟ ځکه نو قبرونه له ځمکې سره برابرول د اسلامي سنتو پر خلاف دي او اسلامي سنت دادی، چې قبر دې لږ لوړ وي او ټولو اسلامي فقهاوو له ځمکې نه يوه لويشت د قبرونو لوړولو پر مستحبوالي فتوی ورکړې ده.
په فقه على المذاهب الاربعه نومې کتاب کې، چې د څلورو سترو امامانو له فتواوو سره سم دی لولو: و يندب ارتفاع التراب فوق القبر بقدر شبر (الفقه على المذاهب الاربعه ١/ ٤٢٠)
لويشتې په هومره له ځمکې نه د قبر د خاورې لوړول مستحب دي.
د دې تکيو په پام کې نيوو له مخې بايد حديث يو بل ډول داسې هم تفسير کړو؛ لکه چې و مو کړ.
٢ _ له قبر برابر کړه نه مراد دادی، چې د قبر سطح سمه او هواره او يو لاس کوه او له هغو قبرونو نه يې، چې د ماهي د ملا او اوښ د ګوپان په شان دی (رابيل کړه)
په دې صورت کې حديث ښيي، چې د قبر مخ سم او يو لاس او هواروي نه د ماهي د ملا يا د اوښ دګوپان غوندې؛ لکه په اهل سنتو هېوادو کې، چې دود دی او د اهل تسنن په څلورو واړو مشهور امامانو کې له شافعي پرته ټولو د قبر د تسنيم پر مستحبوالي فتوی ورکړې ده.
(الفقه على المذاهب الاربعه، ٤٢٠/١)
په دې صورت کې دا حديث د يو شمېر علماوو ددې فتوی ملاتړ کوي، چې قبر دې د ځمکې نه پر لوړوالي سربېره مسطح او هواروي.

په خپله امام مسلم د صحيح مولف دا او يو بل حديث، اوس يې رانقلوو، د باب الامريتسوية القبر تر نامه لاندې او همدا شان امام ترمذي او امام نسايي په خپلو سننو کې دا حديث تر همدې عنوان لاندې راوړی دی او له دې عنوان نه دا مراد دی، چې د قبر سطح دی هواره او يو لاس وي او که مطلب ترې دا وي، چې لوړ قبرونه له ځمکې سره هوار کړي؛ نو په کار ده، چې د باب عنوان يې بدل کړی وای او ويلي يې وای، چې باب الامر بتخريب القبور و هدمها.

په عربي ژبه کې تسويه د (قبر په څېر) له څه شي سره منسوبه شي؛ نو مراد دادی، چې په خپله هوار او برابر دی؛ نه دا چې له بل څه (لکه ځمکې) سره دې برابر شي.

دا دی يو بل حديث را اخلو، چې امام مسلم په خپل صحيح کې راخستی او مضمون يې همداسې دې؛ لکه مونږ چې يې ملاتړ وکړ.

(راوي وايي) : له فضاله پن عبيد سره په روم کې وو، زمونږ يو ملگرې مړ شو، فضاله امر وکړ، چې قبر يې هوار کړئ او و يې ويل : له د جناب رسول الله (ص) نه مې اورېدلي، چې امر يې کاوه : قبرونه مسطح کړئ.

(صحيح مسلم ۳ج، کتاب الجنائز – ٦١ مخ)

اوس دا ليدل په کار دي، چې په دې وينا کې د قبر له تسويي نه څه مراد دی، ايا دادی، چې پر قبر ولاړه ودانۍ ونړوئ؟ فرضوو، چې د ښخولو په وخت کې پر قبر ودانۍ نه وي يا دا چې مراد دادی، چې قبر له ځمکې سره هوار کړای شي، داخو له هغو څرگندو سنتو سره مخالفت دی، چې وايي : قبر دې له ځمکې نه يوه لوېشت لوړ وي.

له دې پرته بله لار نه لرو، چې ووايو، مراد دادی، چې قبرونه مسطح او نا هواري کړئ او د ماهي د ملا او د اوښ له گوپان نه يې رابېل کړئ.

اوس گورو، چې د صحيح مسلم مشهور شارح امام نووی، حديث څنگه تفسيروي.

"سنت دادی، چې قبر له ځمکې ډېر لوړ او گوپان ډوله نه وي؛ بلکې يو لويشت لوړ او مسطح وي"

(ارشاد الساري ۲/ ٤٦٨)

دا جمله یې راښیي، چې د صحیح مسلم شارح له سویته نه هماغه معنی را اخستې؛ لکه چې پورته ځرګنده شوه، یعنې حضرت علي توصیه او سپارښت وکړ، چې قبرونه د ماهي پشت کولو په ځای هوار او صاف کړئ؛ نه داچې له ځمکې سره یې هوار کړي.
ابن حجر عسقلاني هم په ارشاد الساري فی شرح صحیح البخاري کې دا حدیث هم داسې تفسر کړی دی او وایي: په قبر جوړولو کې سنت دادی، چې مسطح کړای شي؛ نو مونږ باید سنت له دې امله ترک نه کړو، چې تسطیح هوارول د روافضو شعار دی، داچې وایو، د قبر هوارول سنت دی، د ابن الهیاج له حدیث سره منافات نه لري، ولی؟
"لا نه لم یرد تسویته بالارض و انما اراد تسطیحه جمعا بین الاخبار"
ځکه مراد له ځمکې سره برابرول نه دي؛ بلکې مطلب دادی، چې له ځمکې نه هماغه ټاکلی لوړوالی (ارتفاع) دې هوار او صاف کړای شي.
(شرح صحیح مسلم د "نووي" لیکنه)
پردې سربېره که د توصیې غرض دا وای، چې د قبر ولاړې ګومبزې او ودانۍ ړنګې کړئ؛ نو بیا حضرت علي ولې د خپل خلافت په وخت کې د پېغمبرانو پر قبرونو ولاړې ګومبزې ړنګې نه کړې؟ سره له دې، چې د اسلامي خاورې یو بشپړواکی واکمن و او په فلسطین، سوریه، مصر، عراق، ایران او یمن کې پر قبرونو ولاړې ګومبزې او ودانې یې د سترګو پر وړاندې وې.
مونږ له دې ټولو خبرو تېرېږو او ګڼو چې حضرت علي، ابی الهیاج ته امر کړی دی، چې ټول لوړ قبرونه له ځمکې سره هوار کړئ؛ خو حدیث هېڅکله پر قبرونو د ولاړو ودانیو نړولو پر لزوم دلالت نه کوي؛ ځکه پېغمبر فرمایلي دي: ((و لا قبرا الاسویته.))
یعنې (قبرونه بې له هوارولو مه پرېږدئ) دا یې نه دي ویلي، چې "ولابناء ولاقبة الاسویته" حال داچې زمونږ خبره په قبر پورې نه؛ بلکې پر قبرونو جوړو شوو ودانیو په باب ده او خلک یې سیورې ته په تلاوت، دعا اولمانځه مشغول دي، د دې خبرې کوم ځای راښیي، چې د قبرونو ولاړې هغه ودانۍ ړنګې کړي، چې زیارت کوونکي ته د عبادت او د قرآن د تلاوت فرصت ورپه لاس کوي او خلک له تودو سړو ژغوري.

په پاې کې د دې ټکي له يادونې ناچار يو، چې دا او دې ته ورته احاديث د ځينو نورو ټېرو ولسونو د قبرونو په باب وي، چې د صالحانو او اولياوو قبرونه يې قبله کړې وي او د دې پر ځاى، چې اصلي قبلې ته لمونځ وکړي، قبر او قبر ته ايښو تصوريونو ته لمونځ کوي او هغې رښتينې قبلې ته، چې خداى تعالى غوره کړې ده، له لمانځه نه ډډه کوي، په دې صورت کې حديث په هغو قبرونو پورې هېڅ اړه نه لري، چې مسلمانانو ورته هېڅ وخت سجده او لمونځ نه دى کړى؛ بلکې د هغې تر څنګ الهي قبلې (کعبه) ته لمونځ او د قرآن تلاوت کوي.

که څوک د نېکانو د زيارت پر لور ورمات وي او د سپېڅليو جسدونو او د سپېڅليو قبرونو ترڅنګ د خداى عبادت کوي، دا د هغې درناوي له مخه دى، چې دغو سپېڅليو ځايونو، د دغو جسدونو د ښخېدو په برکت پيدا کړي دي.

قرآن کريم فرمايي:[وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْناً وَاتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ؛ او(درياد کړئ) چې کله موږ د کعبې خونه خلکو ته د راغونډېدو مرکز او د امن وامان ځاى وګرځاوه او (د خاطرو د رايادولو لپاره مو وويل :) د ابراهيم له مقامه لمانځه ځى جوړ کړئ او موږ ابراهيم او اسماعيل ته امر وکړ : ((زما کور طواف کوونکيو او څېله کېدونکيو او رکوع او سجده کوونکيو ته پاك او سوتره کړئ.))] (بقره/۱۲۵)

که د "ابراهيم مقام" د ابراهيم عليه السلام له برکته د درناوي ښتن شوى او له همدې امله هم شوى و، چې هلته لمونځ وکړو؛ نو په دې کې بيا څه خبره ده، چې د ابراهيم عليه السلام په څېر د حق د لارې د نورو اولياوو او سرښندويو، چې خپل هر څه يې د خداى د دين د ټينګښت لپاره له لاسه ورکړي دي، قبرونه دې، يې د درناوي وړ شي، چې په پوره حفاظت او شرايطو دې هلته لمونځ او عبادت زيات ثواب ولري؟؛ لکه چې اسلامي روايات هم همداسې دي.

دلته د قبرونو د ودانيو په باب د څلور ګونو مذهبونو د علماوو فتواګانې را اخلو: "يکره ان يبنى على القبر بيت او قبه او مدرسه او مسجد"

" پر قبر باندې کور (کوټه)، ګومبزه، مدرسه او جومات جوړول مکروه دي"

(الفقه علی المذاهب الاربعه ۴۲۱/۱)
پر مکروهوالي باندې د څلور واړو امامانو له اتفاق سره سره د نجد قاضي بیا ځنگه پر قبرونو د ولاړو ودانیو پر حراموالي ټینگار کوي

# د واقعیت پر ځای دلیل جوړونه

د شیخ محمد بن عبدالوهاب پلویان په بقیع کې د ښخو امامانو اواصحاب کرامو د قبرونو د گومبزو د نړولو لپاره دلایل جوړ کړي او په اصطلاح یوه بله پلمه یې ترلاسه کړې چې د بقیع ځمکه وقفي ده او له دې نه باید تر وسې وسې د همدغه راز (وقفې) مقاصدو لپاره کار واخستل شي او په استفاده کې یې هر راز خنډونه له منځه وړل په کار دي، چې د نبوي کورنۍ او اصحابو کرامو پر قبرونو جوړې ودانۍ د بقیع د ځمکې له یوې برخې نه د استفادې مخنیوی کوي؛ نو که فرض کړو، چې په غولي او حرم کې ښخېده ممکن وي؛ خو د دېوالونو ترڅنگ او شاوخواته نه شي کېدای؛ نو په کار ده، چې داسې ودانۍ (چې د دفن ځای تنگوي ژباړن) ونړول شي، چې د بقیع له ټولې ځمکې نه وقفي مقاصد تر لاسه شي.

ځواب: په دې کې شک نه شته، چې دغه شان استدلال له مخکې قضاوته پرته نور څه نه دي، د شیخ محمد بن عبدالوهاب پلوي قاضي غواړي هر څنگه، چې کېږي، د نبوي کورنۍ او اصحاب کرامو نښې نښانې له منځه یوسي او که دلیل ورسره پیدا نه شو؛ نو د مټ په زور دغه ودانۍ ړنگې کړي او د دغسې یوې زړې ارادې لپاره یې په دلالیل جوړولو لاس پورې کړي او د بقیع د ځمکې د وقفوالي ربړه یې رامنځته کړې ده.

حال داچې د بقعې د وقف هسې تشه اندېښنه ده؛ ځکه:

لومړی: د تاریخ یا حدیثو په هېڅ یوه کتاب کې هم د بقیع وقف نه دی راغلی، چې تکیه پرې وکړو؛ بلکې کېدای شي، چې بقیع له پیله شاړه او بې خاونده ځمکه وه، چې خلکو په کې خپل مړي ښخول، چې دغه شان ځمکه به (لومړنی مباحات) وه، چې د چا په کې د تصرف حق نه وي.

په پخوا زمانو کې، چې خلکو د شړو ځمکو د خپلولو شوق ډېر نه کاوه او چا د ځمکو د ابادولو وسه نه درلوده، ښارونو ته د کلیوالو بهیر ورمات شوی نه و او د ځمکې په نامه کومه مساله یا د حاصل خورو په نامه وگړي نه وو رامنځته شوي، ډېرو ځمکو خاوند نه لره او لکه چې وې، هماغسې وړیا او مباحې پرتې وې او د چا خبره په بې

خاونده ځمکې کې شمېرېدلې، هغه وخت د ښار او کلي خلکو د ځمکې یوه ټوټه د هدیرې لپاره بیلوله، یا که به چا د خپل مړي په ښخولو کې تر نورو مخکې ځمکه بېله کړه؛ نو نور به یې هم پر پله تلل او هغه ځمکه به هدیره شوه، بې له دې، چې کوم کس یې خپله کړي.

د بقیع ځمکه هم په همدې لړ کې راتله، په حجاز او مدینه کې ځمکو څه ارزښت نه لره د مدینې په شاوخوا کې د شاړو ځمکو په شتوالي او موجودیت کې څوک لېوني وو، چې سمسوره ځمکه هدیرې ته وقف کاندي.

چېرته، چې شاړې ځمکې ډېرې او سمسورې کمې وي؛ هلته خلک ضرور (د هدیرې لپاره) له شړو ځمکو نه کار اخلي.

همدا خبره سمهودي په وفاء الوفاء فی اخبار دار المصطفی کې هم منلې ده، لیکي:

لومړنی سړی، چې په بقیع کې ښخ شو، د جناب رسول الله (ص) صحابي عثمان بن مظعون و، ابراهیم(د جناب رسول الله (ص) زوی) چې وفات شو، د هغه صلی الله علیه و اله وسلم په امر او سپارښت د عثمان بن مظعون رضی الله عنه ترڅنګ ښخ شو. له هماغې راهیسې خلکو ته به بقیع کې د خپلو مړیو د ښخولو شوق پیدا شو او د ونو په پرېکولو د هرې قبیلې برخه هدیره بېله شوه.

بیا لیکي: په بقیع کې عرقد نومې ونه ولاړه وه؛ خو چې عثمان بن مظعون ښخېده؛ نو هغه ونه یې ووهله.

(وفاء الوفاء ۸٤/۲)

عرقد هماغه ونه ده، چې د مدینې په ډاګونو کې تر سترګو کېږي او له دې عبارته پوهېدای شو، چې بقیع یوه مړه او شاړه ځمکه وه، چې د یوه صحابي د ښخولو په وخت کې هر چا د خپلې خپلې قبیلې لپاره بېله کړه؛ خو تاریخ د وقف کېدو نوم نه اخلي؛ بلکې تاریخ خو راښیي، چې په کوم ځای کې چې د بقیع امامان ښخ دي، هلته د عقیل بن ابي طالب رضی الله عنه کور و او د دغو څلورو امامانو جسدونه همدغلته، چې د بني هاشم کور ګڼل کېږي، ښخ دی.

سمهودي لیکي: عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه د فاطمې بنت اسد تر څنګ د بني هاشم په هدیره کې، چې د عقیق کور و، ښخ دی.
(وفاء الوفاء ۹٦/۲)

او بیا له سعید بن جبیر رضی الله عنه نه رانقلوي، چې هغه د جناب رسول الله (ص) د زوی ابراهیم قبر په هغ کور کې لیدلی دی، چې د محمد بن زید بن علي رضی الله و بیا را اخلي، چې جناب رسول الله (ص) د سعد بن معاذ رضی الله عنه جسد د ابن افلح په کور کې د بقیع تر څنګ و او ګومبزه یې لرله، خاورو ته وسپاره.
دا جملې ټولې راښیي، چې د بقیع ځمکه وقفي نه وه.
په دې صورت کې ایا دا مناسبه ده، چې له وقف سره د مقاومت او مقابلې په نامه د نبوې کورنۍ او اصحابو کرامو اثار له خاورو سره خاورې شي؟
فرض کړئ، چې د بقیع ځمکه هم وقفي وه، د هغې د وقفېدو څه نښه او سند په لاس کې شته؟ ښایي وقفوونکی د سترو شخصیتونو لپاره پر خپلو قبرونو د ودانۍ د جوړولو اجازه کړې وي؛ نو چې پوه پرې نه یو؛ باید د مؤمن کار ته ښه ووایو او تورن یې نه کړو.
په دې صورت کې به د دغو ګومبزو او کورونو نړول څرګند (بین) حرام او د ځلانده شرعي پر خلاف وي.
قاضي د "یلهد" زوی او د هغه همفکري ښه پوهېدل، چې د وقفولو فکریو ډول دلیل سازي او استدلال دی؛ که داسې دلیل یې نه هم درلودای او بیا یې هم نبوي اثار ړنګول؛ ځکه دا لومړی ځل نه دی، چې دې ډلې نبوي اثار ړنګ کړي؛ بلکې په ۱۲۲۱ه کې لومړی وار پر مدینې واکمن شول، نبوي اثار یې وران او ړنګ کړل، چې له حجاز نه یې تر شړلو وروسته د عثماني خلافت قواوو ټول له سره بیا ودان کړل.

# د کتاب او سنتو په رڼا کې، د قبرونو زیارت

د قبرونو زیارت اخلاقي، تربیتي او سملاسي اثرات لري، چې دلته ورته ځیښنلې اشاره کېږي، د دغې ارامې بیدیا، چې د ټولو شتمنو، نشتمنو او زوررورو د ژوندانه ډېوه په کې تتیدونکې ده او ټول وګړي په کې په دوو ځادرګیو کې تر خاورو لاندې پراته دي، کتنه یې زړه او روح لړزوي او د انسان تمه او حرص سخت کموي او که انسان عبرتورې سترګې ولري، له دې کوڅې نه د عبرت درس اخلي، او له ځان سره سوچ کوي او وایي: شپېته اویا کاله موقت ژوند، چې اخر یې تر خرورونو خاورو لاندې وروستوالی او له منځه تلل دي، په دې نه ارزي، چې انسان یې د مال او مقام په تر لاسه کولو پسې دومره هلې ځلې وکړي او پر خپل او پردي زیاتی او تېری وکړي.
د غلیو او خاموشو دغه بیدیا، چې د تیرې په ځېر زړونه نرموي او کانه غوړونه بیداروي او په سترګو پټو ته هم رڼا ورکوي، د دې سبب کېږي، چې انسان د خپل ژوندانه پر پلان بیا کتنه وکړي او د خدای، خلکو، فردي او اجتماعي وظایفو پر وړاندې پر خپلو درندو مسوولیتونو غور وکړي او له خپلسرئ نه لاس واخلي.
د جناب رسول الله (ص) په یوه حدیث کې دې ټکی ته داسې اشاره کوي:
د قبرونو زیارت وکړئ، د هغوی زیارت اخرت دریادوي.
(صحیح ابن ماجه ۱ ج، باب ماجاء فی زیارة القبور ۱۱۳ مخ)
له هغو احادیثو نه، چې د صحاح او سننو لیکونکیو را اخستي دي، څرګندیږي، چې د جناب رسول الله (ص) د څه وخت لپاره د قبرونو زیارت منع کړی و؛ خو بیا یې اجازه وکړه، چې خلک دې زیارتونو ته لاړ شي.
ښایي د منع کولو وجه وه، چې د هغوی پخواني مړه زیاتره مشرک او بت پرستان وو او اسلام له مشرکې نړئ سره د هغوی اړیکی او پیوستون پرېکړی او دا هم کېدای شي، چې څه بله وجه وه او هغه داچې نویو مسلمانانو د خپلو مړیو پر خاورو باطلې ویرنې کولې او له اسلامي ادابو نه وتلې خبرې یې له خولې ایستې؛ خو د اسلام تر پراختیا او د خلکو په زړونو کې د ایمان نیالګي تر کرلو روسته دغه منع لرې کړای شوه او د جناب رسول الله (ص) د هغو تربیتي ګټو لپاره، چې د قبرونو په زیارت کې ده، اجازه وکړه،

چې خلک دې د قبرونو زیارت وکړي. هغه ځای ته، چې د سننو لیکونکی یې داسې را اخلي:
"ما تاسې د قبرونو له زیارت نه منع کړي وئ، تردې وروسته زیارت وکړئ؛ ځکه د قبرونو زیارت تاسې له دنیا نه بې پروا کوي او اخرت دریادوي"
(سنن ابن ماجه باب ماجاء فی زیارة القبور ۱۱٤/۱. صحیح ترمذي، ابواب الجنائز ۲۷٤/۳ د ابن العربي المالکي له شرحې سره. ترمذي له بریده نه تر را اخستي حدیث وروسته وایي: د بریده حدیث صحیح دی او اهل علم پرې عمل کوي او د قبرونو د زیارت لپاره مانع نه وي.
دا د ابن المبارک شافعي، احمد، اسحق (رحمة الله علیهم) په څېر دلې نظریه ده.
پر پورتنیو مدارکو سربېره دې لاندې مراجع هم وکتل شي:
صحیح مسلم۲ج، باب استئنذ ان النبی و به عزوجل فی زیارة قبر امه، ٦۵مخ.
صحیح ابوداود ۲ج، کتاب الجنائز، باب زیارة القبور ۹۵مخ.
له همدې امله ده، چې د جناب رسول الله (ص) د خپلې مور زیارت کاوه او خلکو ته یې هم ویل، چې قبرونه ته لاړ شئ؛ ځکه زیارتونه د اخرت د یاد سبب دي.
د نبوي حدیث ژباړه: "جناب رسول الله (ص) د خپلې مور د قبر زیارت وکړ او د قبر څنګ ته یې وژړل او ورنه راتاو خلک یې هم وژړول او و یې ویل: له خدای نه مې اجازه اخستې ده، چې د مور د قبر زیارت وکړم، تاسې هم د قبرونو زیارت وکړئ؛ ځکه د هغو زیارت د خدای د یادولو سبب دی". (صحیح ابن ماجه ۱۱٤/۱)
حضرت عایشې بي بي به ویل، چې د جناب رسول الله (ص) د قبرونو زیارت په ډاګه اعلان کړی دی.
د جناب رسول الله (ص) د قبرونو د زیارت اجازه ورکړه.
(صحیح ابن ماجه، ۱۱٤مخ.)
"پروردګار مې دا حکم وکړ، چې بقیع ته لاړ شم او هغوی ته بخښنه وغواړم، عایشه بي بي وایي: ما ویل، زه څه ووایم؟ و یې ویل: د دې سیمې پر مؤمنانو، مسلمانانو، زمونږ

تېرو او راتلونکيو سلام ووايه. خدای دې پرې ورحمېږي، مونږ ډېر ژر له تاسې سره يوځای کېږو."
(سنن نسائي، ۷٦/۳. صحيح مسلم۳ ج، باب ما يقال عند دخول القبور ٦٤مخ.)
په نورو راغليو احاديثو کې دي، چې پيغمبراکرم په کومو جملو د قبرونو زيارت کاوه، هغه کليمې، چې حضرت پيغمبر پرې د قبرونو زيارت کاوه.
"السلام عليکم دارقوم مؤمنين و انا و باکم متواعدون غدا و مواکلون و انا ان شاء الله بکم لا حقون، اللهم اغفرلا هل بقيع الغرقد.
(سنن نسايي ٤/ ٧٦- ٧٧)
په يوه بل حديث کې د زيارت متن بل شان را اخستل شوی دی:
السلام عليکم اهل الديار من المؤمنين والمسلمين و انا ان شاء الله بک لا حقون انتم انا فرط و نحن لکم تبع اسال الله الغافيه لنا و لکم.
(سنن نسايي ٤/٧٦-٧٧)
په درېيم حديث کې بل ډول را اخستل شوی دی:
السلام عليکم دار قوم مؤمنين و انا ان شاء الله بکم لا حقون.
(سنن ابوداود ۱۹٦/۳)
د عايشې بي بي له حديث نه راولاړېږي، چې شپه به، چې پخېده، جناب رسول الله (ص) به بقيع ته تله او ويل به يې : السلام عليکم دارقوم مؤمنين واتاکم ما توعدون غدا موحلون و انا ان شاء الله بکم لا حقوق اللهم اغفر لا هل بقيع الغرقد (صحيح مسلم ٦۳/۳ باب ما يقال عند دخول القبور)
له يوه بل حديثه ښکاري، چې د جناب رسول الله (ص) به له ډلې سره د قبرونو زيارت ته تله او هغوی ته به يې ښودنه کوله، چې د قبرونو زيارت څنگه وکړي.
کان رسول الله يعلمهم اذا خرجوا الى المقابر فکان قائلهم يقولون: السلام على اهل الديارانا، السلام عليکم اهل الديار من المؤمنين والمسلمين و انا ان شاء اللله بکم لا حقوق اسال الله لنا و لکم العافيه.
(پورتنې سرچينه)

# ښځې او د قبرونو زيارت

د ښځو د زيارت مساله په ځينو رواياتو کې راغلې ده، چې د جناب رسول الله (ص) هغوی له زيارت نه منع کړي دي.
جناب رسول الله (ص) قبرونو ته پر زياتو تلونکيو ښځو لعنت ويلی دی.
(صحيح ابن ماجه کتاب الجنائز باب، ماجاء فی النهی عن زيارة النساء القبور ۴۷۸/۱)
خو بايد وکتل شي، چې د دغو احاديثو په استدلال سره له ځينو وجهو نه پر ښځو د زيارت بنديز سم نه دی.
ځکه لومړی خو زياتره علماء دا نهې کراهتي نهې بولي، او د کراهت وجه يې هم هغه خاص شرايط وو، چې پرهغه عصر حاکم وو، چې د حديثو يوه شارح ورته اشاره کړې ده، چې مفتاح الحاجة مولف پر صحيح ابن ماجه په خپلې شرحې کې وايي: علما ء د جناب رسول الله (ص) د نهې په باب دوه ډلې دي، چې ايا نهې تحريمي ده، که کراهتي؟ خو زياتره علماء پردې معتقد دي، چې که ښځه له فتنې نه مطمئنه وي، زيارت ته تلای شي.
(حواشي ابن ماجه ۱۱۴/۱)
دويم داچې په تېرو احاديثو کې مو ولوستل، چې عايشې بي بي له د جناب رسول الله (ص) نه نقل کړی و، چې جناب رسول الله (ص) د قبرونو زيارت په ډاګه علان کړ؛ نو که ښځې له دې حکمه جلا وای، په کار ده، چې وويل شي، چې دا حکم يواځې د نارينه وو لپاره دی، په تېره چې ويونکې هم ښځه ده او طبعا به ورسره په ناستو کې ښځه وه او هر مخاطب پوهېږي، چې حکم او مکلفيت هماغې ته متوجه دی.
دويم داچې په ځينو احاديثو کې راغلي دي، چې جناب رسول الله (ص) عايشی بي بي ته د زيارت دود وروښود او په خپله حضرت عايشه د د جناب رسول الله (ص) وروسته زيارت ته تله.
څلورم داچې ترمذي نقل کوي، چې د حضرت عايشې ورور عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه، چې په حبشې، کې مړ شو، جنازه يې مکې ته يوړه او هلته يې ښخ کړ؛ خور يې چې له مدينې نه مکې ته راغله؛ نو د ورور زيارت ته لاړه او پر قبر يې د وير

دوه شعرونه وويل او يوه وينا يې وکړه. (صحيح ترمذي ٢٧٥/٤ کتاب الجنائز باب ماجاء فی زيارة القبور)

د صحيح ترمذي شارح امام حافظ ابن العربي "٤٣٥-٥٤٣" پر صحيح باندې په خپلو تقليقاتو کې ليکي: صحي دا دی، چې جناب رسول الله (ص) ښځو او نرو دواړو ته زيارت ته د تګ اجازه ورکړې ده، که ځينې خلک يې زيارت ته تګ مکروه ګڼي، هغه پر قبر باندې د تلوسې، بې صبرۍ او ياد پوره ستر د نه شتوالي له امله دی.

پنځم: امام بخاري د حضرت انس رضي الله عنه له خولې راخلي چې: جناب رسول الله (ص) يوه ښځه وليده، چې پر خپل خاوند ژاړي، و يې فرمايل: تقوی له لاسه مه ورکوه او صبر وکړه، ښځې جناب رسول الله (ص) ونه پېژانده و يې ويل: ما پرېږده، زه چې په کوم غم اخته يم، ته پرې اخته شوی نه يې، چا ورته وويل: چې دا حضرت پېغمبر دی، د خپل خواخوږي قبر يې پرېښود او د پېغمبر کور ته ورغله بخښنه يې وغوښته، چې مانه يې پېژندلی، حضرت پېغمبر ورته وويل : صبر په لومړني مصيبت کې په کار دی.

(صحيح بخاري، کتاب الجنائز، باب زيارة القبور ١٠٠مخ. صحيح ابوداود ١١٧٠/٢)

که د ښځو لپاره زيارت حرام وای، جناب رسول الله (ص) به هغه ښځه له دې کاره منع کړې وای. د دې پر ځای يې ورته د صبر سپارښت وکړ او د خبرو موضوع يې کور ته د ښځې تر ورتګ وروسته په مصيبتونو کې صبر او استقامت و، نه د قبرونو د زيارت مساله.

شپږم: پردې سربېره د جناب رسول الله (ص) لور فاطمه بي بي به هره جمعه د حمزه رضی الله عنه زيارت ته تله او له قبر سره يې لمونځ کاوه او ژړل يې.

(مستدرک حاکم ٣٧٧/١، وفاء الوفا ١١٢ مخ)

اووم: قرطبي وايي: جناب رسول الله (ص) پر هرې زيارت کوونکې ښځې لعنت نه دی ويلي؛ بلکې هغه ښځه يې ياده کړې ده چې زياته زيارت ته ځي، داسې چې زوارات القبور او د زوار د مبالغې صيغه ده.

(ابوداوود په خپلو سننو ١٩٦/٢ زائرات نقل کړی دی)

او ښايي د دې لعنت ويلو علت دا وي، چې بيا بيا زيارت د مړي د حق د له منځه وړو، د خلکو لپاره د ډول سينګار او په کوکو کوکو د ژړا سبب شي؛ خو که زيارت ته د ښځې په تګ کې دا شان انديښنې نه وي؛ نو څه پروا نه کوي؛ ځکه د مرګ يادېدل داسې څه دي، چې ښځې او نر داوړه ورته يو شان اړ دي.

اتم: که د قبرونو زيارت له دنيا نه د زائرو د ګوښه کېدو، د حرص او اسرې د کمېدو او د اخرت د ور يادېدو سبب کېږي، هغه مړي ته چې تر خوررونو خاورو لاندې پروت وي او لاس يې له هر څه نه لنډ وي، يوه بله ګټه دا لري، چې اسلامي زيارتونو کې همېشه فاتحې لوستل کېږي او ثواب اهداء کېږي او همدا په خاورو کې د يوه پروت خپل خواخوږي لپاره د ژوندي له خوا ډېره غوره اهداء ده.

ابن ماجه په خپله صحيح کې نقلوي، چې جناب رسول الله (ص) فرمايلي: پر خپلو مړو سورت يس ولولئ.

(صحيح ابن ماجه١٤٤٨حديث، سنن ابي داود ٤٨٩/٣، باب القرائة عند الميت)

په دې صورت کې د ښځې او نر توپير څه دی، چې يو دې منع وي او بل نه ؟ خو ښځې دې هغه خاص شرايط ولري، چې دمخه ورته اشاره وشوه.

## د مذهبي شخصیتونو د قبرونو د زیارت رغنده نښې

هغه قبرونه، چې د نړۍ د خدای نمانځونکیو، په تېره د مسلمانانو د پام وړ دي، زیاتره د هغو کسانو قبرونه دي، چې په ټولنه کې یې یو رسالت او ژمنه درلوده او خپل رسالت یې په ښه توګه تر سره کړی دی، دغه ډله دا کسان دي:

۱ ـ پیغمبران او مذهبي مخکښان، چې الهي رسالت یې پر اوږو اینښی او د ځان او مال په ښندنه او د کړاوونو په زغم سره یې د خلکو سمون ته ملا تړلې وه.

۲ ـ علماء او ستر پوهان، چې د شمعې په څېر سوځي څو خپله شاوخوا رڼا کړي او ارام یې پر ځان حرام کړی وي، د مدرسو او علمي او تحقیقاتي مرکزونو په ګوټ کې ناست او د قوت لا یموت په کتلو سره یې د علم او پوهنې په نامه بشر ته سترې زېرمې ور په لاس کړی دي او بشر یې له الهي کتاب، د طبیعت له کتاب او د خلقت له ژبې سره بلد کړی دی او دیني، انساني او طبیعي علوم یې رامنځته کړي دي.

۳ ـ هغه ډله، چې د اجتماعي مظالمو، هر ورځ د زیاتېدونکیو حق پایمالېدنو او ناروا تبعیضونو له لاسه یې د صبر جام پر مورګو اوښتي وي او د بشري حقوقو او اجتماعي عدالت را ژوندي کولو لپاره د سر په بیه له ستمګرو واکمنو سره په جګړه وو او په پخپلو وینو یې د ظالم واکمن مظالم له ټولنې نه وینځلي وو، دا د اسلام د لارې شهیدان دي.

په ټولنه کې به هېڅ انقلاب او سمون بې بدله او بې بیه پاتې نه شي او هغه مقدس انقلاب، چې غواړي د ستمګرو ماڼۍ نسکورې کړي او پرسېدلې مرۍ یې وځېښې، بیه او بدله د جنګیالیو د هغې ډلې مقدسه وینه ده، چې هېواد ته خپلواکي او ازادي راستنول غواړي. همدغه ډلې دي، چې خلک یې زیارت ته ورځي او پر قبرونو یې د مینې اوښکې تویوي او ارزښتناک خدمتونه او سپېڅلې سرښندنې یې یادوي او د قرآن د یوه سورت په لوستو د هغو ښاغلیو روح نمانځي او د سرښندنو، انساني فضایلو، اخلاقي ملکاتو په باب یې د شعرونو په ویلو سره یاد او فکر راژوند کوي او پر ګنی یې د لارې ملګرتیا ته بولي.

د شخصیتونو د دې ډلې د قبرونو زیارت د هغوی د سرښندنواو ځان تېریدنو یو ډول درناوی، مننه او معاصر نسل ته اخطار او گواښ دی، چې د هغه چا چې د حق او فضیلت لار غوره کړې او د عقیدې د دفاع او د خپلواکۍ د پراختیا لپاره سر ځاری کړي، بدله او اجر دا دی، چې هېڅکله له زړونو نه وځي، د زماني تېرېدنه، چې هر څه زړوي او هېروي، د هغوی یادونه یواځې له منځه نه وړي؛ بلکې په سپېڅلیو زړونو کې د مینې خوږلن په سکروټو او لمبو بدلوي؛ نو څومره به ښه وي، چې نني او سباني نسلونه هم د هغوی پر لار ولاړ شي؛ ځکه دوی په خپلو سترگو د حق د مېړنیو سرښندنو بدله ولیده.

عبدالله ابن ابی، د نفاق د ډلې مشر مړ شو، خدای پېغمبر ته حکم وکړ، چې د دې ډلې جنازه ونه کړې او قبرونو ته یې د قرآن د لوستو او د بخښنې د غوښتو لپاره، ورنه شي او ویې فرمایل: [وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلاَ تَقُمْ عَلَىَ قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُواْ وَهُمْ فَاسِقُونَ ؛ او بیخي پر یوه مړي یې هم (د جنازې) لمونځ مه کوه او مه یې (د دعا او ښښنې لپاره) پر قبر درېږه؛ ځکه هغوی پر خدای او پېغمبر یې کافران شوي دي او په سرغړاندۍ کې مړه شوي دي.] (توبه ۸٤ آیت)

په دې آیت کې د منافق د شخصیت د نړولو او د دغه گوند د غړیو د غوږ تاوي لپاره پاک خدای پېغمبر ته حکم کوي:

۱ ـ د دوی د یوه جنازې لمونځ هم ونه کړې.

۲ ـ قبرونو ته یې ورنه شي او دا حقیقت یې په "و لا تقم علی قبره" جملې سره ادا کړی دی.

دا چې وایې له منافق سره دا دوه کاره مه کوه، معنا یې داده، چې د غیر منافق په باب دا کار غوره او وړ دی.

د یادونې وړ ټکی دادی، چې وگورو، له "و لا تقم علی قبره" نه غرض څه دی؟ ایا غرض یواځې د ښخېدو پر ځای درېدل دي؟چې د منافق لپاره روانه دی او مؤمن لپاره غوره او وړ دی؟ که نه مراد ترې د ښخېدو یا نور ځایونه دي.

ځينو مفسرينو دا آيت د ښخېدو په ځای پورې ګڼلی؛ خو ځينې نورو؛ لکه بيضاوي ورته په پراخه نظر کتلي او آيت داسې تفسيروي:
تفسير بيضاوي، ۷۷/۳: " ولا تقف على قبره للدفن او لزياره"
د آيت په مفهوم کې دقت راښيي، چې يوه پراخه معنا مراد ده، د ښخېدو په ځای کې درېدل وي او که تر ښخېدو وروسته وي.

## د د جناب رسول الله (ص) د قبر زيارت

پورتنۍ څېړنې موږ د سترو مذهبي شخصيتونو او د حق او حقيقت د لارې د سرښندويو د لمانځنې په ارزښت پوه کړو.
ددې څرګندونې له مخې بايد همېشه د مرګ په خوب د دغو ويدو خلکو په لمانځنه کې د ژوندونې په څېر د دوی په نمانځنې کې هڅه وکړو او نښې او يادونه يې خوندي وساتو، زوکړه يې ونمانځو او د وفات ورځ يې د وير ورځ وګڼو او د سترو غونډو په جوړولو او ګټورو او اغيزمنو ويناوو سره خلک پر دغه ورځ د هغوی د مکتب پېژندنې او په راتلونکې کې خوندي کولو ته راوبولو. قبر او خاوره يې درنه وګڼو او له هر راز سپکاوي او اهانت نه يې ځان وژغورو؛ ځکه د هغوی د خاورې درناوی د هغوی د مکتب او دعوت درناوی دی؛ لکه د قبرونو او يادونو سپکاوی، چې يې د لارې او رسم سپکاوی ګڼل کېږي.
دا وخت که څوک بقيع هديرې ته لاړ شي او د اسلام د مخکښانو او د جناب رسول الله (ص) د هغو اصحابو، چې د اسلام په خپرولو کې سرښندنې او مبارزې کړې دي، قبرونه وګورئ، ټول خوار او بې ارزښته ښکاري، سړی سخت بوږنېږي او د ابن عبدالوهاب د ډلې (چې ځان د اسلام رواجوونکي ګڼي) پر سخت زړي حيران شي؛ ځکه له يو خوا خو پر منبرونو باندې د دين د مخکښانو او صحابه وو نومونه په ډېر درناوي اخلي؛ خو چې قبرونو ته يې ورشي، هېڅ درناوی يې نه کوي ان چې د قبرونو ترڅنګ د ځارويو ناوتلتيا هم بده نه ګڼي او د شرک او مشرک کلمو په ويلو د اولياوو هر راز درناوی او تعظيم د شرک په نامه غندي او انسان د اولياوو په نمانځنه کې دومره محدودوي او فکر، ژبه غوږ او سترګې په زنځيرونو داسې تړي، چې د اولياوو د خدمت په خيال تش حرکت هم شرک او د مشرک عمل ګڼي، لکه د خدای له اولياوو سره، چې يې داسې دښمنې وي، چې د هغوی په درناوي نا ارامه کېږي.
اوس د جناب رسول الله (ص) د قبر د زيارت په باب اسلامي دلايل څېړو.

# قرآني شهادت

قرآن کريم گناهکارانو ته حکم کوي، چې د جناب رسول الله (ص) حضور ته ورشي او ورنه وغواړي، چې د هغوی لپاره له خدايه بخښنه وغواړي؛ ځکه د هغوی په باب د جناب رسول الله (ص) دعا قبليږي؛ لکه چې قرآن فرمايي:[وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ؛موږ هيڅ يو استازی نه دی ليږلی؛ خو د دې لپاره، چې د خدای په اجازه لاروي يې وشي او که دې مخالفينو (داسې کړي وای)، چې تر گناه (او د الهي قوانينو تر پښو لاندې)کولو وروسته درته راغلي وای او له خدای يې بښنه غوښتې وای او پېغمبر هم ورته بښنه غوښتې وای (؛ نو) هرومرو خدای يې توبه قبلوونکی (او) مهربان مونده. ](نساء ٦٤ آيت)

که مونږ ته يواځې همدا يو آيت راغلی وای، ويلای به مو چې دا آيت په هغې ورځې پورې اړه لري، چې جناب رسول الله (ص) د خلکو ترمنځ وي؛ خود ځينو وجوهاتو له مخې له دې آيت نه د يوه داسې کلي حکم په توگه، چې د دنيوي ژوندانه په زمانې پورې اړوند نه وي، استفاده کېدای شي؛ ځکه:

لومړی: د قرآن آيتونه د انبياوو، اولياوو او حتی ټولو ډلو لپاره د يوه برزخ په ژوندانه قايل دی او په هغه دنيا کې يې ليدونکی او اورېدونکی معرفي کوي، چې د آيتونو دا برخه به د مقدسو ارواحو د وسيله کولو په بحث کې راشي.

دويم: اسلامي حديثونه په ډاگه ښيي، چې پرښتې د خلکو پيغامونه ورستني، پېغمبر حضرت محمد (ص) ته رسوي او دا حديثونه په صحاحو کې راغلي دي.

ژباړه: داسې هېڅوک نه شته، چې پر ما سلام "درود" ووايي او خدای يې سلام زما روح ته ونه رسوي او زه يې ځواب ونه وايم."

دا حديث په سنن ابي داود، ١ج، کتاب الحج باب زيارة القبور، ٤٧٠-٤٧١ مخونه کې راغلی دی.

ژباړه: پر ما درود ووايي؛ ځکه ستاسې درود ما ته رارسي.

دا حديث په دې کتاب کې راغلی: التاج الجامع للاصول فی احاديث الرسول صلی الله عليه و اله وسلم د شيخ منصور علي ناصف تاليف ۱۸۹/۲.
درېيم: اسلامي ټولنه له هماغې لومړۍ ورځې له دې آيت نه يوه پراخه او هر اړخيزه معنی (چې د جناب رسول الله (ص) رحلت يې مانع نه دی) اخستې ده او عمل يې پرې کړی دی او د پيغمبر تر رحلت وروسته يوه ډله عرب په سپېڅليو او له کلامي مناقشو نه په پاکو ذهنونو د جناب رسول الله (ص) زيارت ته راتلل او دغه آيت يې لوسته اوله جناب رسول الله (ص) نه يې غوښتل، چې د دوی لپاره د بخښنې غوښتنه وکړي.
تقي الدين سبکي په شفاء السقام او د سمهودي په وفا الوفا کې ځينې بېلگې را اخستي دي، چې دلته يې څه برخه را اخلو:
سفيان بن عتبره چې له شافعي مشايخو څنې دی، د عتبې له خولې وايي، چې د جناب رسول الله (ص) له قبر سره ناست وم، چې يو عرب راغی ويل: السلام عليک يا رسول الله سمعت الله يقول ولو انهم اذ ظلموا انفسهم جاوک فاستغفروا الله و استغفر لهم الرسول لوجدوا الله توابا رحيما و قد جئتک مستغفرا من ذنبي مستشفيعا بل الی ربي.
بيا يې وژړل، يو دوه بيته يې وويل او بخښنه يې وغوښتنه اود جناب رسول الله (ص) له حرمه لاړ، هغه دوه بيه دا وو:
يا خير من دفنت بالقاع اعظمـه
فطابلا من طيبهن القاع والاکم
نفسي الداء بـقرآنـــت ساکنـــــه
فيه العفاف و فيه الجود والکرم
دا بيتونه د وفا الوفا په ٤/ ١٣٦٨ مخ کې راغلی؛ سمهودي په دې باب د حضرت علي کرم الله وجهه له خولې نه ليکي چې ويې فرمايل: د حضرت جناب رسول الله (ص) د رحلت درې ورځې تېرې شوې وې، يو عرب راغی او د پيغمبراکرم پر قبر پرېووت او د قبر خاورې يې پر سر شيندلې او ويل: د خدای رسوله ! تا وويل او مونږ هم واورېدل، څه چې مونږ له تا اخستي، هغه تا له خدايه اخستي، له هغې نه چې د خدای له لورې

نازل شوي دي، يو هم "و لوانهم اذا ظلموا...." آيت دی، ما پر ځان زياتې کړې، تا ته راغلم، چې زما لپاره بخښنه وغواړې"

دا اعمال گواهي ورکوي، چې د دې آيت له مخې، چې جناب رسول الله (ص) ته کوم مقام ورکړ شوی، هغه د هغه صلی الله عليه واله وسلم په ژوندانه پورې تړلی نه دی او په برزخي ژوندانه کې هم ورته دغه مقام ورپه برخه دی.

مسلمانان اصولاً هغه آيتونه د جناب رسول الله (ص) په ژوندانه پورې اړوند نه گڼي، چې د هغه صلی الله عليه واله وسلم د درناوي په باب نازل شوي دي، په دې شهادت سره، چې د حسن بن علي رضی الله عنه د تدفين پر وخت پر قبر شور جوړ شو، حسين بن علي رضی الله عنه د هغوی د غلي کولو لپاره دا آيت ولوست: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ؛ مؤمنانو! خپل غږ د پېغمبر له غږه مه لوړوئ او لکه څنگه چې پخپلو کې يو له بل سره خبرې کوئ، له هغه سره په لوړ غږ خبرې مه کوئ، هسې نه چې په ناخبرۍ کې مو کړه وړه تويې ولاړ شي](حجرات ۲ آيت)

هيچا ونه ويل: چې دا آيت او درناوی د جناب رسول الله (ص) په ژوندانه پورې خاص و، همدا اوس هم د شيخ محمد بن عبدالوهاب ډلې د جناب رسول الله (ص) د قبر مخې ته دا آيت ليکلي او پر ديوال يې ټکوهلي، غواړي ووايي، چې خپل اوازونه ټيټ کړو او له عادي حالته په زوره ونه غږېږو.

له همدې امله نو له دې آيت نه يوه پراخه معنی پوهېدای شو او هغه داچې همدا اوس هم مسلمانان د جناب رسول الله (ص) حضور ته رسېدای شي او له هغه نه غوښتلای شي، چې له خدای نه ورته بخښنه وغواړي، د جناب رسول الله (ص) زيارت د دې او د دې ته ورته آيت له مفهوم نه پرته نور مفهوم نه لري.

دا آيت پر دوو خبرو دلالت کوي:

۱ _ د جناب رسول الله (ص) تر رحلت وروسته د هغه حضور ته رسېدای او له خدای نه ترې د بخښنې لپاره غوښتنه کېدای شي.

(پردې به د اولیاء الله وسیله کولو تر عنوان لاندې خبرې وکړو)
۲ _ دا آیت د جناب رسول الله (ص) د زیارت پر مشروعیت گواهي ورکوي؛ ځکه د زیارت حقیقت زیارت کېدونکی (مزور) ته د زیارت کوونکي له ورتگ نه پرته نور څه نه دی، که د پیغمبر د قبر څنگ ته درېدل او ورنه دا غوښتنه، چې له خدای نه راته بخښنه وغواړه، جایز دی، په حقیقت کې مو دوه کاره ادا کړي دي، چې :
۱ _ له هغه صلی الله علیه و اله وسلم نه غوښتل، چې زمونږ په حق کې له خدای تعالی نه بخښنه وغواړه.
۲ _ هغه ته په ورتگ کې مو ورسره خبرې وکړې او زیارت له دې پرته بل حقیقت نه لري او د جناب رسول الله (ص) د زیارت مضامین له همدغه شان مسایلو نه جوړ دي. ځکه نو دغه آیت پر دواړو خبروگواه دی.

## بل شهادت

پر یوه نه یو حکم په هر عصر کې د مسلمانانو اتفاق او اجماع په خپله (د هغه حکم) د رښتینولۍ او ټینگښت څرگند شاهد دی، له ښه مرغه د جناب رسول الله (ص) د قبر زیارت د دغې قاعدې یو روښانه تصدیق دی. د حدیث، فقهې، اخلاقو او تاریخ په تېره د حج په مناسکو په باب پورې له مربوطو کتابونو نه د دې خبرې حقیقت ښه روښانه کېږي.
ارواښاد علامه امیني له دوه څلوېښتو اسلامي منابعو نه د جناب رسول الله (ص) د زیارت مستحبوالی رانقل کړی دی، دوی د الغدیر نومي کتاب د پنځم ټوک په ۱۰۶ – ۱۲۱ مخونو کې ددغو منابعو نصوص او الفاظ په پوره دقت را اخستي دي او هغه کتابونه، چې مونږ کتلي دادي:
۱ _ شفاء السقام فی زیارة خیره الانام د تقي الدین سبکي شافعي(د ۷۵٦ مړ) لیکنه، چې ددې کتاب په یوه برخه کې یې د علماوو متنونه او عبارتونه را اخستي دي.
۲ _ وفاالوفا د سهمودي (۹۱۱ق) مړ لیکنه. په دې کتاب کې یې د علموو هغ وینا او متنونه رااخستي، چې د زیارت د استحباب ټینگتیا کوي.

۳ _ الفقه على المذاهب الاربعه، چې د څلور گونو مذهبونو د څلورو علماوو په قلم ليکل شوی او د اهل سنت د څلورو امامانو د افکارو څرگندوی دی، چې ټول يې د افکارو او رايو پلوي کوي، هغوی وايي:
الفقه على المذاهب الاربعه، ۱/ ۵۹۰
زيارة قبر النبي افضل المندويات و رد فيها احاديث
اوس ددې وخت دی، چې دهغو احاديثو يوه برخه دلته رابرسېره کړو، چې اسلامي محدثانو رانقل کړي دي.

## د جناب رسول الله (ص) د زيارت په باب اسلامي احاديث

د د جناب رسول الله (ص) د زيارت په باب د اهل سنتو محدثانو له خوا دومره اسلامي احاديث دي، چې په اسنادو يې په خپلو کتابونو کې را اخستي دي او داسې چې د جناب رسول الله (ص) د قبر زيارت د هغوی مسلمات او په زړه پورې عمل دی، له اصلي اسلامي اسنادو نه د دغو ټولو احديثو رانقلول، خبره ډېره اوږدوي؛ خو يو څو به يې را اخلو.

**لومړې حديث:**

د عبدالله بن عمر رضی الله عنه روايت دی، چې:

هر چاچې زما زيارت وکړ، پر مايې شفاعت لازم شو.

دا حديث، چې د الفقه على المذاهب الاربعه ۵۹۰/۱ کې راغلی، د اهل سنتو د ځلورو گونو علماوو يوې ډلې د همدې له مخې فتوا ورکړې ده. منابع او مدارک يې په وفاالوفا ۱۳۳٦/٤ کې وگورئ.

رښتيا ده، چې دغسې يو حديث، چې علماو واو حافظانو د دويمې پېړۍ له نيمايي راهيسې تر ننه په خپلو کتابونو کې خوندي کړی، هېڅکله بې اساسه کېدای نه شي.

د خبرې د بشپړتيا لپاره د شفا السقام مولف تقي الدين على بن عبدالكافي سبکی (۷۵٦مړ) د احاديثو د ډولونو په باب په ۳-۱۱ مخونو کې څېړنه کړې او د حديث د لارو چارو د ډولونو سمون او پخپلی يې ثابت کړی دی.

يادونه: شفاالسقام يو غوره کتاب دی، چې د اهل تسنن ليکوالو د جناب رسول الله (ص) د قبر د زيارت لپاره د سفر د منع په باب د شيخ ابن تيميه د فتوی په ځواب کې ليکلی دی.

**دويم حديث:**

((څوک چې ماته د زيارت په نيت راغی، پر مايې حق شو، چې د قيامت پر ورځ يې شفاعت وکړم.))

دا حديث شپاړسو حافظانو او محدثانو په خپلوکتابونو کې راوړی دی.

او تقي الدين سبکي شفاالسقام/١-١٣ مخ هم وګورئ.

**درييم حديث:**

څوک چې حج وکړي او بيا زما زيارت وکړي؛ لکه په ژوندوني، چې يې زما زيارت کړی وي.

دا حديث پينځه ويشتو مخورو محدثانو او حافظانو په خپلو کتابونو کې رااخستی دی او تقي الدين سبکي پرې په شفاالسقام کې په ١٢-١٩ مخونو کې د حديث د سند په توګه پراخې خبرې کړې دي. د وفاالوفا ٤/ ١٣٤ مخ هم وګورئ.

**څلورم حديث:**

((چا چې حج وکړ او زما زيارت يې ونه کړ، له ما سره يې جفا وکړه.))

دا حديث د حديثو ٩ مشايخو او حافظانو رانقل کړی دی، د وفاالوفا ١٣٤٢/٤ مخ هم وګورئ.

**پنځم حديث:**

((چا چې زما د قبر زيارت وکړ، زه يې شفيع شوم.))

دا حديث د يوولسو حافظانو او محدثانو لخوا چې ځينې يې په درييمه اسلامي پيړۍ کې تېر شوي، نقل شوی دی. وفاالوفا ١٣٤٣/٤ هم وګورئ.

**شپږم حدیث:**

((چاچې زما تر مرگ وروسته زما زیارت وکړ؛ لکه په ژوندوني، چې یې زما زیارت وکړ.))

دا حدیث دیارلسو محدثانو او حافظانو رانقل کړی دی. وفاالوفا ۱۳٤۷/٤ هم وگورئ.

دا د جناب رسول الله (ص) د پرېمانه احادیثو هغه بېلگې دي، چې خلک یې په کې خپل زیارت ته بللي دي او د الغدیر د څېړنې له مخې یې شمېر ۲۲ ته رسي.

سهمودي په وفاالوفا ۱۳۳٦/٤-۱۳٤۸مخونو کې ۱۷ راغونډ کړي او په وثوق کې یې پوره څېړنه او خبرې کړې دي.

که جناب رسول الله (ص) خلک د خپل قبر زیارت ته بللي دي؛ نو د یو لړ مادي او معنوي گټې لپاره او دا ځکه چې په زیارتونو کې اسلامي شخصیتونه پراته دي، خلک د جناب رسول الله (ص) د قبر د زیارت په رڼا کې د اسلام د خپروني له مرکز سره بلدېږي او له هغو پېښو نه خبرېږي، چې هلته پېښېږي، علوم او صحي احادیث بیا مومي او د نړۍ په هر گوټ کې یې خپروي.

## د قبرونو د زيارت لپاره د تگ د نص په تحريم کې

## د شيخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې دلايل

دوی د جناب رسول الله (ص) د زيارت اصل مني؛ خو قبرونو ته ورتگ روا نه گڼي؛ محمد بن عبدالوهاب د الهديد اسنيه رسالو په دويمه رساله کې ليکي:
((د جناب رسول الله (ص) زيارت مستحب دی؛ خو د جومات له زيارت او هلته له لمانځه پرته نور څه جايز نه دي.))
د زيارت د تحريم په باب د هغوی مهم دليل دا حديث دی، چې په صحاح سته کې راغلی اوراوي يې هم حضرت ابوهريره (رض) دی، چې وايي : جناب رسول الله (ص) فرمايلي دي:
((د سفر پېټی بې له دريو جوماتونو نورو ته نه تړل کېږي: زما خپل جومات (مسجد نبوي) مسجدالحرام او مسجد اقصی.))
د دې حديث متن داسې هم نقل شوی د ی:
((تشد الرجال الی ثلاثه مساجد......))
دا درې وانه متنه، مسلم د خپل صحيح په ٤ جلد کې دکتاب حج په لا تشدالرحال باب کې په ١٢٦ مخ کې نقل کړی دی. سنن ابي داوود ٢٦٨/١ کتاب الحج، د سنن نسائي دسيوطي په شرح ٣٧/٢-٣٨ کې هم راوړی دی.
په دغو احاديثو کې، چې په صحاحو کې راغلي دي، څه خبره نه شته؛ خو خبره د حديث د مفهوم دپوهېدو ده.
فرضوو، چې د حديث متن داسې دی : "لا تشدد الرجال الا الی ثلاثه مساجد...." منللې خبره ده، چې د "الا" لفظ استثناء ده او "مستثنی منه" غواړي او "مستنثی منه" يې بايد پيدا شي؛ نو چې نه شته، بايد مقدره (نغښتې) يې وگڼو، او قرآئنو ته له مراجعې نه مخکې "مستثنی منه" په دوه ډوله مقدرولای شو.
١ _ لا تشد الی مسجد من المساد الا الی ثلاثه مساجد.....
٢ _ لا تشد الی مکان ممن الا مکنه الا الی ثلاله مساجد....

د حدیث د مفهوم درک په دې پورې دی، چې له دې دوو مقدرونه یو وټاکو که د حدیث مفهوم لومړنی فرض ټاکنه وي؛ نو مفهوم یې ادا کېږي، چې هېڅ یوه جومات ته د سفر (ورتګ) پېټی نه تړل کېږي، بې له دې دریو جوماتو څخه، نه دا چې (شد رحال) (د سفر تابیا) هېڅ ځای ته که جومات هم نه وي، جایز نه دی.
اوس نو که څوک د پیغمرانو، امامانو او صالحانو د زیارت لپاره څوک د سفر موزی پر پښو کوي، هېڅکله دحدیث په نهې کې نه راځي؛ ځکه د بحث موضوع جوماتونو ته دسفر د عزم ده او دا درې جوماته له ټولو جوماتونو استثنی شوي دي، څو د "مشاهده زیاره" لپاره د سفر عزم، چې د بحث له موضوع نه وتلی دی، په نهې کې نه راځي.
که د حدیث مفهوم دویمه فرضیه وي، په دې صورت کې به له دې دریو ځایونو پرته ټول معنوي سفرونه ممنوع وي، د جومات د زیارت لپاره سفر وي او بیا که د نورو ځایونو؛ خو د قطعي او پرېکنده قرائنو له مخې به دا روښانه شي، چې د سند د صحت په فرضولو کې د حدیث هماغه لومړنی دی.
لومړی: مستثنی درې ګوني جوماتونه دي. څرنګه چې استثناء "متصل استثنا" ده، ښکاره ده، چې "مستثنی منه" د مساجد کلمه ده، که څوک ووایي: ((ماجاء نی الازید)) باید وویل شي: مستثنی منه د انسان لفظ او یا هغه ته ورته مشابه؛ لکه قوم او نور دی، نه شی او موجود. انسان وي یا غیر انسان په وسیع او جامعه معنی.
دویم: که هدف ټول معنوي سفرونه منع کول وي؛ نو محدودول به سم نه وي؛ ځکه د حج په مناسکو کې انسان عرفات، مشعر او منی ته د "شدالرحال" کوي او د سفر موزې پښو کوي. که مذهبي سفر له دې درېو ځایونو پرته جایز نه وي؛ نو بیا دې درېو ته ولې جایز شوی دی؟
درېیم: د خدای په لار کې د جهاد لپاره مسافرت، د علم د زده کړې او د صله رحم او د مورو پلار د زیارت لپاره سفر له هغو سفرونو ځنې دي، چې په آیتونو او روآیتونو کې یې تصریح شوې ده.
لکه چې فرمایي: [وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُواْ كَآفَّةً فَلَوْلاَ نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُواْ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُواْ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ؛ او دا نه ښايي، چې

مؤمنان ټول يومخې (د جهاد ډگر ته) ووځي، ولې د هغوی د وگړيو له هرې برخې يو شمېر نه وځي (او نور دې په مدينه کې پاتې شي) چې د دين (او اسلامي پوهنو او احکامو په باب) پوهه تر لاسه کړي او چې راستانه شي (؛ نو) خپل قوم خبر کړي، ښايي (د پالونکي د فرمان له مخالفته) ډډه وکړي !](توبه ۱۲۲ آيت)

له همدې امله سترو څېړنکيو حديث داسې تفسير کړی؛ لکه چې ومو ويل: غزالي په خپل کتاب احياءالعلوم کې وايي: ((دويم ډول مسافرت دادی، چې د عبادت لپاره وي؛ لکه د جهاد، حج د پېغمبرانو، صحابه وو، تابعانو او اولياوو د قبرونو زيارت لپاره مسافرت او د چا چې زيارت په ژوندوني متبرک وي، په مړيني يې هم بختور وي او شدالرحال د دغو اهدافو لپاره څه خبره نه ده او له هغه حديث سره څه ټکر نه خوري، چې شدالرحال بې له درېو جوماتونو جايز نه گڼي؛ ځکه په هغو کې د موضوع مساجد دي او څرنگه چې ټول مساجد د فضيلت له پلوه سره يو شان دي، ويل شوي دي، چې مسافرت ورته جايز نه دی او که له جوماتونو نه تېر شو، د انبياوو او اولياوو زيارت فضيلت لري، که څه په درجه او مرتبه کې بيل بيل دي.

(احياء العلوم، کتاب آداب السفر ۲۴۷/۲. د فتاوی الکبری ۲٤/۲ هم ولولئ.)

نو هغه څه چې د نهې وړ دی، له درې گونو جوماتونو پرته مسجد ته شدالرحال دی، نه د زيارت او نورو معنوي چارو لپاره (شدالرحال)

دلته د يوه ټکي يادونه ضروري ده، چې که پېغمبر فرمايي، بې له دې درېو مساجدو نورو ته د سفر پېټي نه تړل کېږي، هدف دا نه دی، چې "شدالرحال" له دريو نه پرته حرام دی؛ بلکې عرض دادی، چې هغه نور د دې وړنه دي، چې سړی ورته د سفر تابيا (شدالرحال) وکړي او کړاو وگالي او زيارت ته يې لاړ شي؛ ځکه له دې درېو جوماتونو پرته د فضيلت له مخې څه د پام وړ توپير سره نه لري؛ ځکه د نړۍ جامع جوماتونه د کلي او ولس له جوماتونو سره په ثواب کې سره يو دي؛ نو ضرور نه ده، چې جامع جومات نژدې وي او سړی د يوه بل ځای جامع جومات ته د سفر پېټی او توښه واخلي. داسې نه، چې که دا کار يې وکړ؛ نو حرام يې وکړ او سفر يې گناه ده.

د دې خبرې شاهد دادی، چې د صحاحو او سننو ليکونکيو نقل کړی دی، چې جناب رسول الله (ص) او صحابه به د شنبې په ورځو مسجد قباء ته لمانځه لپاره تلل، د صحيح بخاري متن دادی: "ان النبي كان ياتی مسجد قبا كل سبت ما شيئا و راكبا و ان ابن عمر كان يفعل كذالک"
(صحيح بخاري ۲/ ۷٦، صحيح مسلم الشرح النووی ۹/ ١٦٩ -۱۷۱، سنن سنايي بشرح سيوطي ۳۷/۲
نبي اکرم هره شنبه د مسجد قبا د زيارت لپاره پلي او سپور راته او د عمر (رض) زوی هم همداسې کول اصلا د خدای لپاره د لمانځه په نيت د خدای کور (مسجد) ته له ريا پرته ورتگ څنگه حرام او منع کېدای شي؟
هغه هم په داسې حال کې، چې په جومات کې لمونځ کول مستحب دي؛ نو د لمانځه مقدمه به هم همداسې وي.

## د اولیاوو له قبرونو سره لمونځ او دعا

د شیخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې په کتابونو کې د اولیاوو له قبرونو سره لمونځ او دعا او ورته د ډېوې پر لګولو بحث شوی دی.
د دې طریقې بنسټ ایښودونکی په زیارة القبور په ۱۵۹ او ۱۶۰ مخونو کې لیکي:
((لم یذکر احد من ائمه السلف ان الصلاع عند القبور و فی مشاهدها مستحبه و لان ان الصلاة والدعا، هناک افضل بل اتفقوا کلهم علی ان الصلاة فی المساجد والبیوت افضل منها عند قبور الاولیاء والصالحین))
مخکنیو یوه هم نه دي ویلي، چې د قبرونو او د اولیاوو له مشاهدو سره لمونځ مسحب دی او نه تر نور ځایونو هلته لمونځ او دعا غوره ده؛ بلکې ټولو دا منلې ده، چې لمونځ له هغه ځایه په کورونو او جوماتونو کې غوره دی.
د مدینې علماوو ته په منسوب ځواب کې لولو:
((اما التوجه الی حجره النبی صلی الله علیه وسلم عند الدعاء فالا ولی منعه کم هو معروف من معتبرات کتب المذهب و لان افضل الجهات، جهه القبله.))
د دعا په و خت کې جناب رسول الله (ص) قبرته توجه غوره ده، چې منع دی او په معتبرو کتابونو کې د هغه ممنوعیت مشهور شوی او پردې سربېره د قبلې لوری غوره لوری دی.
دا مساله یې د"ممنوعیه" له پړاوه د "شرک" مرحلې ته رسولې او په هغوی کې چې څوک دا عمل کوي؛ نو مشرک به وي.
باید ووایو چې څوک له قبرونو سره د قبر خاوند ته لمونځ وکړي او و یې لمانځي او یا یې قبله ومني؛ نو بې شکه مشرک به وي؛ خو د ځمکې پر مخ یو مسلمان هم د پېغمبرانو او ا ولیاوو د قبرونو ترڅنګه داسې عمل نه کوي، نه د قبر د خاوند عبادت کوي او نه یې په قبله مني؛ نو دې ته د شرک په بڼه کتل یوه خیالي او وهمي مساله ده.
مسلمانان د اولیاوو د قبرونو ترڅنګه لمونځ او دعا په دې نیت کوي، چې دوی د خدای پاک صالح او غوره بندګان وو، چې دلته ښخ شوي او دا ځای د خاص شرافت

نه برخمن دی او د تبرک په سترګه ورته ګوري؛ نو ځکه دلته به لمونځ او دعا ډېر ثواب ولري.
اوس په دې بحث کوو: صالحان او نېکان، چې په کوم ځای کې ښخ شي، هغه ځای ځانګړې شرافت مومي که نه؟
که دغسې یو حکم له قرآن او سنتو څخه ثابت شو؛ نو طبعا دلته به لمونځ او دعا فضیلت ولري او که داسې ونه شو؛ بیا هم د هغه ممنوعیت او حراموالی نه شو اعلانولای؛ بلکې د نورو ځایونو په څېر هلته لمونځ او دعا روا ده که څه هم فضیلت نه لري.
اوس مساله د قرآن او سنتو په رڼا کې څېړو.
موحدینو د اصحاب کهف د مدفن په باب وویل: [وَكَذَلِكَ أَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ لِيَعْلَمُوا أَنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَأَنَّ السَّاعَةَ لَا رَيْبَ فِيهَا إِذْ يَتَنَازَعُونَ بَيْنَهُمْ أَمْرَهُمْ فَقَالُوا ابْنُوا عَلَيْهِم بُنْيَانًا رَّبُّهُمْ أَعْلَمُ بِهِمْ قَالَ الَّذِينَ غَلَبُوا عَلَى أَمْرِهِمْ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيْهِم مَّسْجِدًا
؛او دغسې موږ (د هغې سیمې خلك) د هغوی له حاله خبر کړل، چې پوه شي (د قیامت په باب) د خدای وعده رښتوني ده او د قیامت (په راتلو کې) هیڅ شك نشته، هغه مهال، چې هغوی په خپلو منځونو کې (په دې خبره) شخړه کوله، چې له ((اصحاب کهف)) سره څه وکړو؟، ځینو وویل :((یوه ودانۍ پرې جوړه کړئ (چې تل له سترګو پټ شي او په باب یې خبرې مه کوئ، چې) پالونکی یې ترې ښه خبردی))؛ خو هغوی چې د((اصحاب کهف)) له رازه خبر شول (او هغه یې د دویم ځل راپاڅېدو یو دلیل ولید؛ نو) ویې وویل : ((پر(غار) یې جومات جوړوو (چې خاطره یې هېره نشي.)))] (کهف ۲۱ آیت)
پر مدفن باندې له جومات جوړولو مطلب له دې پرته بل نه و، چې هلته به یې خپل فرایض ادا کول او په اصطلاح هلته به یې خپل لمونځونه او دعاګانې کولې (زمخشري په "کشاف" تفسیر کې د دې آیت په تفسیر کې داسې وایي: یصلی فیه المسلمون و یتبرکون بمکانهم.)

هغوی داسې انګېرله، چې دلته د خدای منلي بندګان ښخ شوي چې دا ځای د خاص فضیلت نه برخمن دی او تبرک په کې ولټوو، چې زیات ثواب مو وشي.)
قرآن دا مطلب له یوې ډلې موحدینو څنې رانقلوي او د هغه پر وړاندې چوپ کېږي او که دا یو خلاف عمل وای او یا بې هدفه او بې جهته وای نو طبعا قرآن د هغه په باب چوپتیا غوره کوله او په یو ډول یې د هغه ځواب وایه اوچوپتیا د قرآن رضایت ښیي.
قرآن مجید د بیت الله زیارت کوونکیو ته وایي، چې په مقام ابراهیم کې لمونځ وکړئ.
[وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْناً وَاتَّخِذُواْ مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَعَهِدْنَا إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ؛ او(دریاد کړئ) چې کله موږ د کعبې خونه خلکو ته د راغونډېدو مرکز او د امن وامان ځای وګرځاوه او (د خاطرو د رایادولو لپاره مو وویل :) د ابراهیم له مقامه لمانځه ځی جوړ کړئ او موږ ابراهیم او اسماعیل ته امر وکړ : ((زما کور طواف کوونکیو او څېله کېدونکیو او رکوع او سجده کوونکیو ته پاك او سوتره کړئ.))](بقره/ ۱۲۵)
حضرت ابراهیم چې په کوم ځای کې ولاړ و او ښایي هلته یې د خدای تعالی عبادت کاوه؛ نو له همدې امله هغه ځای شرافت او فضیلت ومونده او بیا قرآن دستور ورکړ، چې مسلمانان دې دلته لمونځونه وکړي او تبرک دې په کې ولټوي.
نو چې کله په یوه ځای کې د ابراهیم علیه السلام درېدل د شرافت او تبرک سبب ګرځي؛ نو د حق لارې د شهیدانو او صالحینو د ښخېدو ځای به فضیلت او تبرک ونه لري؟ او طبعا تر نورو ځایونو به هلته لموهنځ فضیتلت ولري او دعا به ښه قبلېږي.
دا سمه ده، چې آیت یوازې د ابراهیم په باب نازل شوی؛ خو ایا له هغې نه کلي حکم نه شو راایستلای؟
په مسجد النبي کې منصور دوانیقي له امام مالک رحمة الل علیه نه پوښتنه وکړه، چې د دعا په وخت کې قبلې ته مخ کړم او که د رسول الله قبر ته؟ امام ورته وویل: ولې له پیغمبر کرم څنې اړخ اړوې په داسې حال کې چې هغه مبارک ستا او ستا د پلار (آدم علیه السلام) وسیله دی، د د جناب رسول الله (ص) قبر ته مخه کړه او له هغه نه وغواړه، چې ستا په حق کې شفاعت وکړي.

(وفاالوفا فی اخبار دارالمصطفی ٤/ ١٣٧٦)

له دې خبرو نه پوهېدای شو، چې د پېغمبراکرم د قبر تر څنګ دعا منع نه ده او د پېغمبر قبر ته په مخ کولو او یا قبلې ته په مخ اړولو کې د یو بل د برترۍ بحث دی او مام مالک په دې نظر دی، چې د پېغمبر قبر ته مخه؛ لکه قبلې ته مخه ده.

۳ ـ د معراج په باب په روآیتونو کې راغلي دي، چې حضرت محمد د طیبه، طورسینا او بیت اللحم په څېرځایونو کې لمونځ کړی دی. جبرائیل ورته وویل: ای رسول الله! پوهېږې چې په کوم ځای کې دې لمونځ وکړ؟ تا د عیسی د زیږېدو په ځای کې لمونځ وکړ.

(الخصائص الکبری د عبدالرحمن السیوطي تالیف)

له دې حدیثه پوهېدای شو، له کوم ځای سره، چې د جناب رسول الله (ص) بدن لګېدلی وي؛ نو هلته لمونځ کول فضیلت لري او د دغه ځای تبرک د حضرت عیسی له زوکړې پرته بل څه نه و.

٤ ـ بي بي حاجري او اسماعیل علیه السلام، چې د الله پاک په لاره کې یې زغم او غربت وګاله؛ نو خدای تعالی هم د هغوی د پلونو نښې د عبادت ځای وټاکه؛ یعنې د صفا او مروه منځ.

(جلاء الافهام فی الصلاة والسلام علی خیرالانام و ابن القیم تالیف ۲۲۸ مخ)

دا د شیخ ابن تیمه د مشهور شاګرد ابن القیم وینا ده.

نو په رښتیا چې د خدای تعالی په لار کې د دوی زغم، صبر او اخستي ګامونه دومره مبارک ګرځي، چې د مسلمانانو د عبادي مراسمو یوه برخه ګرځي؛ نو د پېغمبراکرم (چې د ټولنې د اصلح او سمون لپاره ستر صبر ګاللي) قبر خو به هرومرو متبرک وي او هلته به لمونځ او دعا له ځانګړې فضیلت نه برخمنه وي.

۵ ـ که په رښتیا د قبر ترڅنګه لمونځ روا نه وای؛ نو بیا ولې ام المؤمنین حضرت عایشي بي بي په خپله کوټه کې د حضرت پېغمبراکرم د قبر تر څنګه لمونځونه کول؟

که ددې حدیث (خدای یهود او نصاری لعن کول؛ ځکه د پېغمبرانو له قبرونو یې جوماتونه جوړ کړي وو) معنی همداسې وي؛ لکه د شیخ ابن عبدالوهاب ډله یې چې

وايي؛ نو بيا ولې د همدې حديث راوي؛ حضرت عايشه (رض) نژدې پنځوس کاله په هماغه کوټه کې لمونځ کاوه او د خداى په عبادت بوخته وه.
او له بلې خوا يهودو او نصاراوو خو د خپلو پيغمبرانو قبرونه قبلې کړي وو او هغوى يې لمانځل حال داچې مسلمانان داسې نه کوي؛ نو ځکه حضرت جناب رسول الله (ص) ويلي: اللهم لا تجعل قبري و ثنايعيد؛ خدايه زما قبر د بت غوندې نه کړې، چې راته عبادت وکړي.
(مسند احمد حنبل ۳/ ۲٤۸)
٦ _ که د حضرت جناب رسول الله (ص) مدفن او د ښخېدو ځاى له ځانګړي شرافته برخمن نه واى؛ نو شيخينو ولې ټينګار کاوه، چې د هغه مبارک د قبر ترڅنګه دې ښخ کړاى شي؟
پر دې دلايلو سربېره دمسلمينو له سيرته هم معلومېږي، چې هغوى د حق د لارې د شهيدانو له قبر سره لمونځونه ادا او دعا ګانې کړې دي.

# پر قبرونو د ډیوې بلول

د سنن نسايي ۷۷/۳: لعن رسول الله زائرات القبور والمتخذين عليها المساجد والسراج
له ابن عباس رضی الله عنه روایت دی، چې رسول الله قبرونو ته زیارت کوونکې ښځې او هغه کسان، چې له قبرونو یې جوماتونه جوړ کړي وي او پر قبرونو ډیوې بلوي لعنت کړي دي.
له دې ځایه پوهېدای شو، که د ډیوو بلول د مال له ضایع کېدو او له نور ملتونو سره د تشبیه لپاره وي؛ نو په دې صورت کې ناروا دي او که چېرې د چراغ بلول د قرآن د لوستو، لمانځه او نور مشروعو گټو لپاره وي؛ نو په دې صورت کې روا دي او د "تعاونوا على البر والتقوى" د مبارک آیت روانه مصداق دی.
د حدیث د شارحانو یوې ډلې د حدیث په حاشیه کې لیکلي دي:
والنهی عنه لا نه نضییع مال بلا نفع.
(سنن نسائي ۷۷/۳، شرح الجامع الصغير ۱۹۸/۲)
د څراغ بلول ځکه منع دي، چې مال ضایع کېږي.

# د اولیاوو وسیله کول

د خدای د دربار د دوستانو سیله کول د نړۍ په مسلمانانو کې ډېر زیات دود دی او له هغې ورځې نه، چې اسلامي شریعت د جناب رسول الله (ص) لخوا ابلاغ شو، د احادیثو له لاري یې مشروعیت هم په ډاګه شو.
یواځې په اتمه هجري پېړۍ کې د شیخ ابن تیمیه له خوا ترې انکار وشو او تر هغه دوه پېړۍ وروسته یې د شیخ محمد بن عبدالوهاب لخوا ښه زور واخست او د خدای د اولیاوو وسیله کېدل ناروا او بدعت وګڼل شو او کله هم ورته د اولیاوو عبادت وویل شول او په دې کې شک نه شته، چې بې له خدایه د بل عبادت شرک او حرام دی.
موږ به د عبادت په باب ځانله بحث وکړو او څرګنده به کړو، چې د هغې (وسیله کولو) یو صورت "عبادت" او شرک ګنل شوي او بله بڼه یې مطلوب دی او د عبادت یوې قدر یې ترې هم نه راځي، دلته پرې څه نه وایو، همدومره وایو، چې د اولیاوو وسیله کول دوه ډوله کېږي.
۱ ـ د هغوی په ذات توسل؛ لکه چې ووایو:
"اللهم اني اتوسل الیک نبییک محمد صلی الله علیه و اله وسلم ان تقضی حاجتی؛ خدایه ! زه درته ستا پیغمبر وسیله کوم، چې زما اړتیا ترسره کړې.
۲ ـ د هغوی د مقام او په الهي دربار کې نژدیکت او د هغوی حقوق وسیله کول، چې ووایي: الله اني اتوسل الیک بجاه محمد صلی الله علیه واله وسلم و حرمته وحقهان تقضی حاجتی؛ خدایه! زه د محمد صلی الله علیه و اله وسلم هغه مقام، چې له تاسره یې لري، وسیله کوم چې زما اړتیا ترسره کړې.
د شیخ ابن عبدالوهاب ډلې دغه دواړه حالته ممنوع کړي دي، حال دا چې په اسلامي احادیثو او د مسلمانانو په سیرتونو کې د شیخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې له نظر یې پرخلاف روا ګڼل شوی دی او د اولیاوو وسیله کول په دواړو صورتونو کې مني.
دا دی لومړی اسلامي احادیث پرله پسې را اخلم، بیا د مسلمانانو د سیرتونو په څرګندونه پیل کوو، چې د همدغو دوو دلیلونو په څېړنې سره د بدعت او نارواتوب مساله په خپله له منځه ځي، دا مساله به، چې د اولیا الله وسیله کول د هغوی عبادت او

لمانځنه ده، د عبادت معنی په برخه کې څرګنده شي او هغ برخه د دغو بحثونو له ډېرو حساسو ټکیو ګڼل کیږي.

## د احاديثو برخه

په حديثي او تاريخي کتابونو کې ډېر زيات داسې احاديث دي، چې د رجال، مقاماتو او د خدای د نازوليو د وسيله کولو پر پياوړتيا او ربښتينولۍ گواهي ورکوي، چې مونږ يې يوه کوچنۍ برخه دلته را اخلو.

### لومړی حديث د عثمان بن حنيف حديث

هغه روند، چې د د جناب رسول الله (ص) په وسيله کولو يې سترگې وغړېدې.
"ان رجلا ضريرا اتى الى النبى فقال ادع الله ان يعافينى، فقال ان شئت دعوت و ان شئت صبرت و هو خير قال فادعه، فامره ان يتوضا فيحسن وضوه و يصلى ركعتين و يدعو بهذا الدعا.
اللهم ان اسالک واتوجه اليک بنبيک محمد نبى الرحمه يا محمداني اتوجه بک الى ربى فى حاجتى لتقضى، اللهم شفعه فى قال ابن حنيف فوالله ما تغرقنا و طال بن الحديث حتى دخل علينا کان لم يکن به ضر.
يو روند د جناب رسول الله (ص) حضور ته راغی، و يې ويل : له خدای نه وغواړه، چې ما روغ کړي، پېغمبر وفرمايل: که غواړې نو (همدا اوس) دعا کوم او که نه صبر وکړه، چې همدا (صبر) غوره دی. ړانده وويل: دعا وکړئ. پېغمبر ورته وويل: په دقت اودس وکړه، دوه رکعته لمونځ وکړه او دا دعا ووايه: پروردگاره! زه درنه غواړم او ستا د پېغمبر محمد د رحمت د پېغمبر په وسيله تاته مخامخ کېږم، چې خدای مې حاجت ترسره کړي. خدايه زما په باب د هغه صلى الله عليه و اله وسلم شفاعت ومنه.
د دې حديث د سند په باب خبره
د حديث د سند او صحت په باب څه خبره نه شته، ان چې شيخ ابن تيميه يې هم سند صحيح گڼلای او ويلې يې دي : له ابوجعفر نه، چې د حديث په سند کې دی، مراد هماغه ابوجعفر خطمي دی او هغه د منلو وړ دی.

(د امام احمد په مسند کې "ابوجعفر" د خطی په لفظ ستایل شوی؛ خو په صحیح ابن ماجه کې مطلق ابوجعفر راغلی.)

د شیخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې معاصر لیکوال "رفاعي" ددې حدیث په باب وايي: ((لاشک ان ها الحیث صحیح و مشهور و قد ثبت فیه بلا شک و لاریب ارتداد بصر الاعمی بدعا، رسول الله.))

(التوصل الی حقیقه التوسل، ۱۵۸مخ)

شک نه شته، چې دا حدیث صحیح او مشهور دی او په دې کې هم شک نه شته، چې یوه ړانده د پیغمبر په دعا سترگې وغړولې.

رفاعي په خپل کتاب التوصل کې وايي: دا حدیث نسايي، طبراني، د ترمذي او حاکم په خپل مستدرک کې راخستی دی او ددې وروستیو دوو کسو د "وشفعه فی" پر ځای د "اللهم شفعني فیه" را اخستی دی.

(پورتنۍ سرچینه)

"زینی دحلان" په خلاصة الکلام کې لیکي:

دا حدیث بخاري په خپل تاریخ او ابن ماجه او حاکم په صحیح اسنادو سره په مستدرک کې او جلال الدین سیوطي په خپل جامع کې راخستی دی.

(کشف الارتیاب ۳۰۹مخ)

لیکونکی داحدیث له لاندینیو مدارکو راخلي

۱ _ سنن ابن ماجه ٤٤١/۱، د داراحیاء الکتب العربیع عیسی البابي الحلبی و شرکاء خپرونه، د محمد فواد عبدالباقي څېړنه ۱۳۸۵حدیث.

ابن ماجه له ابواسحاق نه نقلوي چې: هذا حدیث صحیح.

بیا زیاتوي:دا حدیث ترمذي په ابواب الادعیه کې راخستی دی او ویلې یې دی: هذا حدیث حق صحیح غریب.

۲ _ مسند بن حنبل، ۱۳۸/٤ د عثمانبن حنیف له سند، طبع الکتب الاسلامي، موسسه دارصادر بیروت نه دا حدیث له دریولارو راخستی دی.

۳ _ مستدرک حاکم ۳۱۳/۱، د حيدر آباد افست چاپ او تر نقل وروسته وايي: ((هذا حديث صحيح على شرط الشيخين و لم يخرجا)) داحديث د شيخينو د شرايطو له مخې صحيح حديث دی؛ خو روايت يې نه دی رانقل کړی.
٤ _ الجامع الصغير د سيوطي ليکنه، له ترمذي، مستدرک او د حاکم له ۵۹ مخ نه راخسته.
٦ _ التاج ۲۸٦/۱ په دې کتاب کې له ابن ماجه نه پرته د پنځو واړو صحاحو احاديث راغلي دي.
ځکه نو د حديث په سند کې د خبرې ځای نه شته.
تاسې دا حديث له عربي ژبې سره يو بلد سړی ته ورکړئ، داسې يوه سړي ته، چې د توسل په مساله کې يې د وهابيانو له ناندريو نه ذهن بيخي پاک وي. پوښتنه ترې وکړئ، پيغمبر په هغه دعا کې، چې ړانده ته يې وښوده څه امر وکړ؟ او هغه ته يې د دعا په قبلېدو کې څه لارښوونه وکړه ؟ له واره به درته وايي: پيغمبر ورته وويل، چې د رحمت پيغمبر وسيله کړه او له خدايه وغواړه، چې حاجت دې ترسره کړي.
دا خبره له لاندينيوجملو نه ښه راجوتيږي.
الف: اللهم اني اسالک وانوجه اليک بنبيک
خدايه! له تانه غوښتنه کوم او تاته ستا د پيغمبر په مخ، مخ دراړوم د "نبيک" ټکی به پاسنيو دوو جملو پورې اړوند دی، يو "اسالک" او بل "اتوجه اليک".
په څرگنده وينا، هم د نبي په وسيله له خدايه سوال کوي او هم د هغه صلی الله عليه و اله وسلم په وسيله خدای ته مخ کوي او له نبي مراد په خپله نبي دی، نه د نبي دعا او غرض دادی، چې د هغه صلی الله عليه و اله وسلم په دعا سره تاته مخ در اړوم (متوجه کيږم) او په نتيجه کې د دعا غوښتنه له پيغمبر څخه ده؛ ځکه د (دعا) د کلمې نه شتوالی او تقدير پردې سربيره، چې بې ځايه او بې دليله ده، د بلاغت پر خلاف هم ده، د "توجه" منظور د پيغمبر دعا ده، نه د هغه صلی الله عليه و اله وسلم خپل ذات او د افرادو دعا ته توجه څه خبره نه ده.

ب: د دې لپاره، چې څرګنده شي، چې له خدای نه د سوال مقصد د پيغمبر لپاره او د هغه په وسيله خدای ته توجه ده، د "نبيک" لفظ يې له "محمد نبي الرحمة" جملې سره توصيف کړی دی، چې حقيقت څرګند او روښانوي.
ج: د "يامحمد انی اتوجه بک الی ربی"
("اقبل الله بوجهه و استغفرله الف ملک"، د صحيح ابن ماجه لومړی ټوک، باب مسجد ۲۶۱-۲۶۲ مخونه وګورئ، همدارنګه د مسند امام احمد بن حنبل درېيم جلد ۲۱۰ حديث ته مراجعه وکړئ.) جمله دا ښيي، چې حضرت محمد (ص) د خپلې دعا لپاره وجه ګرځوئ، نه د خپل وجهې (توجه) لپاره د هغه دعا.
د: د "وشفعه فی" جملې مطلب دادی، چې : پروردګاره: هغه صلی الله عليه و ا له وسلم زما شفيع وګرځوې او زما په باب د هغه شفاعت ومنی.
په دغو ټولو جملو کې چې څه د څېړنې او خبرو وړ دي، هغه په خپله جناب رسول الله (ص) او د هغوی صلی الله عليه و اله وسلم ستر مقام دی او د پيغمبر د دعا خبره نه ده.

## دويم حديث:د رښتينو سائلانو وسيله کول

عطيه عوفه له ابوسعيد خدری (رض) نه نقلوي، چې جناب رسول الله (ص) وفرمايل: هر څوک چې له کوره لمانځه ته ووځي او دا دعا ولولي، د خدای له رحمت سره مخامخېږي او زر پرښتې يې د بخښنې غوښتنه کوي : ((اللهم اني اسالک بحق السائلين عليک و اسالک بحق ممشای هذا فانی لم اخرج اشرا و لا بطا ولا ربا ولا سمعه وخرجت اتفا سخطک و ابتغاء مرضاتک فاسالک ان تعيذني من النار و ان تغفرلی ذونوبی انه لا يغفرالذنوب الا انت....))
خدايه! د سوال کوونکيو په حق (نامه) درنه سوال کوم او د هغه زمان او مکان په خاطر، چې زه په کې ستا پر لور درځم. زه د سرغړاوي، ساتېرۍ، ريا، ځان ښودنې او

سمعې لپاره له کور نه يم راوتی يم، زه ستا له قهر د ژغورنې او ستا د رضا تر لاسه کولو لپاره راوتی يم، گناهونه مې وبخښې؛ ځکه زما گناهونه بې له تا بل څوک نه بخښي.....
دا حديث له ډېرو هغو روښانه احاديثو څخې دی، چې شاهدي ورکوي، چې انسان له خدای نه د حاجت د غوښتو پر وخت د صالحانو شان، حق او منزل د ځان لپاره وسيله کولای شي او د حديث دلالت زموږ د مدعا څرگندوی دی.

## درېيم حديث: د جناب رسول الله (ص) وسيله کول

حضرت آدم د خدای د حکم تر سرغړاوي وروسته په ځينو هغو الفاظو سره، چې خدای تعالی ورښوولي وو، توبه وايسته؛ لکه قرآن کريم فرمايي: [فَتَلَقَّى آدَمُ مِن رَّبِّهِ كَلِمَاتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ إِنَّهُ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ؛ بيا آدم له خپل پالونکي څو کلمې زده کړې؛ (چې په هغوی يې توبه وايسته) او خدای يې توبه ومنله؛ ځکه خدای توبه منونکی (او) مهربان دی.](بقره ۳۷ آيت)
د اسلامي مفسرينو او محدثينو يوه ډله د هغو کلمو په تفسير کې، چې په آيت کې راغلي دي، د لاندې روايت له مخې داسې نظر لري، چې د هغې د متن له مخې روښانه کېږي.
طبراني په پخپل المعجم الصغير کې، د حاکم نيشاپوري مستدرک په مستدرک صحيحين، ابونعيم او بيهقي په دلايل النبوة او ابن عساکر شامي په خپل تاريخ کې او سيوطي په الدرالمنثور او الوسي په روح المعاني (د مستدرک حاکم ٤١٥/٢ – د روح المعاني ٢١٧/١، د الدرالمنشور ٥٩/١ د طبراني، ابونعيم اصفهاني او بيهقي له قوله) کې د عمر بن الخطاب (رض) د يوه سند له مخې رانقلوي، چې جناب رسول الله (ص) فرمايلي دي:
" لما اذنب آدم الذی اذنبه رفع راسه الی السماء فقال اسالک بحق محمد الاعفرت فاوحی الله اليه و من محمد؟ فقال تبارک اسمک، لما خلقت رفعت راسی الی عرشک فاذا فيه مکتوب لا اله الا الله و محمد رسول الله فقلت: انه ليس احد اعظم عندک قدرا، ممن جعلت اسمه مع اسمک فاوحی اليه انه اخرالنبيين من ذريتک و لولا هو لما

خلقتک. (له الدرالمنثور څنې د حديث متن اخستل شوی او په مستدرک حاکم کې چې کوم متن راغلی له دې نه يو څه توپير لري؛ خو د دواړو مضمون يو دی.)
"چې کله آدم عليه السلام گناه وکړه، مخ يې اسمان ته کړ، و يې ويل: خدايه تا ته د محمد (ص) په خاطر سوال کوم، چې ما وبخښې، خدای ورته په وحې وويل: محمد څوک دی؟ آدم ځواب ورکړ، زه چې دې څه وخت پيدا کړم، عرش ته مې سر جگ کړ، و مې ليدل، چې پرې ليکل شوي دي: بې له خدايه بل معبود نه شته او محمد د خدای استازی دی.
له ځان سره مې وويل: چې محمد د هغه (الله تعالی ستر مخلوق دی، چې خدای يې نوم له خپل نامه سره غبرگ راوړی دی؛ نو بيا ورته وحې وشوه، چې هغه ستا د ځوځات وروستی پيغمبر دی او که هغه نه وای، ته مې نه پيدا کولې."

**ددې حديث په باب زموږ نظر**

۱ ـ په قرآن کريم کې د هغه څه پرخلاف، چې په موږ کې رواج شوي، د کلماتو ټکی ذواتو اوشخصيتونو ته ويل شوي دي؛ لکه:
الف: [فَنَادَتْهُ الْمَلآئِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَـى مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَسَيِّدًا وَحَصُوراً وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ ؛ او چې کله هغه په محراب کې پر لمانځه ولاړ و؛ نو پرښتو ورته غږ وکړ:((خدای د يحيی زيری درکوي، هغه به د خدای کلمه [؛مسيح] تصديق کړي او لارښود به وي او له سرکښو هوسونو به خوندي او له صالحو به پيغمبر وي.))](آل عمران ۳۹ آيت)
ب: [إِذْ قَالَتِ الْمَلآئِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ؛ (درياد کړه) چې کله پرښتو وويل :((مريمې ! خدای درته له خپل اړخه د يوې کلمې [؛باعظمته وجود] زيری درکوي، چې نوم يې مسيح عيسی د مريمې زوی دی، په دنيا او اخرت کې به مخور (او پتمن) وي اوله (الهي) مقربانو (نژدې بندگانو) به وي.](آل عمران ٤٥ آيت)

ج :[يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لاَ تَغْلُواْ فِي دِينِكُمْ وَلاَ تَقُولُواْ عَلَى اللّهِ إِلاَّ الْحَقِّ إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ فَآمِنُواْ بِاللّهِ وَرُسُلِهِ وَلاَ تَقُولُواْ ثَلاَثَةٌ انتَهُواْ خَيْراً لَّكُمْ إِنَّمَا اللّهُ إِلَـهٌ وَاحِدٌ سُبْحَانَهُ أَن يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَات وَمَا فِي الأَرْضِ وَكَفَى بِاللّهِ وَكِيلاً ؛ کتابیانو! په خپل دین کې مبالغه (او افراط) مه کوئ او د خدای په باب له رښتیا (خبرې) پرته بل څه مه وایئ. مسیح عیسی د مریمې زوی؛ یوازې د خدای پیغمبر او د هغه (مخلوق او) کلمه وه، چې مریمې ته یې وغورځوله او د خدای له لوري یو روح و؛ نو ځکه پر خدای او پیغمبرانو یې ایمان راوړئ او مه وایئ چې (((خدای) درې گونی دی.)) (له دې خبرې) منع شئ، چې تاسې ته غوره ده. الله؛ یوازې ایکي واحد معبود دی، هغه له دې پاك دی، چې څوک یې اولاد وي (؛ بلکې) په اسمانو او ځمکه کې ټول څیزونه د هغه دي، چې تدبیراو پالنې ته یې یوازې هماغه کافي دی. ] (نساء ۱۷۱ آیت)

د :[قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَاداً لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَداً ؛ ووایه :((که سمندر(ونه) زما د پالونکي د(پنځول شویو او) کلماتو (لیکلو) ته رنگ شي؛ نو زما د پالونکي د (پنځول شویو او) کلماتو تر پای ته رسېدو مخکې به سمندر(ونه) وچ شي، که څه هم همدومره نور(سمندرونه) پرې ورزیات هم کړو.))]

(کهف/ ۱۰۹)

[وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ؛ او که په واقع کې د ځمکې ټولې ونې قلمونه او سمندر یې رنگ شي او بیا ددې سمندر له پاسه اووه نور سمندرونه هم ورسره یو ځای شي (دا ټول به پای ته ورسي؛ خو) د خدای خبرې ((کلمات الله)) به (په لیکلو) پای ته ونه رسي، په رښتیا چې خدای بریمن حکیم دی.] (لقمان ۲۷ آیت)

چې په تر بحث لاندې آیت کې د کلمات ټکی ته په پام سره ویلای شو، چې له کلمات نه مراد هماغه درانه شخصیتونه "محترم ذوات" دي، چې وسیله کړای شوي دي.

۳ ـ د تاريخ او حديث د کتابونو له لوستو نه څرگنديږي، چې د حضرت آدم له خوا د يوه پيغمبر وسيله کول يو مشهور او معروف مطلب و؛ ځکه د مخه مو ولوستل، چې امام مالک، منصور دوانيقي ته د پيغمبر په حرم کې وويل: هو وسيلتک ووسيلة ابيک آدم؛ پيغمبر ستا او ستا د پلار آدم وسيله دی.

(سيد احمد زيني دحلان د الدرالسنيه په ۱۰ مخ کې ليکي: دا جريان قاضي عياض په صحيح سند سره نقل کړی، امام سبکي په شفا السقام، سيد سمهودي په خلاصه الوفاء، علمه تسطلاني په المواهب اللدينه ابن حجر په الجوهر المنظم کې نقل کړی دی.

ابن حجر په الجوهر المنظم کې وايي: دا جريان په صحيح سند نقل شوی او علامه زرقاني د مواهب په شرح کې ليکي: ابن فهد هغه په ښه سند نقل کړی او قاضي عياض هغه په صحيح سند نقل کړی دی.)

اسلامي شاعرانو دا حقيقت په نظم ويلي دي:

به قداجاب الله آدم اذدعا

و نجافی بطن السفينة نوح

قوم بهم غفرت خطيئه آدم

و هم الوسيله والنجوم الطلع

يعنې؛ د هغه په وسيله خدای د آدم دعا قبوله کړه او نوح يې په بيړۍ کې دننه وژغوره د آدم گناه، چې د چا په وسيله وبخښل شوه، هغه څوک وو، چې د خدای د دربار او ځلانده ستوريو واسطه دی. (کشف الارتياب ۳۰۷-۳۰۸ مخونه)

## څلورم حديث: د پيغمبر لخوا د پيغمبر اونوروحقو پيغمبرانو وسيله کول

يعنې:

فاطمه د اسد لور، چې وفات شوه، رسول الله يې له مرگه په خبرېدو سره سرته کېناست او ويې فرمايل: تر مور نه مې وروسته مورې! خدای دې درباند ورحميږي بيا يې اسامه، ابوايوب او عمر بن الخطاب (رض) او يو تور مريي راوغوښتل، چې قبر تيار

کړي، قبر چې جوړ شو، لحد يې جناب رسول الله (ص) په خپل لاس جوړ کړ او خاوره يې په لاس کې راواخسته او په قبر (لحد) کې په ډډه وغځېده او دعا يې وکړه: خدايه! چې ژوندي کول او مړه کول کوې او ژوندی يې او نه مرې، مور مې فاطمه د اسد لور وبخښه او کور يې پراخه کړه، د خپل پيغمبر او له مانه د مخکېنيو پيغمبرانو په خاطر.

د "خلاصة الکلام" مولف وايي: رواه الطبرني فی الکبير والاسط و ابن حبان والحاکم وصححوه....

"طبراني په الکبير والاوسط کې روايت کړی او ابن حبان او الحاکم صحيح کړی او تصديق کړی دی.

(کشف الارتياب ۳۱۲مخ)

سيد احمد ذيني دحلان، په خپل کتاب (الدرالسني فی الرد علی الوهابيه کې ليکي: مشهور محدث ابن ابي شيبه له جابر (رض) نه دا حديث رانقل کړی او همدارنگه ابن عبدالبر له ابن عباس (رض) او ابونعيم له انس (رض) نه رااخستی دی او جلال الدين سيوطي بيا دا ټولې خبرې په جامع کبير کې راوړي دي. (الدرالسنيه، ۸مخ او د وفاالوفا ۸۸۹/۳)

دا حديث په دغو کتابونو کې هم په بېلابېلو بڼو را اخستل شو ی دی:

١ _ د الاستيعاب ٣٨٢/٤ د ابن البر (٤٦٣ ه مړ) تاليف.

٢ _ مستدرک حاکم ۱۰۸/۳

۳ _ اصول کافي ٤٥٣/۱ د کليني (۳۲۹ه مړ) تاليف، کتاب الحجه باب مولد اميرالمؤمنين

٤ _ حلية الاولياء د ابونعيم اصفهاني ليکنه ۱۲۱/۳.

**پينځم حديث:**

ځينو اسلامي محدثينو رااخستي دي، چې يو بيدياني عرب جناب رسول الله (ص) ته راغی او شروع يې وکړه: ((لقد اتيناک و مالنا بعيريط)) ("يئط" له "اطيط" نه اخستل شوی او د اوس د اواز په معنی دی.) و لا صبی يغط ("يغظ" له "غطبط" نه اخستل شوی دی او د هغه ماشوم د ژړا په معنی دی، چې ويده کېږي.
موږ تاته په داسې حال کې راغلي يو، چې نه مو اوښ شته، چې فرياد وکړي او نه مو کوچنی (طفل)، چې ويده شي او دا شعرونه يې وويل:
اتيناک والعذرا بدمي لبانها
و قد شغلت ام الصبى عن الطفل
و لا شيئ هما ياکل الناس عندنا
سوی الحنظل العامی والعلهزالفسل
و ليس لنا الا اليک فرارنا
و اين فرار الناس الا الی الرسل
موږ تاته راغلي يو، په داسې حال کې، چې د اسونو له سينو وينې څاڅي، مور له خپل کوچني نه جلا کړای شوې ده.
دومره څه راسره نه شته، چې څوک يې وخوري، هن ! هغه ترخه مړه غوني شته، چې د لوږې په کال خوړل کېږي او د وينو او مږز له عذا پرته نور څه نه لرو.
مونږ بې له تانه بل پناځای نه لرو.
او د خلکو پناځای له پېغمبرانو پرته بل کوم ځای کېدای شي.
بيا :
فقال رسول الله يجر ردائه حتى صعد المنبر، فرفع يديه: اللهم اسقنا غيثا مغيثا... فمارد النبي يديه حتى القت السماء...ثم قال الل درابي طالب لوکان حيا لقرت عيناه، من ينشدنا قوله؟ فقام علي بن ابيطالب، و قال وکانک تريد يا رسول الله قوله.
و ابيض يستقی الغمام بوجهه
ثمال اليتامی، عصمه للارامل

يطوف به الهلاک من آل هاشم
فهم عنده فی نعمه و فواضل

هغه سپین مخ، چې په خاطر یې له وریځو نه باران غوښتل کېږي او د یتیمانو پناځای او د بېوسو کونډو مرستندوی دی، د بني هاشمو محتاجان ترې راتاو وي او د ده له برکته په نعمتونو او بخششونو کې ډوب دي.

جناب رسول الله (ص) وفرمایل:

هو! زما مقصد همدا دی، چې ومو لوست، بیا علي د هغه د قصیدې یوه برخه ولوسته بیا د بني کنانه قبیلې یو سړی پاځېد، یو څو بیته یې ولوستل، چې د لومړي بیت مضمؤمن یې دادی:

خدایه ستاېنه تا لره ده. ستا شکر کوونکي بندګان ستاېنه کوي، مونږ د پېغمبر له مخه په بارن خړوب شوو.

په دې لړ کې ګڼ شمېر لاسوندونه او مدارک شته، چې رااخستل کېدای شي؛ خو لیکونکی یې له دغو مدارکو را اخلي:

الف: "عمدة القاري فی شرح حدیث البخاري ۳۱/۷
د بدرالدین محمد بن احمد العین (۸۵۵ه مړ) لیکنه، دا داره الطباعه المنیر په خپرونه.
ب: پر نهج البلاغه باندې لیکلې شرح؛ ابن ابی الحدید ۸۰/۱٤
ج: سیرة حلبي، ۲٦۳/۳
د: الحجة علی المذاهب الی تکفیر ابي طالب، د شمس الدین ابن علي فخاربن محمد (د ٦۳۰ هر مړ) د نجف مطبعه علوي چاپ ۷۹ مخ.
ه: سیرة زیني دحلان د سیره حلبي پر حاشیې ۸۱/۱

## شپږم حدیث : د پېغمبر د ذات وسیله کول

رسول الله ته د سواد بن قارب (رض) هغه قصیده، چې توسل په کې دی.
وایي: شاهدي ورکوم، چې له خدای نه پرته بل رب نه شته.

او د هر پټ حسي (څیز) امین یې ته، خدا ی ته تر نورو پیغمبرانو ډېر نژدی وسیله یې، ای د درناویو او سپېڅلتیاوو بچیه! موږ ته د هغه څه باب امر وکړه، چې تاته رسي، ای تر پیغمبرانو غوره!
که څه هم ستا حکم د سر د ویښتو د سپینېدو سبب شي، پر هغه ورځ زما شفاعتگر شه، چې د شافعانو شفاعت سواد بن قارب ته د خرما د زړی د پردې هومره گټه نه رسوي. (الدرالسنیه ۲۹ مخ د زیني دحلان تالیف اود التوصل الی حقیقه التوسل ۳۰۰ مخ.)

## اووم حدیث: د شهیدانو امام حسین په "دعای عرفه" کې وایي.

خدایه: په داسې یوه شپه مو درته مخ دی، چې ستا د پیغمبر او غوره خلقت محمد په خاطر دې راباندې واجب کړی او ستره کړې ده.
(الدررالسنیه ۲۹مخ د زیني د حلان تالیف او د التوصل الی حقیقه التوسل ۳۰۰ مخ)

## اتم حدیث: د روژې میاشتې او په هغې میاشت کې د عبادت کوونکیو وسیله کول

علي بن حسین (رض) په صحیفه سجادیه کې په هغه دعا کې، چې د روژې مبارکې میاشتې په راتلو سره یې ویله، وایي: خدایه! له تا نه د دې میاشتې او هغه چا پر مخ دعا غواړم، چې د دې میاشتې له لومړی شیبې نه تر پایه پورې ستا نمانځنه کوي، هغه ستا مقربې ملائیکې وې، که نبي مرسل دی او یا ستا کوم گران نیک بنده.

## د "توسل" په مساله کې د مسلمانانو چلند

د پیغمبر او تر هغه په راوروسته زمانه کې د مسلمانانو چلند همېشه دا و، چې د الهي اولیاو ذات، مقام او منزلت به یې وسیله کاوه، چې دا دی دلته یې یو څو بېلګې را اخلو:

۱ ـ ابن اثیر عزالدین علي بن محمد بن محمد عبدالکریم جزري د (۶۳۰ ه مړ) په خپل کتاب اسدالغابه في معرفة الصحابه کې لیکي: د رمادي په کال چې قحطۍ زور وکړ، حضرت عمر د حضرت عباس په وسیله د باران غوښتنه وکړه، خدای د هغه په وسیله هغوی له بارانه خړوب کړل او ځمکې یې سمسورې کړې، حضرت عمر خلکو ته مخ کړ او و یې ویل: پر خدای سوګند، چې عباس خدای ته زمونږ وسیله دی او دخدای پر وړاندې یومقام لري، حسان بن ثابت په دې لړ کې یو څو شعرونه وویل:

امام داسې وخت د باران غوښتنه وکړه، چې قحطي پر هر ځای خپره وه.

او د اسمان وریځې د عباس په نورانیت خلک خړوب کړل عباس د پیغمبر تره او د جناب رسول الله (ص) د پلار سیال دی.

مقام او منزلت ورته له هغه نه په میراث پاتې دی، خدای د هغه له مخه ځمکې ژوندۍ کړې.

هر ځای تر نا امیدۍ وروسته سمسور شو.

(اسدالغابه ۱۱۱/۳ د مصر چاپ)

او چې باران هر ځای ته ورسېد، خلکو به تېر کال د عباس پر ځان ځانونه مښل او ورته ویل به یې : ای د دواړو حرمو ساقي! آفرین.

ددغې تاریخي ټوټې لوستل، چې یوه برخه یې په صحیح بخاري کې هم راغلې ده، داسې چې د وسیله کولو یو مصداق هم د عزتمنو اشخاصو او د منزلت د خاوندانو وسیله کول دي، چې په خپله د داعي او متوسل ترمنځ د نژدېکت او وړتیا سبب ګرځي.

تردې به بل روښانه تعبیر څه وي، چې وایي: هذا والله الوسیله الی الله والمکان منه:

د جلال الدين سيوطي (۹۲۳ ه مړ) معاصر قسطلاني احمد بن محمد بن ابي بکر په خپل کتاب المواهب اللدايه بالمنح الحمديه في السيرة النبويه، چې په مصر کې چاپ شوی دی، ليکي:

خلکو! رسول الله به عباس ته د پلار په سترګه کتل، په ده پسې ولاړ شئ او خدای ته يې خپله وسيله وګرځوئ.

په همدې ځرګندونې کې د توسل (وسيله کولو) جواز پروت دی او د هغو کسانو نظر باطل شوی دی، چې بيخي او يا له پيغمبر نه پرته توسل نه مني.

(المواهب ۳۸۰/۳، فتح الباري فی شرح البخاري ۴۱۳/۲)

۳ ـ چې کله منصور د مدينې له ستر مفتي مالک رحمة الله نه د جناب رسول الله (ص) د زيارت د طرز په باب پوښتنه وکړه:

مخ قبلې ته واړوو او دعا وکړو که جناب رسول الله (ص) ته؟ امام مالک وويل: له هغه (صلی الله عليه و اله وسلم) نه مخ ولې اړوې؟ هغه خو د قيامت پر ورځ ستا او ستا د پلار آدم عليه السلام وسيله دی. هماغه ته مخ کړه او خپل شفاعتګر يې کړه، خدای د هغه شفاعت مني.

(وفاالوفا ۱۳۷۶/۲).

خدای فرمايي: [وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ؛ موږ هيڅ يو استازی نه دی لېږلی؛ خو د دې لپاره، چې د خدای په اجازه لاروي يې وشي او که دې مخالفينو (داسې کړي وای)، چې تر ګناه (او د الهي قوانينو تر پښو لاندې)کولو وروسته درته راغلي وای او له خدای يې ښښنه غوښتې وای او پيغمبر هم ورته ښښنه غوښتې وای (؛ نو) هرومرو خدای يې توبه قبلوونکی (او) مهربان مونده.] (نساء ٦٤ آيت)

٤ ـ ابن حجر هيثمی په خپل کتاب الصواعق المحرقه، چې مرحوم قاضي نورالله الصوارم املهرقه په نامه نقد کړی دی، له امام شافعي رحمة الله عليه نه دا دوه بيتونه رااخستي دي:

(د پيغمبر کورنۍ خدای ته زما وسيله ده او د همدې په وسيله هيله من يم، چې ماته به زما عملپاڼه په ښي لاس راکړي)
(الصواعق المحرقه ۱۷۸مخ)
د همدغو شواهدو او کلماتو په پام کې نيول سره ويل کېدای شي، چې پيغمبران او ستر شخصيتونه له هغو وسايلو څخه دي، چې قرآن کريم ورته په مائده ۳۵ آيت کې داسې امر کړی دی : [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَابْتَغُواْ إِلَيهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُواْ فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ؛مؤمنانو! د خدای [(د فرمان له مخالفته)] ووېرېږئ او هغه ته د نژدېدو وسيله ولټوئ او په لار کې يې جهاد وکړئ، ښايي وژغورل شئ. ]
او وسيله يوازې د فرايضو او محرماتو په تر سره کولو پورې خاص نه ده؛ بلکې مستحبات (چې د انبياوو وسيله کول) هم پکې راځي، وسيله ده.
ايا دا ټول علماء او پوهان د وسيلې د معنى په پوهېدو کې تېروتي ګڼلای شو؟ په داسې حال کې، چې هغوی د حکم مصدرونه، د حديث ساتندويان او د اسلام نوميالي پوهان ګڼل کېږي، څوک چې دغه راز څرګندونو او شهادتونو ته ارزښت نه ورکوي او د هغوی د تاويل او توجيه په فکر کې وي، دا هغه له مخکې نه قضاوت کوونکي دي، چې د مخکني قضاوت لپاره له دغو قراينو او شواهدو نه ګټه نه اخلي، د بېلګې په توګه د دغو تعصبونو او پيشداوريو په باب د بخاري هغه مطلب را اخلو، چې ددې تاريخي پېښې په باب يې را اخستی دی او ګورو، چې د تعصب پردې په دې باب څه اړونې او تحريفات او غوغا راګډه کړې ده.
۵ _ امام بخاري په پخپل صحيح کې را اخلي.
عمر بن الخطاب (رض) د قحطۍ پر وخت عباس بن عبدالمطلب (رض) وسيله کاوه او ويل به يې: خدايه ! موږ پخوا پيغمبران وسيله کول او تا به راباندې رحم کاوه، اوس ستا د پيغمبر تره وسيله کوو، رحمت دې راباندې راښکته کړه. باران ونښت او ټول خړوب شول.
(وفاء الوفاء ۳۷۵/۳)

ددې حديث په رښتينولۍ او باور کې هېڅ خبره نشته، حتی رفاعي هم، چې په راز راز نومونو د توسل پرله پسې احاديث ردوي، ددې حديث پر صحت او وثوق باوري دی او وايي: دا حديث بيخي رښتيا دی، که د حديث مراد د اشخاصو د توسل صحت او جوتيا وي، مونږ يې له لومړنيو منونکيو څنې يو او عمل پرې کوو.

هغو جملو ته په پام سره، چې په خپله له خليفه نه د عباس د وسيل کولو په باب نقل شوي دي او داچې هغه پر خدای سوګند خوري، چې (هذا والله الوسيله الی الله والمکان منه) جوتېږي، چې په دې باب د توسل واقعيت د خدای په نزد د (عباس) د ذات، شخصيت او مقام توسل دی.

په دې لړ کې شمس الدين ابوعبدالله محمد بن النعمان مالکي (د ٦٨٣ه مړ) په خپل کتاب مصباح الرلم في المستغثين بخير الانام کې د عمر (رض) له خوا د عباس د وسيله کولو طرز داسې رااخستی دی:

پروردګاره ! ستا د پيغمبر تره په وسيله د باران غوښتنه کوو او د هغه سپينه ږيره او په اسلام کې يې سابقه خپل شفيع ګرځوو، دا وخت د حق رحمت ټوله سيمه ونيوه.

(وفاء الوفا ١٣٧٦/٢)

عباس بن عتبه په دې باب شعر ووايه: زما د تره له برکته د حجاز خاوره او هستوګن يې خړوب شول، لمر په غړ غړه و، چې عمر (رض) د هغه سپينه ږيره وسيله کړه.

حسان بن ثابت په دې باب يو شعر ووايه:

فسقی الغمام بعزة العباس

او وريحی د عباس په خاطر خړوبونه وکړه.

ابن حجر عسقلاني په خپل کتاب فتح الباري في شرح حديث البخاري که وايي: عباس په خپله دعا کې وويل: خلکو ماته د خپلوۍ د هغه تړون له امله مخ کړ، چې ستا له پيغمبر سره يې لرم.

(فتح الباري ٤١٣/٢)

لکه چې ګران لوستونکي ويني، د شک هېڅ ځای نشته، هدف د عباس د مقام او منزلت وسيله کولو وو او پوهيږو، چې له پخوا نه ويل شوي دي :

د يوه منلي او جوت كار پر خلاف گواهي د هغه كار تاييد كوي.
يعنې قرآن كريم فرمايي: [وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلاَدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لاَ تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلاَّ وُسْعَهَا لاَ تُضَآرَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلاَ مَوْلُودٌ لَّهُ بِوَلَدِهِ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَلِكَ فَإِنْ أَرَادَا فِصَالاً عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُواْ أَوْلاَدَكُمْ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُم مَّآ آتَيْتُم بِالْمَعْرُوفِ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ؛ او ميندې خپلو اولادونو ته پوره دوه كاله تی وركوي.(دا حكم) د هغه چا لپاره دی، چې غواړي د تي رودنې موده پوره كړي. د ماشوم پر پلار لازمه ده، چې مور ته د تي رودنې په وخت كې په غوره توگه خوراك او جامې وركړي (ان كه طلاق يې هم اخستی وي) (او) هر څوك تر خپلې وسې ژمن دی، مور (له پلار سره د اختلاف له امله) ماشوم ته د زيان رسولو حق نه لري او نه پلار او پر وارث يې هم لازمه ده، چې دا كار وكړي [؛د تي وركولو په وخت كې د مور لگښت وركړي] او كه دواړه په خپله خوښه او مشوره ماشوم له تي ژر غوڅ كړي؛ نو څه باك يې نشته او كه (د ناوسۍ او يا د مور د موافقې په نه شتون كې) مو وغوښتل، چې خپلو اولادونو ته دايي ونيسئ؛ نو څه گناه يې نشته؛ خو په دې شرط، چې د مور پخوانی حق په ښه توگه ادا كړئ او د خدای (د فرمان له سرغړونې) ووېرېږئ او پوه شئ، څه چې كوئ، خدای يې ليدونكی دی.] (بقره ۲۳۳ آيت)
د بيان لپاره دليل او علت پكار دی اوداچې ښځو د نارينه وو لپاره اولاد زېږولی دی، بايد همغوی يې د ژوندانه زېرمه وكړي.
كه وايو چې د عالم او پوه قدر وكړه؛ نو د هغه د علم او پوهې لپاره ده؛ نو كه عمر (رض) وايي، چې انا نتوسل اليک بعم نبيک، غواړي د عباس (رض) د وسيله كولو علت وښيي، چې ولې له نورو خلكو نه په هغه متوسل شو؟
لكه په خپله عباس (رض) چې وايي: لمكانى من نبيک
مقام مې ستا د پيغمبر له مخه دی.

له دې امله نو په کلکه ویلای او یقین کولای شو، چې د اسلام د صدر مسلمانانو پاکلمني او نېکان خلک وسیله کول.

## د جناب رسول الله (ص) پر ویر د صفیې (رض) شعر

صفیه د عبدالمطلب لور د جناب رسول الله (ص) ترور (عمه) د رسول الله پر رحلت شعرونه وویل، چې دوه بیتونه یې دادي:

قدرمن پېغمبره! ته مو امید یې، ته نېک شخص وې، له چا سره دې کله هم جفانه ده کړې، ته پر موږ مهربان وې، زموږ رسوله ! ددې قوم هر څوک ژاړي، باید وژاري.

(ذخائر العقبی في مناقب ذوی القربی ۲۵۲مخ د حافظ محب الدین احمد بن عبدالله تالیلفه او مجمع الزواید ۹/ ۳٦

له دې ټوټې شعر نه، چې د جناب رسول الله (ص) د صحابه وو په مخکې ولوستل شو او مورخانو او سیرت لیکونکیو رانقل کړی، دغه لاندې چارې ترې راولاړېږي.

لومړی: له اروااحو سره خبرې او په اصطلاح د د جناب رسول الله (ص) تر رحلت وروسته هغه ته خطاب یو روا او دودیز (مروج) عمل دی او د شیخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې د سوچ پر خلاف دا شان خطابونه نه شرک دی اونه لغو، چې وایي: ((الا یا رسول الله.))

د حافظ نورالدین علي بن ابي بکر الهیثمی تالیف.

دویم: د ((انت رجاونا)) جملې په حکم د جناب رسول الله (ص) په هر حال کې د اسلامي ټولنې د هیلو مرکز و، حتی تر مرگ روسته هم ورسره زمونږ اړیکې نه دي شلېدلې.

په پای کې دا ټکی یو ځل بیا یادوو، چې قرآن کریم فرمایي: : [یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَابْتَغُواْ إِلَیهِ الْوَسِیلَةَ وَجَاهِدُواْ فِي سَبِیلِهِ لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُونَ ؛مؤمنانو! د خدای [(د فرمان له مخالفته)] ووېرېږئ او هغه ته د نژدېدو وسیله ولټوئ او په لار کې یې جهاد وکړئ، ښایي وژغورل شئ. ] (مائده ۳۵ آیت)

دا آیت په ډاگه وایي، چې وسیله ترلاسه کړئ!

خو سیله څه ده؟

په خپله په دې آیت کې نه ده ښوول شوې، شک نه شته، چې د دیني وظایفو تر سره کول د بریالیتوب وسایل دي؛ خو وسیله په هغې پورې اړونده نه ده؛ بلکې د الهي اولیاوو د توسل له تاریخچې نه څرګندیږي، چې پخپله دغه عمل هم د بري یوه وسیله ده او دا خبره منصور ته د امام مالک رحمة الله علیه له وینا او د جناب رسول الله (ص) د تره په وسیله د دویم خلیفه د باران له غوښتنو ښه راڅرګندیږي.

# آیا د خدای د اولیاوو د تلین او کلیزې نمانځنه او درناوی بدعت دی؟

د شیخ ابن عبدالوهاب ډله د اولیاوو او اسماني رجالو د مړیو درناوی حرام گڼي؛ لکه د دین د لویانو او د خدای د اولیاوو کلک دښمنان چې وي، دوی د تلین په غونډو کې گډون حرام گڼي.
د "انصار السنة المحمدیه" ډلې مشر "محمد حامد فقي" پر "الفتح المجید" باندې په خپلو پاېلیکونو کې لیکي: الذیکریات التی ملات البلاد باسم الاولیاء هی نوع من العباده لهم و تعظیمهم؛ داولیاوو د زوکړې د ورځو یادونه او نمانځنه د اولیاوو نمانځنه او پرستش گڼل کېږي او دا هغوی ته یو ډول تعظیم دی.
د هغوی د ټولو اشتباهاتو بنسټ یوه خبره ده او هغه داچې څرنگه، چې د شر او توحید په تېره د عبادت د مفهوم تگ او برید نه دی ټاکل شوی؛ نو ځکه یې هر ډول نمانځنه او درناوی عبادت انگېرلی دی اولکه چې ویني، هغه په خپله وینا کې د عبادت او تعظیم ټکی غبرگ راوستی او دا یې گڼلې، چې دغه دواړه ټکي یوه معنی لري.
مونږ به په بله برخه کې د عبادت معنی څرگنده کړو او جوته به کړو، چې د خدای د نېکو بندگانو هر درناوی او تعظیم په دې قید سره، چې د خدای بندگان دي، په هېڅ وجه نمانځنه او پرستش نه دی؛ نو ځکه دغه بحث له یوه بل لوري څېړو.
شک نشته، چې قرآن کریم یوه ډله پېغمبران او اولیا بیا بیا په فصیحو او بلیغو جملو ستایلي دي.
د حضرت زکریا او یحیی (علیهما السلام) په باب فرمایي: [فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ ؛ او مونږ یې دعا قبوله کړه او یحیی مو وروباښه او مېرمن مو یې (چې شنډه وه، امینوارۍ ته) چمتو کړه؛ ځکه هغوی (داسې کورنۍ وه، چې) د نېکو چارو په ترسره کولو کې یې تل بیړه کوله او مونږ یې له وېرې او هیلې سره بللو او زمونږ پر وړاندې عاجز او متواضع وو!] (انبیا ۹۰ آیت)

اوس نو که څوک په هغو غونډو کې، چې د هغوی (اولیاوو) په نومونو جوړېږي د دې آیت یا دا شان نورو په مضمون سره وستايي او په دې ډول يې ونمانځي؛ نو آیا د قرآن کریم له پیروۍ پرته يې کوم کار کړی دی؟

خدای د رسالت د کورنۍ په باب فرمايي: [و يطعمون الطعام على حبه مسكينا و يتما و اسيرا؛ او پر مسکین، یتیم او اسیر په مینه خواړه خوري ](دهر ۸ آیت)

که د جناب رسول الله (ص) د میلاد پر ورځ هغه آیتونه په غیر عربي ژبه وژباړو یا يې د شعر په بڼه ووايو، چې پېغمبراکرم په کې ستایل شوی، ایا کوم حرام کار به مو کړی وي؟

دوی د الهي پېغمبر او اولیاوو د درناوي دښمنان دي، چې له بدعت سره د مبارزې په پرده کې د هغې مخنیوی کول غواړي.

دلته دا پوښتنه راولاړېږي، چې وهابیان دا شاربي چې: څرنگه چې دا غونډې او ټولنې د مذهب په نامه جوړېږي او په اسلام پورې تړل کېږي؛ نو باید دی، چې د اسلام له خوا په ځانگړې یا عمومي بڼه ومنل شي، گنې نو بدعت او حرام به وي.

ددې پوښتنې ځواب ډېر روښانه دی؛ ځکه موږ ته په دې باب د قرآن هغه آیتونه بس دي، چې مونږ د جناب رسول الله (ص) درناوي ته رابولي او دغه ډول غونډې د اسماني رجالو له درناوي پرته په هېڅ بڼه نه جوړېږئ او بدعت هغه څه ته ویل کېږي، چې قرآن یا سنتو په خصوصي یا عمومي توگه نه وي تصویب کړی، د دغو نمانځنو، چې د نړۍ گردو ولسونو ترمنځ د خپلو لویانو په نمانځنه کې دود دی، هدف له درناوي او احترام پرته نور څه نه دي او د نړۍ په ټولو مسلمانانو کې بشپړ رواج دی او که بدعت او یو نوی کار د اسلام له هر اړخیزو موازینو سره برابر نه وای؛ نو د اسلامي نړۍ علماوو به د جناب رسول الله (ص) د میلاد جشن نه کاوه او په مقالو او خوږو اشعارو به يې د میلاد غونډې نه درنولای.

دادی د قرآن په رڼا کې د دې نمانځنې د جواز دلایل.

**لومړی دلیل:**

قرآن کریم هغه ډله ستایي، چې جناب رسول الله (ص) نمانځي او درناوی یې کوي، فرمايي: [الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَآئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ فَالَّذِينَ آمَنُواْ بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُواْ النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُوْلَـئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ؛(نو نن دا رحمت) د هغوی (په برخه دی) چې (د خدای) د استازي، "اُمي " پیغمبر لاروي کوي، چې د هغه (نوم او ځانګړنې) له هغوی سره په تورات او انجیل کې لیکلي مومي؛ (هماغه پیغمبر، چې) دوی ته د غوره چارو (پر ترسره کولو) امر کوي او له ناوړه چارو یې منع کوي، دوی ته پاك څیزونه حلال لوي او ناپاکه ورته حراموي او د دوی (له اوږو او غاړو) درانه پیټي او ځنځیرونه لرې کوي؛ نو هغوی چې په دې پیغمبر یې ایمان راوړی، درناوی یې کوي او مرسته ورسره کوي او په هغې رڼا پسې ځي، چې ورسره نازله شوې ده (؛ نو) همدوی بریالي دي.)) (اعراف ۱۵۷ آیت)

په دغه آیت کې راغلې جملې دادي:

۱ – آمنو به، ۲ –غزروه، ۳ _ نصروه، ٤ _ واتبعو النور.....

آیا دا څوک ګڼي، چې "آمنوا به، نصروه، وابتعوا النور " جملې د جناب رسول الله (ص) زمانې ته خاص کړای شوې دي؟ نه هیڅکله.

## د عبادت بریدونه او یو بشپړ او هر اړخیز تعریف یې

عبادت د عربو په ژبه کې زموږ د نمانځنې د کلمې انډول ټکی دی؛ لکه نمانځنه او پرستش، چې له موږ سره څرګند او روښانه مفهوم، دغه شان د "عبادت" د ټکي مفهوم هم بیخي روښانه دی، که څه هم په یوه جمله کې یې په یوه منطقي تعریف سره تعریف او تفسیر نه کړای شو.

شک نه شته، چې ځمکه او اسمان زمونږ پر وړاندې یو روښانه او څرګند مفهوم لري، حال داچې زیاتره یې بشپړ تعریف کولای نه شي؛ خو دا ټکی ددې خنډ کېدای نه شي، چې د دواړو ټکیو په اورېدولو سره دې د هغې معنی زمونږ په ذهن کې انځور شي.
عبادت او نمانځنه (پرستش) هم د ځمکې او اسمان په څېر ټکی دی، هر یو یې له اصلي معنی نه خبر یو، که څه هم خپله پوهه په یوه منطقي تعریف کې ځای نه کړای شو؛ لکه له مونږ سره، چې د "عبادت"، "تعظیم" او "لمانځنې" او "درناوي" اصلي ځایونه او موارد روښانه دي او له یوه نه د بل ځای او مورد بېلتون راته ډېر اسانه دی.
یو زړه بایللی مین او عاشق، چې د خپلې معشوقې د کوڅې هر ډبره او لوټه ښکلوي او یا یې جامه او کمیس په ځان پورې مښي و یا یې تر مرګ وروسته قبر او خاوره ښکلوي، په ټولنه کې هم د هغو کسانو عمل او کار د عبادت او پرستش نه ګڼل کېږي، چې د نړۍ د لویو مخکښانو د آثارو او جونګړې لیدو ته ورځي او درناوي لپاره ورته یو څو شیبې غلی درېږي، که څه هم ددې مینه او تواضع د خدای پر وړاندې د خدای نمانځونکیو د مینې او انداز په څېر وي، په دې څېړنه یواځې ویښ وجدانونه قاضي او حکم کېدای شي، چې درناوی او تعظیم له عبادت او نمانځنې نه جلا کړای شي.
اوس که د عبادت ټکي په منطقي بڼه تعریف کول وغواړو او تجزیه او تحلیل یې کړو، پر دریو یادو شویو ډولو یې لاندې تعریفولای شو او دغه درې واړه تعریفونه یو هدف پر مخ بیایي.

## د عبادت لومړنی تعریف

عبادت هغه عملي، لفظي او ژبني لېوالتیا او تواضع ده، چې پر "الوهیت" باندې له "اعتقاد" نه راټوکېږي.
اوس دا ګورو، چې "الوهیت" څه دی او همدا زمونږ د څېړنې اصلي ټکی دی، چې د الوهیت په ژوره معنی وپوهېږو.

"الوهيت" خدايي او "اله"خدای ته وايي که کله "اله" ټکی په معبود سره تفسير شوی دی، هغه د " تفسير لزوم" دی. نه داچې معبود رښتيا د "اله" په معنی دی؛ بلکې له دې امله، چې د نړۍ په ولسونو کې حقيقي "اله" او گوماني "اله" دواړه معبود او نمانځنې يې؛ نو دا گمل شوې، چې "اله" گڼې د معبود په معنی دی؛ گڼې نو معبودوالی د "اله" د معنی لازمه ده؛ نه د هغه لومړنی معنی.

پردې خبره، چې د "اله" د کلمې معنی "خدای"ده، نه معبود، ورښانه دليل هماغه د اخلاص؛ يعنې "لا اله الا الله" کله ده؛ خو که د "اله کلمه په دغې جمله کې د معبود په معنی وي؛ نو بيا دروغ ځکه ده، چې دا څرگنده ده، چې له "الله" نه پرته نور زرگونه معبودان هم شته.

پردې نظر ډېر روښانه دليل له شرک د مبارزې د ټولو آيتونو کتنه ده، د مشرکينو ټولو ډلو هغه موجودات "اله" (لوی يا کوچني، حقيقي يا مجازي خدای) گاڼه او په همدې نامه د هغو پر وړاندې ټيټېدل، چې نمانځل يې.

## د عبادت دويم تعريف

عبادت د هغه چا پر وړاندې ټيټېدل دي، چې "رب" يې گڼو.

مونږ د "عبادت" کلمې په باب خپله پوهه او درک په يو بل قالب کې هم اچولای او ويلای شو، چې عبادت يو فعلي او قولي ټيټېدنه او خضوع ده، چې پر " ربوبيت" باندې له اعتقاده راټوکېږي او عبوديت د ربوبيت پر وړاندی دی.

هر کله چې يو انسان ځان عبد او مربي او مخامخ لوری خپل تکويني رب وگڼي، هغه رب وي، که نه؛ خو دی په دې فکر د هغه پر وړاندې مات او ټيټ شي، دغې ته عبادت وايي.

دا لاندېني آيتونه ښيي، چې عبادت د ربوبيت له چارو څخه دی :

مائده:۷۲ آيت : [لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُواْ إِنَّ اللّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُواْ اللّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّهُ عَلَيهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ؛ هغوی په رښتيا کافر شول، چې و يې ويل : ((په واقع کې

خدای همدا مسیح د مریمې زوی دی)) (سره له دې چې پخپله) مسیح ویل:((بني اسراییلو! الله ولمانځئ، چې زما او ستاسې پالونکی دی؛ ځکه چا چې له خدای سره څوك شريك كړ؛ نو هرومرو خدای پرې جنت حرام کړی دی او هستوګنځی یې دوزخ دی اوظالمانو ته هېڅ مرستندوی نشته)).

(آل عمران ۵۱ آیت) : [إِنَّ اللّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَـذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ؛ ۵۱ بېشکه چې الله ز ما او ستاسې پالونکی دی، هغه ولمانځئ (نه ما او نه بل څيز) چې همدا سمه سیده لار ده ]

دا مضمون په نورو آیتونو کې هم راغلی دی او په ځینو کې عبادت د خالقیت له چارو ګڼل شوی دی؛ لکه د انعام د سورت په ۱۰۲ آیت کې چې فرمايي :[ذَلِكُمُ اللّهُ رَبُّكُمْ لا إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ؛ (هو) دا الله ستاسې پالونکی دی! بې له هغه بل معبود نشته؛ د هر څه خالق دی، (یوازې) هغه ولمانځئ او هغه پر ټولو څيزونو څارونکی دی. ]

[وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَى أَجَلٌ مُّسَمًّى ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ؛ او هغه پرخپلو بندګانو بشپړ برلاس دی او پر تاسې څارونکې(پرښتې) ګوماري، تردې چې له تاسې د کوم یوه مرګ راورسي (؛ نو په دې وخت کې) زما پرښتې ترې ساه اخلي او هغوی (د عمر په حسابولو او د بندګانو د عملونو په ثبتولو کې) ناغېړي نه کوي ] (انعام ٦١ آیت)

نو منلې خبره داده، چې ووايو د دغو مادي یا غیر مادي (پرېښتې)طبیعي علتونو فاعلیت او سببیت د خدای په حکم او فرمان دي او دا د قرآن له سترو معارفو څنې یو دی، چې د خدای د افعالو په باب د زیاتو آیتونو له لوستو نه کار اخستل کیږي، اوس نو که څوک الهي افعال له هغه نه بیل وګڼي او وايي چې دا چارې نوراني موجوداتو (پرېښتو او اولیاوو) ته سپارل شوي دي او بیا په دې اعتقاد سره د هغو خضوع وکړي، څرګنده ده، چې دا شان خضوع په عبادت او عمل به یې په عبادت کې شرک وي.

په بله وینا داسې و انګېري، چې خدای ددغو چارو تر سره کول هغوی ته سپاري او هغوی په پشپړ ډول دغه چارې ترسره کوي. په دې صورت کې یې هغوی د خدای

"مثل" او "ند" (شریک) ګڼلی دی، شک نه شته، چې دغه شان عقیده شرک دی او په دې اعتقاد سره هر ډول غوښتنه او خضوع به د هغوی نمانځنه او عبادت وي؛ لکه قرآن، چې فرمايي: [وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلّهِ وَلَوْ يَرَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ إِذْ يَرَوْنَ الْعَذَابَ أَنَّ الْقُوَّةَ لِلّهِ جَمِيعاً وَأَنَّ اللّهَ شَدِيدُ الْعَذَابِ ؛ او (له دې نښو سره) ځينې داسې خلک هم شته، چې له الله سره يې (په عبادت کې) سيالان او انډول نيسي او د خدای هومره مينه ورسره کوي؛ خو مؤمنينو ته (د مشرکانو تر مينې، چې له خپلو خدايانو سره يې لري) الله پاك ډېر سخت ګران دی او هغوی (مشرکانو) چې ظلم کړی (او بې له خدای يې معبودان نيولي) چې کله (الهي) عذاب وګوري(؛ نو) پوه به شي، چې ټول زور خو يوازې له الله سره دی او په رښتيا خدای ډېر سخت عذابی دی، (نه خيالي معبودان، چې ترې ډارېږي).](بقره ١٦٥)

هېڅ موجود د فکر ورشو کې د خدای ساری او شريک کېدای نه شي، تر څو چې د چارو په تر سره کولو کې مستقل او ټولواک نه وي او بې له دې؛ يعنې که د هغه په قلم او فرمان کار وکړي؛ نه يواځې د خدای ساری او شريک به نه وي؛ بلکې يو اطاعت کوونکی موجود به وي، چې د هغه په حکم سره کار کوي.

اتفاقا د جناب رسول الله (ص) د وخت مشرکان د خپلو نمانځليو خدايانو په باب د الهي چارو په ترسره کولو کې پر يو ډول استقلال معتقد وو.

د جاهليت په دوران کې د شرک يوه تته غونډې عقيده داوه، چې يوې ډلې فکر کاوه، چې د تقنين او تشريع حق احبارو او رهبانو ته سپارل شوي دي.؛ لکه چې د توبې د سورت په ٣١ کې آيت کې فرمايي :

[اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُواْ إِلاَّ لِيَعْبُدُواْ إِلَـهًا وَاحِدًا لاَّ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ؛(هغوی ؛ کتابيانو) خپل عالمان او راهبان او مسيح د مريمې زوی د الله پرځای خپل معبودان ونيول، حال داچې يوازې د ايکي يوه معبود (الله) د لمانځنې حکم ورته شوی و، چې بې له هغه بل د عبادت وړ نشته، هغه (الله) له هغه څه پاك دی، چې هغوی يې ورسره شريکوي.]

او یا شفاعت او مغفرت، چې د خدای ځانګړی حق دی، د هغوی بوتانو او معبودانو ته سپارل شوي دي او هغوی په دې لړ کې خپلواک دي؛ ځکه نو په شفاعت پورې اړوند آیتونه ټینګار کوي، چې هېڅوک د خدای له اجازې پرته شفاعت نه شي کولای؛ لکه چې د بقرې د سورت په ۲۵۵ آیت کې فرمايي : [مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ] که د هغوی عقیده دا وه، چې معبودان به یې د خدای په اذن شفاعت کوي؛ نو بیا د خدای له اذنه پرته د شفاعت د نفې پر مساله ټینګار ته څه ضرورت نه و.

د یوناني حکیمانو یوه ډله د هر ډول نړۍ لپاره یو خدای انګېره، چې د ډولونو تدبیرونه او یا د نړۍ تدبیر، چې خدایي فعل دی، ورته سپارل شوي وو، د جاهلي عربو دا ډله، چې پرښتې او ګرځند او ثابت ستوري یې نمانځل، د دې لپاره وه، چې تصور یې کاوه، چې د خلقت او انسان د نړۍ تدبیر ورته سپارل شوي دي او خدای د تدبیر له مقام نه بیخي لرې کړای شوی دی او هغوی په پوره خپلواکۍ سره د نړۍ د تدبیر څښتنان دي؛ ځکه نو هر هغه ټيټېدل او خضوع چې د دغه شان احساس انځورونکی وي، عبادت او نمانځنه ګڼل کېږي.

(ملل و نحل ۲۴۴/۲)

د جاهلي عربو یوې بلې ډلې بیا بوتان او لرګیني او اوسپنیزې مجسمې یې خپل خالق او د جهان او د انسان مدبر نه ګڼلې؛ خو د شفاعت د مقام څښتنان یې بلل او ویل یې چې " د یونس د سورت ۱۸ آیت" [وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَـؤُلاء شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللّهَ بِمَا لاَ يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلاَ فِي الأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ ؛ او (مشرکان) بې له خدایه هغه څه لمانځي، چې نه څه زیان (ترې تمبولای شي) او نه څه ګټه وررسولای شي او وايي : ((دا خدای ته زموږ سپارښتګر دي.)) (ورته) ووایه : ((ایا خدای له داسې څیزه خبروئ، چې هغه یې په اسمانونو اوځمکې کې نه پیژني؟!)) هغه له هغه څه پاك او لوړ دی، چې هغوی یې (ورسره) شریکوي!] د همدې باطل تصور له مخې، چې هغوی د شفاعت د مقام لرونکي دي، نمانځي یې او نمانځنه یې الهي دربار ته د خپل نزدیکت وسیله ګڼله او ویل به یې چې:

زمر ۳ آيت: [أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاء مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ؛ پوه شئ! نږه دين يوازې د الله دی او هغوی چې د الله پر ځای نور پالندويان نيولي (او وايي:) ځکه يې لمانځو، چې الله ته مو نژدې کړي؛ البته الله د قيامت پر ورځ په څه کې يې، چې اختلاف درلود، ترمنځ به يې پرېکړه وکړي.په واقع کې خدای دروغجن (او له حقه) بيخي منکر ته سمه لار نه ښيي.]
لنډه داچې له دغه راز احساس نه هر ډول راولاړ شوی عمل چې يو ډل سرسپارنه او ځان سپارنه وي، عبادت گنل کېږي ددې پر وړاندې چې بل هر چلند له دغه راز اعتقاد نه راولاړ نه شي او يو څوک له دا شان اعتقاد نه پرته د يوه چا پر وړاندې خضوع، درناوی او لوړاوی وکړي، عبادت او شرک نه دی، که يو حرام عمل هم وګڼل شي.
د ساري په توگه معشوق ته د عاشق، بادار ته د نوکر او خاوند ته د ښځې سجده عبادت نه دی، که څه هم د اسلام په سپېڅلي دين کې حرامه ده؛ ځکه د خدای له اذن او اجازې پرته هېڅوک دغه راز عبادت (البته د عبادت بڼه نه په خپله عبادت) چاته نه شې کولای.

## د بحث نتيجه

ترديې ځايه مو ستاسې فکر د عبادت او شرک له حقيقت سره اشنا کړای شو، اوس له دې بحث نه نچوړ او ځوښه رااېستل غواړو.که څوک د انسانانو پر وړاندې ټيټ او مات شي، نه داچې "رب" او "اله" يا د خدايي چارو مبداء يې وګڼي؛ بلکې له دې امله يې درناوی وکړي، چې هغوی: [وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ. لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ ؛ او و يې ويل :((لوراند (خدای ځان ته) اولاد نيولی دی)) هغه (له دې نيمګړتيا) پاك دی؛ بلکې هغوی [؛پرښتې ] د خدای نازولي بندګان دي؛ چې په خبرو کې پر هغه نه ورمخکې کېږي او(تل) يې امر عملي کوي.]انبيا ۲۶ – ۲۷)

دغه شان عمل هېڅکله بې له درناوي، تعظيم او تواضع نور څه نه دي. خدای د خپلو بندگانو يوه ډله په ځينو داسې صفاتو ښوولې ده، چې تعظيم او درناوي ته يې د هر انسان زړه کيږي، فرمايي: [إِنَّ اللّهَ اصْطَفَى آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ ؛ خدای، آدم او نوح او آل براهيم، او آل عمران پر نړ يوالوغوره کړي ول.] (عمران ۳۳ آيت)

خدای په قرن کريم کې په ډاگه ابراهيم عليه السلام د امامت او مشرتابه د مقام لپاره غوره کړی، فرمايي: [وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ ؛ او (درياد کړئ) چې کله خدای ابراهيم په ډول ډول وسايلو وازمېيه او هغه هم له دې ازمېښتونو ښه راووت (؛ نو) خدای ورته وويل : ((په واقع کې زه دې د خلکو امام او مشر ټاکم.)) [ابراهيم] عرض وکړ:((او له ځوځاته مې هم (مشران او امامان وټاکه.))) [خدای] ورته وويل:((ظالمانو ته مې وعده نه رسي (او يوازې ستا د اولادې سپېڅلي ددې مقام وړ دي))). (بقره ۱۲٤)

خدای په قرآن کريم کې حضرت نوح، ابراهيم، داود، سليمان، موسی، عيسی عليهم السلام او حضرت محمد (ص) په يو لړ داسې سترو صفاتو ستايلی دي، چې دغه هر صفت د زړونو د راماتولو او زړونو ته د ننوتلو سبب دي، ان چې مينه يې پر موږ فرض کړې ده: [لا اسئالکم عليه اجرا الا المودة فی القربی؛زه له تاسې نه په دې (تعظيم) سره څه بدله نه غواړم، بې له نژدېکت نه]شوری ۳۲ آيت

که څوک دغه بندگان په ژوند يا په مرگ په دې نامه ونمانځي، چې د خدای نازولي او منلي بندگان دي، بې له دې چې په خدايي يې ومني يا يې د خدايي چارو سرچينه وگڼي، دا درناوی هېڅ يو ملت عبادت نه بولي او نه يې کوونکي مشرک گڼي.

لکه چې ټول خبر يې، مونږ د انساني خوشحالۍ له مخې د حج په چارو کې حجر الاسود (چې يوه توره تيږه ده) ښکلوو، د خدای له کور نه (چې له خټو او گټو نه جوړه ده) گرد گرځو، د صفا او مروه په نامه د دوو غرونو ترمنځ ځغلو؛ يعنې هماغه څه کوو، چې بوت نمانځونيکو له خپلو بوتانو سره کول؛ خو تردې وخته د هيچا په ذهن کې

دانه ده راغلې، چې مونږ په خپلو دې کړنو سره ختمې او گټې نمانځو؛ ځکه مونږ په دغو ختمو او گټو کې ډېره لږه گټه او زيان نه وينو؛ خو که دغه چارې په دې نيت وکړو، چې تېرې او غرونه خدای او د خدايي اثارو سرچينه دي؛ نو بيا په بوت نمانځونکيو کې راغلو؛ نو د پيغمبر، امام، استاد، پلار، مور د لاسونو يا د قرآن يا نورو ديني کتابونو يا هغه څه چې د خدای گڼليو بندگانو ته منسوب دي، ښکلول، يواځې درناوی دی او بس.

حضرت آدم ته د پرښتو او حضرت يوسف ته د ورونو سجده په قرآن کې راغلې ده.

[وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلاَئِكَةِ اسْجُدُواْ لآدَمَ فَسَجَدُواْ إِلاَّ إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ؛او (درياد کړه) چې موږ پرښتو ته وويل : ((آدم ته سجده وکړئ.)) ټولو سجده وکړه؛ خو ابليس ونه کړه، سرغړونه او لويي يې وکړه او (د خپلې سرغړونې او تکبر له امله) د کافرانو له ډلې شو.](بقره/٣٤)

[وَرَفَعَ أَبَوَيْهِ عَلَى الْعَرْشِ وَخَرُّواْ لَهُ سُجَّدًا وَقَالَ يَا أَبَتِ هَـذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا وَقَدْ أَحْسَنَ بِي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاء بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِن بَعْدِ أَن نَّزغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَاء إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ ؛ ١٠٠ او خپل مور و پلار يې پر تخت کېنول او ټول (يو ولس وروڼه او مور وپلار) هغه ته (د خدای د شکرانې لپاره) سجده کوونکي (پر ځمکه) پرېوتل او (يوسف) وويل: ((پلاره! دا زما د هماغه مخکېني خوب تعبير دی، چې پالونکي مې رښتيا کړ او راسره يې ښېگڼه وکړه، چې زه يې له زندانه را وايستم او تاسې يې (دکنعان) له بېديا(مصر ته) راوستئ، سره له دې، چې شيطان زما او د ورونو ترمنځ شخړه اچولې وه، په حقيقت کې پالونکی مې چا ته چې وغواړي (او وړيې وبولي) په خورا باريکو تدبيرونو خپله غوښتنه پوره کوي؛ (ځکه) چې يوازې هغه پوه حکيم دی. ](يوسف/ ١٠٠)

دا د هيچا په ذهن کې نه ده راغلې، چې د پرېښتو او د يوسف عليه السلام د ورونو عمل د آدم عليه السلام نمانځنه (عبادت) او د يوسف عليه السلام پرستش و.

خبره دا وه، چې هلته سجده کوونکي خپل معبود ته د الوهيت او ربوبيت په هيڅ مقام قايل نه وو او نه يې هغوی خدای او د خدای چارو سرچينه گڼل؛ ځکه نو د هغوی عمل يواځې درناوی گڼل کېده، نه عبادت او نمانځنه.

د شيخ محمد بن عبدالوهاب ډله چې کله له دغه راز آيتونو سره مخ کېږي؛ نو سمدستي وايي: دا اعمال ځکه د معبودانو عبادت نه گڼل کېږي، چې دخدای په حکم شوي دي.

خو دې ته يې پام نه دی، چې سمه ده، چې دا ټولې چارې حتی د حضرت يعقوب په مخ کې د حضرت يوسف د ورونو اعمال د خدای په امر او د هغه د رضا لپاره وې؛ خو د عمل ماهيت هم عبادت او لمانځنه نه وه او خدای ورته امر کړی دی او که د عمل واقعيت په خپل ذات کې د مسجود عبادت وای؛ نو خدای به هيڅکله ورته پرې حکم نه وای کړی.

[وَإِذَا فَعَلُواْ فَاحِشَةً قَالُواْ وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءنَا وَاللّهُ أَمَرَنَا بِهَا قُلْ إِنَّ اللّهَ لاَ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاء أَتَقُولُونَ عَلَى اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ؛ او (دوی) چې کله کوم ناوړه کار کوي (؛ نو) وايي : ((موږ خپل پلرونه پردې (دود) موندلي دي او خدای راته پخپله هم ددې چارو د سرته رسولو امر کړی دی)) ووايه : ((خدای (هيڅکله) د بې حيا چارو د کولو امر نه کوي، ايا پر خدای هغه څيز تړئ، چې پرې نه پوهېږئ ؟!))(اعراف ۲۸ آيت)

## په ژوندوني له اولياوو الله نه مرسته

**له اولياء الله نه د يوه څيز غوښتنه ډول ډول کېږي، چې دادی:**

۱ ـ له يوه ژوندي انسان نه وغواړو، چې له مونږ سره د يوه کور په جوړولو کې لاس وکړي. يا له لوښي نه لرې اوبه راکړي.

۲ ـ له يو چا نه وغواړو، چې موږ ته دعا وکړي او له خدای نه راته د بخښنې غوښتنه وکړي، دا دواړه چارې له دې امله يو شان دي، چې له غوښتلي سړي نه به هغه څه غواړو، چې په سلو کې سل يې هغه کار په لاس کې دی، لومړنۍ غوښتنې په دنيا کې او دويمی په اخروي چارو پورې اړه لري.

۳ ـ له يوه چا نه غواړو، چې بې له عادي او طبيعي اسبابو يو کار راته وکړي، مثلا بې درملو رنځور روغ شي، يو ورک پيدا کړي، زموږ پور لنډ کړي يا په بله وينا ورنه غواړو، چې په اعجاز او کرامت سره له طبيعي او عادي وسايلو پرته زموږ غوښتنه ترسره کړي.

۵ ـ له دغسې يو چانه غواړو، چې له خدای ورکړي معنوي قدرت نه په استفادې سره زمونږ رنځور جوړ کړي، ورک مو راپيدا کړي، او...

دا دواړه بڼې د دويم او دريم سوال غوندې له ژوندي نه دي، څه چې په هغو دوو بڼو کې دي، هغه په مادي او طبيعي نړۍ کې ژوندی مسوول دی او په دغو وروستيو دوو حالتونو کې غوښتنه ظاهرا له مړه څنې دي؛ خو په واقعيت کې له ژوندي څنې دي.

له دغسې يوه چانه څه غوښتل کېدای نه شي، چې له موږ سره په مادي چارو کې په عادي اسبابو سره مرسته وکړي؛ ځکه منل شوې داده، چې هغه له دې نړۍ نه سترگې پټې کړې او له دغو عادي اسبابو څنې يې لاس لنډ شوی دی، په دې حساب پنځه حالته دي، چې درې صورته يې په مادي نړۍ کې له ژوندي څنې په غوښتنې پورې اړه لري او پاتې دوه يې په دنيا کې له مړه نه په غوښتنو پورې اړه لري.

**لومړی صورت:**
د کار او په عادي چارو کې له هغو ژونديو نه، چې طبيعي او عادي اسباب لري، مرسته غوښتل، د بشري تمدن بنسټ دی، په دې خاورينه نړۍ کې د بشر ژوند د مرستې پر بنسټ ولاړ دی او د نړۍ ټول عقلمندان په ژوندنيو چارو کې يو له بله مرسته غواړي، ددې حالت او صورت حکم دومره څرګند دی، چې هېڅوک په کې خنډ نهويني، څرنګه چې زموږ بحث قرآني دی؛ نو د يوه آيت په يادونه بسنه کوو:
ذوالقرنين د ياجوج او ماجوج د بلوسی په وړاندې د دېوال په جوړولو کې د سيمې هستوګنو ته مخ کړاو ويل ويل: [فاعيوني بقوة اجعل بينكم و بينهم ردما؛ له ما سره کلکه مسرته وکړئ، چې ستاسې او د دوی (ياجوج ماجوج) ترمنځ دېوال جوړ کړم.]

**دويم صورت:**
په مادي نړۍ کې له ژونديو نه د دعا او بخښنې غوښتنه ددغه راز يوې غوښتنې پياوړتيا او سمون د قرآن مجيد له غوښتنو څنې ده او که څوک له قرآن سره لږه اشنايي هم ولري، پوهېږي، چې د پېغمبرانو لار د امت لپاره د بخښنې او مغفرت غوښتنه وه او په خپله امت هم له هغوی نه دا غوښتنه کوله.
دادی په دې برخه کې راغلې آيتونه رااخلو. البته دا آيتونه پر څو برخو ويشلي دي، چې د اسانتيا لپاره شمېرې ورکړ شوې دي:
۱-ځينې وخت خدای پېغمبرانو ته امرکړی، چې د هغوی په باب ورنه د بخښنې غوښتنه وکړي؛ لکه: [فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ؛ نو خلکو ته د الهي رحمت (په برکت)؛ نرم (او مهربان) شوی يې او که بد خويه او سخت زړی وې؛ نو خلك درځنې خپربدل؛ نو ترې تېر شه او ښښنه ورته وغواړه او په چارو کې ور سره مشوره وکړه؛ خو چې کله دې هوډ وکړ (؛ نو

پرېکنده اوسه او) پر خدای توکل وکړه؛ ځکه خدای توکل کوونکي خوښوي.] (آل عمران/ ۱۵۹)

۲- [يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ؛ پیغمبره! چې کله مؤمنې ښځې درته د بيعت لپاره راشي(؛ نو شرط به يې دا وي) : له خدای سره به هېڅ څيز نه شريکوي او غلا او زنا به نه کوي او خپل ارمونی اولاد به په دروغو په خپل مېړه پورې نه تړي او په ښو (چارو) کې به له تا سرغړونه نه کوي؛ نو بيعت ورسره وکړه او له خدايه ورته ښښنه وغواړه، چې خدای ډېر ښښونکی (او) لورين دی.](ممتحنه/ ۱۲)

[خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاَتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ؛ د هغوی له مالونو (د زکات په نامه) صدقه واخله، چې په هغه يې پاك او سوتره کړې او (د زکات اخستو پر وخت) ورته دعا وکړه؛ ځکه ستا دعا ورته ډاډېنه ده او خدای اورېدونکی (او) پوه دی.] (توبه/ ۱۰۳)

په دې آيت کې خدای په ښکاره پيغمبر ته امر کوي، چې د هغوی لپاره دعا وکړه او د هغه د دعا اغز دومره چټک دی، چې هغوی د پيغمبر په دعا سره ځان ارام ګڼي.

۲ _ ځينې وخت به پيغمبرانو په خپله له هغوی سره ژمنه کوله، چې وخت راشي؛ نو د بخښنې غوښتنه به مو وکړو؛ لکه: [قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَاء مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاء أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَا أَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللَّهِ مِن شَيْءٍ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ؛ په يقين، تاسې ته ابراهيم او ملګري يې په چلن کې غوره بېلګه ده، چې کله يې خپل قوم ته وويل : ((په واقع کې موږ له تاسې او (هغه) څه چې د خدای پر ځای لمانځئ، بېزاره يو. ستاسې له (دينه) منکر يو او زموږ او ستاسې تر منځ تر هغه پورې، چې تاسې په يوه خدای ايمان راوړئ، تلپاتې کينه او دښمني اعلان ده؛ خو د ابراهيم هغه خبره (بېله ده) چې خپل پلار [؛ د مور پلار، تره، پلندر] ته يې وويل : زه به هرومرو تاته ښښنه وغواړم، که څه هم

زما په وس کې نشته، چې له الله نه ستا لپاره څه تر لاسه کړم. پالونکیه! موږ يوازې پر تا توکل کړی او يوازې تاته مو (رجوع او) مخ کړی دی او همدا ستا لوري ته (د ټولو) درگرځېدل دي.] (ممتحنه/ ٤)
[قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ؛(ابراهيم) وويل :((پر تا دې سلام وي، زه به ژر له خپل پالونکي درته ښښنه وغواړم؛ ځکه هغه تل پر ما مهربان دی.] (مريم/ ٤٧)
[وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلاَّ عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لأَوَّاهٌ حَلِيمٌ ؛او ابراهيم چې خپل پلار [؛د مور پلار يا تره] ته د ښښنې دعا کړې وه؛ نو د هغې وعدې له مخې وه، چې ورسره يې کړې وه(چې ايمان راوړو ته يې جذب کړي؛) خو چې کله ابراهيم ته څرگنده شوه، چې هغه د خدای دښمن دی؛ نو له هغه سره له خپلې کړې وعدې څنگ ته شو، په رښتيا چې ابراهيم زړه سواندی (او) زغمناك و. ] (توبه/ ١١٤)
دا آيتونه ښيي، چې پيغمبرانو له گنهگارو سره د استغفار (مغفرت غوښتنې) د زېري وعده کوله، ان چې ابراهيم هم خپل پلار ازر ته دا شان وعده ورکړې وه؛ خو چې په بوت نمانځنه يې کلک وليد، د بخښنې له غوښتنې يې ډډه وکړه؛ ځکه د دعا د قبلېدو يو شرط هم دادی، چې بخښل کېدونکی لوری به موحد وي، نه مشرك.
٣ _ خدای امر کوي، چې يوه ډله گنهگار مؤمنان دې د خدای د بخښنې غوښتو لپاره د جناب رسول الله (ص) حضور ته ورشي او ورنه دې وغواړي، چې د هغوی په باب د بخښنې دعا وکړي، خدای د هغوی گناهونه بخښي.
[وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ؛ او د هغوی په ډېرو پټو خبرو(مشورو) کې څه خيراو گټه نه وي؛ خو که څوك (له دې لارې) له نورو سره د مرستې لارښوونه وکړي يا د نېك کار او د خلکو دا صلاح کولو لپاره څه ووايي (؛ نو دا ښه خبر ه ده) او څوك چې د خدای د خوشحالولو لپاره داسې وکړي؛ نو ژر به ستر اجر ورکړو.]

(نساء/ ٦٤)
تردې بل څرگند آیت کوم دی، چې خدای گنهگار امت ته حکم کوي، چې د خدای د بخښنې د غوښتو لپاره د پیغمبر حضور ته ورشي او ورنه د ځن په باب د دعا غوښتنه وکړي؟ د د جناب رسول الله (ص) حضورته د ورتگ او ترې د بخښنې د غوښتنو دوې گټې دي:
الف: له جناب رسول الله (ص) نه د بخښنې غوښتنه په گنهگارو کې د پیغمبر د اطاعت او پیروۍ روح ژوندی کوي او د دې سبب کیږي، چې د جناب رسول الله (ص) د مقام د ارزښت په پېژندو سره د هغه صلی الله علیه و اله وسلم ښه تر ښه پیروي وکړو. دغه شان راشه درشه په انسان کې د پیغمبر پر وړاندې د ور ماتېدو یو ځانگړې حالت پیدا کوي، او انسان دې ته چمتو کوي، چې [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللّهِ وَالرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلاً ؛ مؤمنانو! له خدای استازي او اولوالامر ځنې مو اطاعت وکړئ او که ستاسې ترمنځ په کومه [دیني] چار کې شخړه پیښه شي (؛ نو د منځگړتوب لپاره د) خدای [کتاب] او د رسول [سنتو] ته مخه کړئ که (په رښتیا) پرخدای او د اخرت پر ورځې ایمان لرئ. دا (کار) غوره او ښه پایله لري. (نسا ٥٩ آیت) د زړه له کومې خپله کړنلار کړي.
ب: دا کار د امت په ذهنونو کې د جناب رسول الله (ص) د مقام او دریځ ښه انځور وي او دا جوتوي، چې لکه مادي ښېگڼې، چې په ځانگړیو اسبابو سره الهي بندگانو ته رسي، دغه شان معنوي ښېگڼې (د خدای مغفرت) هم د پیغمبر او د خدای د دوستانو د دعاوو په څېر ټاکلیو اسبابو له لارې راکوزېږي، که د اسمان لمر د تودوخې او انرژۍ د خپرولو او د شیندلو سبب دی او دغه ښېگڼه د لمر په پلوشو انسانانو ته وررسي، همدارنگه معنوي فیض او الهي لطف د رسالت د اسمان د لمر په وسیله الهي بندگانو ته رسي. او د "هستۍ نړۍ" په دواړو مرحلو د اسبابو او مسبباتو نړۍ کې ده او مادي او معنوې اسباب په دواړو جهانونو کې له اسبابو سره دي.

٤ _ له ځینو آیتونو نه دا راولاړېږي، چې مسلمانان همېشه د رسول الله حضور ته د دعا د غوښتو لپاره ورتلل او چې کله به مسلمانانو منافقانو ته د دعا وړاندیز کاوه؛ نو هغوی به ترې مخ اړاوه؛ لکه چې قرآن د منافقون د سورت په ۵ آیت کې فرمایي: [وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُؤُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ؛ او چې ورته ویل کېږي : ((راشئ، چې د خدای استازی درته ښښنه وغواړي)) (؛ نو) د (ملنډو، کبر او غرور له مخې) خپل سرونه تاووي او ګورې یې، چې له خبرو دې په کبر مخ اړوي.

۵ _ ځینې آیتونه ګواهي ورکوي، چې خلک له سپېڅلي فطرت نه په الهام سره پوهېدل، چې د خدای په دربار کې د هغوی لپاره د پېغمبر دعا ځانله اثر لري او په سلو کې سل منلې ده، انساني سپېڅلې ختمه هغوي ته الهام بخښونکې ده، چې الهي فیض خلکو ته د پېغمبرانو په وسیله رسي؛ لکه خدایي لارښوونه، چې د همدوي په وسیله خلکو ته رسي؛ ځکه به نو پېغمبر (ص) ته د دعا لپاره ورتلل، چې له خدای نه ورته د بخښنې غوښتنه وکړي.

د یوسف د سورت په ۹۷ او ۹۸ آیتونو کې فرمایي :

[قَالُواْ يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ. قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيَ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ؛(زامنو یې) وویل : ((پلاره! له خدایه زموږ د ګناهونو ښښنه وغواړه، چې موږ خطاکاران وو.)) هغه وویل :((ژر به له خپل پالونکي درته ښښنه وغواړم، چې هغه ډېر ښښونکی (او) لورین دی.))]

۵_ ځینې آیتونه دي، چې پېغمبر ته خبرداری ورکوي، چې د هغو منافقانو په باب ستا د بخښنې دعا د منلو وړ نه ده، چې لا په بوت نمانځنه لګیا دي او دا آیتونه له مخکېنیو هغو نه یو ډول استثنا ده او ښیي، چې له دې پرته نور په هر څه کې د پېغمبر دعا ځانګړی اثر لري؛ لکه چې فرمایي: [اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِن تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً فَلَن يَغْفِرَ اللّهُ لَهُمْ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ كَفَرُواْ بِاللّهِ وَرَسُولِهِ وَاللّهُ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ؛ هغوی ته ښښنه وغواړې، که و نه غواړې (ان) که اویا ځل ورته ښښنه

وغواړې؛ خدای به یې هېڅکله ونه بښي؛ ځکه پر خدای او پېغمبر یې کافران شوي دي او خدای سرغړاندو ته سمه لار نه ښيي. ](توبه /۸۰)
[سَوَاء عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ؛ دوی ته بې توپيره ده، ببښنه ورته وغواړې که ونه غواړې؛ خدای یې هېڅکله نه ببښي[؛ ځکه] چې خدای پوله ماتو ته سمه لار نه ښيي.] (منافقون ٦)
[وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُواْ يَا مُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِي إِسْرَآئِيلَ؛ او ناورین به چې پرې راغې؛ نو ویل یي : ((موسی!پالونکي دې، چې درسره کومه وعده کړې، ترې وغواړه، چې عملي یې کړي، که له موږ دې دا ناورین ایسته کړ؛ نو هرومرو ایمان راوړو او بني اسراییل درسره لېږو.))(اعراف/ ١٣٤)
دلته گنهگاران له حضرت موسی بن عمران (ع) نه د دعا غوښتنه کوي او د "بما عهد عندک" جملې په گواهۍ سره هغوی پوهېدل، چې خدای له موسی سره داسې يوتړون کړی دی.
که هغوی د "ادع لنا ربک" په جملې سره له موسی علیه السلام نه په خپله د عذاب د لرېکولو غوښتنه کوله؛ نو په هغه کې یې دا ځواک لیده، په دې صورت کې دغه آیت په دربيم ډول آيتونو کې (له ژوندیو نه دعا غوښتنه او صحیح ده، چې د خدای په قدرت سره له پېغمبرانو ځینې خارق العاده چارې وغوښتل شي) راځي؛ خو "ادع لنا ربک" جمله دا احتمال کمزوری کوي؛ البته په دې آیت کې دا رڼاوې نه ده شوې، چې د مشرکانو په حق کې د حضرت کلیم الله علیه السلام دعا له منلو نه ده.
٧ _ له قرآني آیتونو نه دا څرگندېږي، چې یوې ډلې مؤمنانو همېشه نورو لپاره دعا کوله؛ لکه چې فرمايي: [وَالَّذِينَ جَاؤُوا مِن بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِّلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَؤُوفٌ رَّحِيمٌ ؛ او (همدااز) څوک چې تر هغوی [؛مهاجرینو او انصارو] وروسته راغلي دي (او) وايي : ((پالونکیه! موږ او زموږ هغه ورونه وبښه، چې له موږه مخکې یې ایمان راوړی دی او

زموږ په زړونو کې مؤمنانو ته (هېڅ ډول) کينه مه اچوه. پالونکيه! ته خواخوږی لورين يې.)) (حشر / ۱۰)
نه يواځې دا ډله مؤمنانو ت دعا کوي؛ بلکې د عرض وړونکی او د شاوخوا هستوګن هم مؤمنانو ته د بخښنې غوښتنې کوي؛ لکه، چې قرآن فرمايي: [الذين يحملون العرش و من حوله يسبحون بحمد ربهم و يومنون به و يستغفرون للذين آمنوا ربنا و سعت کل شی رحمه و علما فاغفرللذين تابوا و اتبعوا سبيلک وقهم عذاب الجحيم؛هغه ډله، چې عرش وړي او هغه کسان، چې شاخوا يې دي، د خدای په ساېنې سره هغه عيب او نيمګړتيا نه منزه کوي او د مؤمنانو لپاره د بخښنې غوښتنه کوي (او وايي:) خدايه ستا رحمت او علم پر هر ځای خپور دی؛ نو هغه کسان وبخښه، چې توبه يې ايستلې او ستا پر لار ځي او د دوزخ له اوره يې وژغوره]
نو ځومره به ښه وي، چې موږ هم د همدې ډلې په لار روان شو او دمؤمنې ډلې لپاره همېشه د بخښنې غوښتنه وکړو.
تردې ځايه له قرآني مدارکو نه له غيرالله نه د غوښتنې له پنځو صورتونو نه د دوو صورتونو حکم روښانه شو او له ژونديو نه د غوښتنې په باب له دريو صورتونو نه يو صورت پاتې دی، چې دلته يې څېړو.

**درېيم صورت:**
له داسې يوه ژوندي نه چې پر خارق العاده چارو يې لاس بر دی مرسته غواړو، چې له طبيعي وسيلې پرته راته يو کار وکړي و؛ لکه په معجزې سره يوه ناروغ ته شفا ورکوي، چينه روانه کړي او......
ځينې اسلامي ليکوالان دا شان غوښتنه دويم صورت ته ورګرځوي او وايي مقصود دادی، چې له خدای نه وغواړي، چې ناروغ ته يې شفا ورکړي. پور يې لنډ کړي او....
ځکه داسې چارې د خدای کارونه دي.
او وسيله يې د پېغمبر او امام دعا وه؛ نو ځکه د خدای کار مجاز ادعا کوونکي ته سپارل کيږي.

(کشف الارتياب ۲۷٤ مخ.)
خو قرآني آيتونه په ډاګه دا ګواهي ورکوي، چې له پېغمبرانو نه دغه شان غوښتنه سمه ده.
سمه ده چې قرآن شفا خدای ته منسوبوي او فرمايي: [وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ؛ او چې کله رنځور شم؛ نو هماغه مې رغوي ] (شعرا /۸۰ آيت)
خو په ځينو نورو آيتونو کې شفا په شاتو او قرآن پورې تړل شوې ده او فرمايي: [ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلاً يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاء لِلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ؛ بياهر ډول مېوې (او د ګلانو شيره) وخوره او کومې لارې، چې پالونکي دې درته ټا کلي دي، په اسانۍ ووهه.)) له ګېډو يې په بېلابېلو رنګونو کې شات راوځي، چې خلکو ته شفا ده، په رښتيا چې په دې کې انديالو ته يوه نښه ده!](نحل ٦٩ آيت)
[تنزل من القرآن ما هو شفا و رحمة للمؤمنين؛او له قرآنه هغه څه راکېباسو، چې مؤمنانو ته شفا او رحمت ده ](بني اسراييل ۸۲ آيت)
[يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاء لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ؛ خلکو! په يقين د پالونکي له لوري مو درته نصيحت راغلی دی، چې د زړونو د ناروغيو درملنه او مؤمنانو ته لارښود او رحمت دی.] (يونس ٥٧ آيت
ددغو دوارو ډلو آيتونو (خدای ته د شفا اختصاص او شاتو، قرآن او الهي موعظو ته يې تثبيت) ترمنځ د پېوستون لار داده، چې خدای "موثر بالاستقلال" (خپلواک اغېزمن) دی او په اغېز پرې ايستنه کې پر ځان متکي دی او د نورو عواملو تاثير د خدای په اذن او سببيت سره دی.
په اسلامي او فلسفي نړۍ ليد کې ټول عوامل او چارې د خدای تسبيبي فعل دی او علتونه له ځانه هېڅ استقلال نه لري؛ نو د عقل، پوهې او قرآني آيتونو له مخې په دې کې هېڅ خنډ نه شته، چې کوم خدای، چې شاتو او دارويي بوټيو ته د شفا قدرت ورکړی دی، هماغه قدرت او واک يې پېغمبرانو او اولياوو ته هم ورکړی؛ لکه رياضت کوونکی، چې په رياضت سره ستر روحي قدرتونه ترلاسه کولای شي. په دې صورت

کې څه گرانه ده، چې خدای په فضيلت او بندگۍ سره ورته داسې قدرت او طاقت ورکړي، چې په ځانگړيو حالتو کې حيرانوونکې چارې ترسره کړي.
(په دې باب د مولف د "نيروی معنوی پيامبران" کتاب ته مراجعه وکړئ)
د جناب رسول الله (ص) او امام شفا ورکول او د اوليا الله چارې او د خارق العاده چارو ترسره کول سره څه ټکر نه لري.
قرآني آيتونه په څرگنده گواهي ورکوي، چې خلکو دغه راز چارې له پېغمبرانو او کله هم له نورو غوښتي، چې بېلگې يې دادي:
دا لاندې آيت ښيي، چې بني اسراييلو په وچکالۍ کې له خپل پېغمبر نه د اوبو غوښتنه کوله. هغه هم نه له طبيعي سرچينو؛ بلکې له عادت نه پر خلاف توگه، داسې نه چې ويلې يې واى، چې له خداى نه راته د اوبو سوال وکړه؛ بلکې ويل يې چې موږ خړوب کړه او اوبه راکړه.
قرآن فرمايي: [وَقَطَّعْنَاهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى إِذِ اسْتَسْقَاهُ قَوْمُهُ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَأَنزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَى كُلُواْ مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَـكِن كَانُواْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ؛ او موږ بني اسراييل پر دولسو خېلونو واېشل، چې هرخېل (د بني اسراييلو د ځوځات) يوه پښه وه او چې (کله په دښته کې) د موسى قوم له هغه اوبه وغوښتې؛ نو هغه ته مو وحې وکړه : ((پر گټ خپله لکړه ووهه))؛ نو ناڅاپه ترې دولس چينې راوخوټېدې، چې هر ټبر د خپلو اوبو څښلو ځای پېژانده او وريځ مو پرې سيوری کړه او هغوی ته مو، من (ترنجبين) او سلوا (مړزان) لېږلي ول؛ (او هغوی ته مو وويل:) هغه پاك شيان وخورئ، چې درکړي مو دي (اودخدای شکر وباسئ، هغوی سرغړونه او تېری وکړ؛ خو) پر موږ يې تېری ونه کړ؛ بلکې پر ځانونو يې تېری وکړ.](اعراف/١٦٠) تردې لا روښانه هغه آيت دی، چې سليمان عليه السلام ورسره ناستو خلکو نه وغوښتل، چې د بلقيس تخت له سوونو فرسخو او له خنډونو او بنديزونو سره سره راوړي... او و يې ويل: [قَالَ يَا أَيُّهَا المَلَأُ أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن

يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ؛(سلېمان) وويل: (((د هېواد) مشرانو! له تاسې به کوم يو د هغې تخت ماته تر دې مخکې راوړي، چې هغوی ماته اېللي راشي؟))نمل/ ٣٨)
هدف دلته د بلقيس د تخت په غير عادي توګه رارسول وو. همدارنګه د نمل سورت په ٣٩ – ٤٠ آيتونو کې د "عفريت" او "اصف برخيا" له ځواب نه هم جوتېږي.
د خبرې زړی په يوه خبره کې دادی، چې ځينې دا ګڼي، چې اسانه او عادي چارې ګڼې د بندګانو کار دی او غير عادي چارې د خدای کار دی، چې د عادي بشر له وسې بهر وي.
حال دا چې د خدايي او غير خدايي چارو ترمنځ اندول، استقلال او نه استقلال دی، خدايي چارې دادي، چې کوونکی يې د بل له مداخلې او مرستې پرته تر سره کړي. په بله وينا: خدايي چارې هغه دي، چې کوونکی يې په تر سره کولو کې مستقل، بشپړ او بل چاته له سره اړ نه وي؛ خو غير خدايي چارې اسانه او عادي وي او ګرانې او غير عادي دادي، چې کوونکی يې په کولو کې مستقل نه وي؛ نو دا څه ناشونې نه ده، چې خدای خپلو اولياوو ته د هغو خارق العاده چارو ترسره کولو وسه ورويښي، چې د عادي بشر له وسې بهر وي او موږ هم ترې د دغه راز چارو ترسره کول وغواړو.
قرآن په ډېرو ښکاره ټکيو کې حضرت مسيح (ع) ته فرمايي:[إِذْ قَالَ اللّهُ يَا عِيسى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلَى وَالِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلاً وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْراً بِإِذْنِي وَتُبْرِىءُ الأَكْمَهَ وَالأَبْرَصَ بِإِذْنِي وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوتَى بِإِذْنِي وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِنْهُمْ إِنْ هَـذَا إِلاَّ سِحْرٌ مُّبِينٌ ؛ (دريادکړه) چې کله خدای، عيسی د مريمې زوی ته وويل: ((پر تا او مور دې زما نعمت درياد کړه! ما په ((روح القدس ؛ سپېڅلي روح)) ستا مرسته وکړه، چې په زانګو(او پوره عمر کې دې) له خلکو سره خبرې کولې، ما تا ته کتاب، حکمت، تورات او انجيل دروښوول، تا زما په حکم له ختې د مرغۍ (جوسه) جوړوله او په هغې کې دې پوکی کاوه او جوسه به زماپه حکم مرغۍ شوه، تا زما په امر مور زېږي ړانده او د برګي (پيس) ناروغان روغول او زما په امر دې مړي (هم) ژوندي کول

او چې کله بني اسراییلو ته له څرګندو دلایلو سره ورغلې، ما ته د هغوی له زیان رسونې وژغورلې؛ نو له هغوی د حق منکرانو (کافرانو) وویل : ((دا خو ښکاره کوډې دي.)) (مائده/ ۱۱۰)

دغه ټول آیتونه پردې شاهدي ورکوي، چې اولیاء الله د د غه شان قدرتونو لرونکي دي او له هغوی نه د خارق العاده چارو غوښتنه یو دودیز او مروج کار دی او قرآن هم ددغه شان غوښتنو په ملاتړ ګواهي ورکوي.

تردې ځایه د قرآن له نظره د درې واړو صورتو " له ژوندیو غوښتنه" حکم څرګند شو او ومو لیدل، چې قرآن په ډاګه د دغه شان غوښتنو د تائیدګواهي کوي.

اوس دا ګورو چې د پاتې دوو صورتونو حکم چې له مقدسو ارواحونه د سوال په باب دی، د قرآن او حدیث په رڼا کې روښانه کړو.

## د اولیاء الله له ارواحو نه مرسته غوښتنه

مهمه مساله له اولیاء الله نه د مرستې په باب ده، د "مرگ" په حال کې مرسته، په بله وینا: هغه جهان ته د تگ پر وخت، د مرستې دغه غوښتنه د دعا په بڼه وي که د کوم ستر کار د ترسره کولو په بڼه؛ ځکه نني مسلمانان د پیغمبر یا اولیاوو په عصر کې نه دي، چې ورشي او مخامخ غوښتنه ترې وکړي؛ بلکې د هغوی زیاتره غوښتنې د انبیاوو او اولیاوو له مقدسو ارواحو څنې دي؛ ځکه د دغو دوو صورتونو د حکم تشریح ځانگړی ارزښت لري.

ددې موضع څېړنه د څلورو خبرو په تشریح پورې تړلې ده، چې دغو څلور واړو خبرو په پوهېدو سره دد غه شان استمدادونو او مرستې غوښتنو تایید پیدا کېدای شي، هغه څلور ټکي یا خبرې دا دي:

۱ ـ تر مرگ وروسته د انسان د روح بقا او پایښت.

۲ ـ د انسان واقعیت د هغه هماغه روح او روان دی.

۳ ـ د ارواح له نړۍ سره اړیکې ممکنې دي.

٤ ـ اسلامي محدثانو رااخستي صحیح احادیث ددغو استمدادونو څرگند ملاتړ کوي او د مسلمانانو چلند په هر عصر کې همېشه همداسې و.

دا دی له دغو څلورگونو ټکیو څنې د هر یوه تشریح:

## تر مرگ وروسته د انسان د روح بقا او پایښت

۱ ـ قرآني آیتونه په ډاگه گواهي ورکوي، چې مرگ د ژوند پای نه دی؛ بلکې د یوې نوي ژوندانه لپاره یو کړکی ده، چې انسان ترې په تېرېدو سره په یوه نوي ژوند او یوې نوې نړۍ کې پل ږدي. داسې یوه نوې نړۍ، چې تر مادي او طبیعي نړۍ ډېره لوړه ده.

كومه ډله، چې مرگ د انسان فنا گڼي او عقيده يې وي، چې په مرگ سره هر څه له منځه ځي او بې له بې روحه جسده، چې هغه هم څه موده وروسته په خاوره او نورو عناصرو بدلېږي، څه نه پاتې کېږي، هغوی ناځانخبري او ناخودآگاه د ماديت پر فلسفې روان دي او له مادي مکتب يې الهام اخستی دی.
دا ډول فکر ددې څرگندوی دی، چې ددغه شان نظر خاوندان ژوند د بدن د مادي اجزاوو او د مغزو او عصبي سلسلې له فزيکي او کيمياوي عکس العملونو پرته نور څه نه گڼي او د بدن د گرمۍ په له منځه تلو او د حجراتو په درېدو د انسان ژوند له منځه ځي او انسان د تېرې په شان کېږي. روح او ساه به د دوی له نظره د مادي او د هغې د خواصو له انعکاس پرته نور څه نه دي او د دغو خواصو او د بدن د اجزاوو د متقابلو تاثيراتو په له منځه تلو سره روح بيخي باطلېږي او نور د روح د شته والي او پايښت او د ارواحو د نړۍ په نامه څه نه دي پاتې.
د انسان د روح په باب دغه شان نظر له " ماترياليزم ؛ ماده نمانځنې" نه خړوبېږي، په دغه مکتب کې انسان يو موټر دی، چې له بيلابېلو پرزو نه جوړ دی او متقابلې اغېزې يې په مغزو کې د تفکر او درک قوت راپيدا کوي او د توکيو او عناصرو په سپړل کېدو سره يې د تفکر او ژوندانه اثار بيخي له منځه ځي.
د روح په باب د ماترياليسانو – ماده نمانځيونکيو نظريه د نړۍ د سترو فيلسفانو او الهي دانشمندانو په نظر بيخي مردوده ده او الهيون د انسان لپاره د بدن او صعبي سلسلي او متقابل مادي عکس العملونو پر مادي نظام سربېره د روح په نامه يوه جوهر ته هم قايل دي، چې تر څه وخته د دې بدن ملگرتيا کوي او بيا ورسره تړون پرې کوي او په يوه ځانله چاپېريال کې له يوه ډېر لطيف بدن سره اوسي. تر مرگ وروسته د انسان بقا داسې مساله نه ده، چې په مخونو کې يې جوته او څرگنده کړو؛ ځکه د روح او نفس پايښت په قرآني آيتونو، ژورو فلسفي دلايلو او دنيو ارواپوهانو او روانشناسانو يقين راوستونکيو تجربو جوت شوی دی. موږ دلته هغه قرآني آيتونه را اخلو، چې تر مرگ وروسته د روح په پايښت گواهي ورکوي.

# قرآني آیتونه د ارواحو په پایښت ګواهي ورکوي

قرآني آیتونه په ډاګه له بدن نه تر بېلتون وروسته د روح په بقا ګواهي ورکوي، دلته یواځې د آیتونو د متن په راوړو بسیا کوو او څېړنه بل وخت ته پرېږدو.
[وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ؛ او د خدای په لار کې وژل شویو ته مړه مه وایئ؛ بلکې ژوندي دي؛ خو تاسې نه پوهېږئ.(او په حسي درک ورته ځیرېدای نشئ)] (بقره/ ۱۵٤)
[وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ. فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ. يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ ؛ (ای پېغمبره!) د خدای په لار کې وژل شوي، مړه مه ګڼه؛ بلکې دوی ژوندي دي (او) د خپل پالونکي پر وړاندې روزي ورکول کېږي! خدای چې پرې له خپلې لورنې پرېمانه نعمتونه لورولي(؛ نو) پرې خوښ دي او په دې لټه کې دي، چې ورپسې پاتې کسانو ته، چې لا تر اوسه له دوی سره یوځای شوي نه دي [؛مجاهدین او راتلونکي شهیدان] زېری ورکړي (؛ ځکه په هغه دنیا کې د هغوی لوړ مقامونهویني اوپوهېږي)چې وېره او خپګان پرې نشته؛ او هغوی د خدای په نعمت او لورنې خوشحاله دي(او ګوري چې) خدای د مؤمنانو اجر نه لاهوکوي (نه د شهیدانو او نه د هغو مجاهدینو ثواب، چې شهیدان شوي نه دي) ](آل عمران/ ۱٦۹-۱۷۱)
[إِنِّي آمَنتُ بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ. قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ. بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ ؛(له همدې امله) په حقیقت کې ما ستاسې پر پالونکي ایمان راوړی؛ نو زماخبرو ته غوږ کېږدئ.)) (په پای کې یې هغه شهید کړ او) هغه ته وویل شول : ((جنت ته ننوځه.)) و یې ویل: ((کاشکې زما قوم پوهېدای، چې پالونکي مې وبښلم او په عزتمنو کې یې وشمېرلم!)) (یس ۲۵-۲۷)
له هغه جنت نه چې هغه (صالح) ته یې د ورننووتو وویل شول، مقصد برزخي جنت دی؛ نه اخروي؛ ځکه چې هغه هیله او ارمان کوي، چې کاشکې قوم مې پوهېدای، چې زه مې خدای بخښلی او درونډ کړی یم، ددغه شان خبرېدو هیله له اخروي جهان

سره، چې د انسان له سترګو نه په کې پردې لرې کېږي او له یوه انسان نه د بل حالت پټ نه وي، سمون نه خوري؛ بلکې ناخبري له دنیوي جهان سره ښايي، چې ددې دنیا انسان د هغه جهان د انسانانو له حالت نه خبر نه دی، چې قرآني آيتونه پردې ټکي ګواهي ورکوي.

پردې سربېره په نورو آيتونو کې هم روښانه کېږي، چې تر مرګ، بخښل کېدو او جنت ته يې تر ننوتو وروسته د هغه د قوم د ژوند ډېوه په اسماني پوکي مړه شوه؛ لکه چې فرمايي:

[وَمَا أَنزَلْنَا عَلَى قَوْمِهِ مِن بَعْدِهِ مِنْ جُندٍ مِّنَ السَّمَاء وَمَا كُنَّا مُنزِلِينَ. إِن كَانَتْ إِلاَّ صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ ؛ او د هغه (تر شهادت) وروسته موږ له اسمانه پر قوم يې کوم لښکر راونه لېږه او (هېڅکله زموږ دود او سنت دا نه و، چې) لښکرې ولېږو(؛ بلکې عذاب خو يې)یوه (اسماني) کړيکه وه؛ نو ناڅاپه مړه ساړه سمخ (پراته) و. او پر(دې) بندګانو افسوس، چې (لارښوونې ته) يې هر استازی راغلی(؛ نو) ټوکې او ملنډې يې ورپورې کړي دي.] (يس/ ۲۸-۲۹)

له دغو دوو آيتونو څرګندېږي، چې د هغه قوم جنت ته تر ننووتو وروسته له برزخي جنت نه پرته نور څه نه شي کېدای

[النار يعرضون عليها غدوا و عشيا و يوم تقوم الساعة ادخلوا آل فرعون اشد العذاب؛ آل فرعون ته هر سهار او ماښام اور ښوول کېږي، چې کله قيامت شروع کېږي، حکم به وشي، چې آل فرعون له سخت عذاب سره ورننباسئ ](مؤمن ٤٦)

له دغو آيتونو نه د برزخ په نړۍ کې د هغوی د ژوند پايښت جوتېږي؛ ځکه د قيامت تر راتګ د مخه سبا او بېګا اور ته ښوول کېږي؛ خو د قيامت تر پيل وروسته سخت عذاب ته ورننوځي.

که په آيت کې (و يوم تقوم الساعة) نه وای، د ړومبۍ برخې مطلب به ډېر روښانه نه وای؛ خو د آيت له ذيل نه روښانه کېږي، چې مقصود هماغه د برزخ وخت دی؛ ګنې نو د دوو جملو تقابل سم نه و.

پردې سربېره د سهار او ماښام (اور ته ښوول) همددې گواهي ورکوي، چې مقصود د قیامت جهان نه دی؛ ځکه هلته سهار او ماښام نه وي.
تردې ځایه د قرآن له مخې له ځلور گونو مذاهبو څنې لومړی مطلب روښانه شو، اوس د نورو ځلور گونو مطالبو په باب غږېږو.

## د انسان واقعیت، د هغه روح دی

انسان په لومړي سر کې د جسم او روح یو گډون دی؛ خو د انسان واقعیت د هغه هغه روح دی، چې له بدن سره یې ملگرې دی، مونږ دا مساله له فلسفي پلوه نه څېړو دا وخت د اسلام او یونان د فیلسوفانو له نظرونو سره کار نه لرو؛ بلکې یواځې د قرآن له نظره دا موضوع رامنځته کوو.
د هغو آیتونو له څېړنې، چې په قرآن کې د انسان په باب راغلې، دا حقیقت ښه څرگندېږي، چې د انسان واقعیت د هغه هماغه روح او نفس دی. دادی ددې آیت مطلب ته ځیر شئ:
[قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ؛ ووایه : ((پر تاسې، چې د مرگ پرښته گومارل شوې ده، ستاسې (روح) اخلي، بیا به د خپل پالونکي پر لور بېرته وگرځول شئ.))](سجده/ ١١)
د "توفی" کلمه د مشهورې معنی (مړه کول) پرخلاف د نیول او ټینگولو په معنی ده؛ نو د "یتوفاکم" جملې مطلب دادی، چې تاسې نیسي.
که د انسان واقعیت د هغه روح او روان دی، د آیت تعبیر به صحیح وي؛ خو که روح د انسان د شخصیت یوه برخه وي او پاتې نور یې بهرنی بدن وي؛ نو په دې صورت کې دا تعبیر مجاز وي؛ ځکه د مرگ پرښته زمونږ بدن او بهرني ماده نه نیسي؛ بلکې جسد په خپل حال پاتې وي او یواځې روح مو اخلي.
کوم آیتونه چې د انسان پر وړاندې د روح موقعیت روښانوي، هغه په دې آیت پورې اړه نه لري او مونږ د بېلگې په توگه په یوه آیت بسیا کوو.

دا حقیقت چې د انسان واقعیت او د روحي او معنوي بشپړتیاوو مرکز یې همدا روح دی او بدن یې یوه جامه ده، چې پرې پوښل شوی دی، تر مرگ روسته د روح د پایښت په پام کې ساتلو سره، چې په لومړي مطلب کې تشریح شو، ښه په ډاگه کېږي، قرآن مرگ د انسانیت فنا او د بشر د ژوند پای نه گڼي؛ بلکې د شهیدانو او نېکانو او جنایتکارانو لپاره له قیامت نه په مخکې ژوند معتقد دی. له خوښۍ او خوشالۍ سره ملگری ژوند له زیرې سره ملگری ژوند، له دردوونکي عذاب سره ملگری ژوند او....

که د انسان واقعیت د هغو عنصري بدن وي، بیا نو بې شکه، چې یو څو ورځې وروسته سره شړیږي (تحلیلیږي) او په بېلابېلو عناصرو ویشل کېږي، په دې صورت کې به د انسان بقا یا برزخي ژوند بې مفهومه وي.

## قرآن له بلې نړۍ سره د تړون پر امکان شهادت ورکوي

د مرستې غوښتنې لپاره له مادې نه د مجرد روح د بقا اثبات کافي نه دی؛ بلکې پر بقا سربېره یې له علمي او قرآني پلوه د پیوستون د موجودیت امکان باید جوت شي. موږ په دې باب د روح اصالت نومې کتاب کې غځېدلې خبرې کړې دي، دا دی دلته په لنډه دومره یادونه کوو، چې قرآني آیتونه گواهي ورکوي، چې له پخوانیو سره د بشر تړون پر ځای او ټینگ دی.

الف: صالح علیه السلام د خپل قوم له ارواحو سره گړېږي:

[فَعَقَرُواْ النَّاقَةَ وَعَتَوْاْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُواْ يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ. فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُواْ فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ. فَتَوَلَّى عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَكِن لاَّ تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ ؛بیا یې" او ښه " ټپي ((او مړه)) کړه او د خپل پالونکي له ا مره یې سر وغړاوه، و یې ویل : ((صالحه! که (د خدای) له استازیو یې؛ نو په څه چې موږ گواښې، را یې وله !))؛ نو (په پای کې) هغوی زلزلې ونیول او پخپلو کورونو کې مړه پرمخ پرېوتل او (صالح) ترې مخ واړاوه، و یې ویل : ((زما قومه ! ما درته د خپل پالونکي پیغام ورساوه او نصیحت مې درته وکړ؛ خو (څه وکړم، چې) تاسې نصیحت کوونکي نه خوښوئ.)) (اعراف ۷۷ – ۷۹ آیتونه)

د دغو درېو آيتونو مطلب ته ځير شئ.
لومړی آيت را ښيي، چې هغوی په ژوندوني له هغه (صالح) نه د الهي عذاب غوښتنه وکړه.
دويم آيت ښيي، چې الهي عذاب وروروسېد او ټول يې تس نس کړل.
درېيم آيت وايي، چې حضرت صالح د هغوی تر مرگ او تس نس کېدو وروسته له هغوی سره دوه داسې خبرې وکړې.
۱ ـ په داسې بڼه د آيتونو نظم، چې وويل شول.
۲ ـ په (فتولى) کلمه کې (ف) توری، چې ترتيب ښيي؛ يعنې د هغوی تر تس نس کېدو وروسته له هغوی نه مخ واړاوه او داسې يې ورته وويل:
"و لكن لا تحبون الناصحين" جمله ښيي، چې هغوی هماغه شان په دښمنۍ او سخت زړه توب کې ډوب وو، تر مگر وروسته هم پر همدغه ناولې روحيه تينگ وو، چې پند ورکوونکي او ناصحين يې هم خوښ نه وو.
قرآن په ډاگه کوي، چې هغه (صالح) د خپل امت له ارواحو سره سختې خبرې کوې او مخاطبوي يې او د هغې پرله پسې دښمنۍ (له نتايجو) نه يې خبروي، چې تر مرگ وروسته يې هم کوله، وايي ناصحان مو همدا اوس هم خوښ نه دي.
ب: شعيب عليه السلام له پخوانيو ارواحو سره خبرې کوي.
[فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُواْ فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ.الَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْاْ فِيهَا الَّذِينَ كَذَّبُواْ شُعَيْبًا كَانُواْ هُمُ الْخَاسِرِينَ.فَتَوَلَّى عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالاَتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ فَكَيْفَ آسَى عَلَى قَوْمٍ كَافِرِينَ ؛ نو زلزلې ونيول او په خپلو کورونو کې مړه پرمخ پرېوتل. هغوی چې شعيب يې دروغجن گاڼه (؛ نو داسې له منځه ولاړل)؛ لکه هيڅکله، چې په هغو(کورو) کې نه ول اوسېدلي، هغوی چې شعيب يې دروغجن وگاڼه؛ نو پخپله يې زيان وکړ؛ نو شعيب ترې مخ واړاوه او و يې ويل : ((زما قومه ! په رښتيا ما د خپل پالونکي پيغامونه در ورسول او درته مې نصيحت وکړ؛ نو زه څنگه پرکافرانو خپه شم ؟!)) (اعراف/ ۹۱ – ۹۳)
په دې آيت کې د استدلال لاره له صالح عليه السلام سره د اړوندو آيتونو په شان ده.

## د اسلام پیغمبر د انبیاوو له ارواحو سره غږېږي

[وَاسْأَلْ مَنْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رُّسُلِنَا أَجَعَلْنَا مِن دُونِ الرَّحْمَنِ آلِهَةً يُعْبَدُونَ ؛ او د هغو استازیو له (لارویانو) وپوښته، چې موږ تر تا مخکې لیږلي ول چې : ایا موږ د رحمان (خدای) پر ځای د نورو معبودانو حکم کړی و، چې ولمانځل شي؟](زخرف ٤٥)
د آیت ظاهر دادی، چې پیغمبر له همدې طبیعي دنیا نه په هغه جهان (اخرت) کې له پیغمبرانو سره اړیکې ټینګې کړې، چې دا روښانه کړي، چې ټولو پیغمبرانو ته په هر عصر او دور کې د خدای قاعده دا وه، چې بې له یوه خدای نه بل ونه نمانځي.

## قرآن پر پیغمبرانو درود وايي

قرآن کریم په ځینو ځایو کې پر پیغمبرانو سلام او درود ویلی دی او دا سلامونه، درودونه او ستاینې بې معنی او تشریفاتي نه دي. دا به له انصاف نه څومره لرې وي، چې د قرآن عالي معناوې په یوه داسې سرسري بڼه انځور کړو، چې د اپلتو او عبثیاتو رنګ واخلي، صحیح ده، چې نن سبا د نړۍ ماتریالستان، چې روح او نفس ته په اصالت نه ګوري، په خپلو وینوو کې د خپلو مشرانو او د مادیت د مکتب بنسټګرو ته درود او سلام وايي؛ خو ایا دا صحیح ده، چې د قرآن عالي مفاهیم، چې د یوه حقیقت او واقعیت څرګندوی دي، په داسې بڼه انځور کړو او ووایو، چې دغه ټول درودونه، چې قرآن پر پیغمبرانو ویلي او مونږ مسلمانان یې هم شپه او ورځ وایو، دا ګنې هسې وچې او بې معنی تشریفات دي؟ دا چې قرآن فرمايي:
١ ـ سلام على نوم فى العالمين
٢ ـ سلام على ابراهيم
٣ ـ سلام على موسى و هارون
٤ ـ سلام على آل ياسين
٥ ـ سلام على المرسلين

د صافات (۷۹، ۱۰۹، ۱۲۰، ۱۳۰، ۱۸۱) آیتونه

## په تشهد کې پر پېغمبر درود

د نړۍ مسلمانان په فقهي فروعو کې له اختلافاتو سره سره له سهاره تر بېګا پورې د لمانځه په تشهد کې د خدای عظیم الشان پېغمبر مخاطبوي او وايي:
السلام علیک ایها النبي و رحمة الله و برکاته.
(د تذکرة الفقها ۱ جلد او د خلاف ٤٧/۱، په خلاف کې تشهد په څو بڼو له حضرت عمر او عبدالله بن مسعود (رض) نه نقل شوی، چې ټول همدا شان سلام مني او د اهل سنت د فقهې ټول امامان ابوحنیفه، مالک او شافعي رحمة الله علیهم هر یو د تشهد دا بڼه را اخستې او فتوی یې پرې ورکړې ده.)
خو د اختلاف په کې همدومره خبره ده، چې شافعي او ځینې نور یې په تشهد کې لازم او واجب ګڼي؛ خو د نورو مذهبونو پیروان یې مستحب بولي؛ خو پردې ټول یوه خوله دي، چې پېغمبر مسلمانانو ته همداسې تعلیم ورکړی او د پېغمبر سنت د هغه په ژوند او مرګ کې یوشان پاتې دی.
که زموږ ټرون او پیوستون په رښتیا له پېغمبر سره شلېدلی وي؛ نو دا شان سلام، هغه هم د خطاب په بڼه څه معنی لري.
په پای کې یادونه کوو، چې په تشهد کې په سلام سره استدلال په آیتونو کې د هغې د قطعیت لپاره وشو.

## د بحث نتیجه

په لومړني مطلب کې جوته شوه، چې مرګ د ژوند پای او د انسان فنا نه ده؛ بلکې بل جهان (اخرت) ته یې د ورتګ لار ده.
په دویم مطلب کې روښانه شوه، چې د انسان واقعیت د هغه هماغه روح او نفس دی او بدن یې یوه جامه ده، چې وراغوستل شوې ده؛ نو که روح او نفس یې تلپاتې وي؛

نو بيا يې واقعيت، شخصيت او ټوله انرژي (له هغه پرته چې په مادي بدن پورې يې اړه لري) هم باقي پاتې وي؛ نو که په دې دنيا کې يې نفس د دعا او نمانځنې وسه وه يا يې د خدای په امرخارق العاده چارې ترسره کولای شوې، په هغه دنيا کې يې هم قدسي نفس د خدای په حکم ځواکمن او وسمن وي او له هغو چارو پرته، چې په مادي بدن پورې اړه لري. پر نورو ټولو برلاسی او قادر وي.
په دريم مطلب کې ثابته شوه، چې د هغې دنيا له انسانانو سره د دې دنيا د انسانانو اړيکې کېدوني او ممکنې دي او مقدسې ارواح زموږ خبرې او وينا اوري.
دغو درې گونو مطالبو ته په پام سره د مطلب فلسفي امکان جوت شو؛ يعنې ثابته شوه، چې اولياء الله زمونږ په خبرو پوهېدای شي او الهي اذن ته هم ځواب ويلای شي؛ خو ايا دغه راز يو کار د اسلامي قوانينو له مخې روا دی، که نه دا ځواب د څلورم مطلب پر غاړه دی.

## مسلمانان او له مقدسو ارواحو نه حاجت غوښتنه

شيخ ابن تيميه او پيروان يې په يوه ځانگړې قضاوت له دې نه منکر دي، چې د پېغمبر صحابه وو او تر صحابه وروسته ډلو له پېغمبر نه د حاجت غوښتنه کړې وي، په دې باب وايي:
و لم يکن احد من سلف الامه فی عصر الصحابه و لا التابعين و لا تابعی التابعين يتخيرون الصلاة والدعا عند قبور الانبيا ويسالونهم و لا يستغيثون بهم لا فی مغيبهم و لا عند قبورهم؛ د امت له پخوانيو څنې يوه هم نه د صحابه وو په عصر کې او نه هم تابعينو يا تبع تابعينو د پېغمبرانو د قبرونو په خوا کې لمونځ او دعا غوره گڼلې او هېڅکله يې ترې څه نه دي غوښتي اونه يې مرسته غوښته، نه په غياب کې اونه يې د قبرونو ترڅنگ.
(الهديه السنيه ١٦٢ مخ د منار مصر چاپ)

ښايي د صحابه وو او تابعينو له تاريخ نه کوم ناخبره وګړی دا تصور وکړي، چې دا نسبت به حقيقت لري؛ خو د تاريخونو لوستنه ددې عکس ثابتوي، موږ يې يو څو بېلګې يادوو.

١ ـ اصاب الناس قحط فلى زمان عمر بن الخطاب فجا رجل الى قبرالنبى فقال يا رسول الله استسق الله لا متک فانهم قد هلکوا فاتا رسول الله صلى الله عليه و سلم فى المنام فقال: انت عمر فاقرئه السالم و اخبره انهم مسقون؛ د عمر بن الخطاب رضى الله عنه دخلافت په عهد کې وچکالي راغله او يو سړی د پېغمبر (ص)) قبر ته ورغی او و يې ويل: ای د خدای پېغمبره ! د خپل امت لپاره د اوبو غوښتنه وکړه، چې هلاک شول، پېغمبر يې خوب ته ورغی او ويې فرمايل: عمر ته ولاړ شه، سلام ورته ووايه او خبر يې کړه، چې ټول به خړوب شي.

(وفاء الوفاء ١٣٧١/٢)

سمهودي وايي:

و محل الاستشهاد طلب الاستسقاء منه (صلى الله عليه وسلم) فى البرزخ و دعاوه لربه فى هذه الحاله غير ممتنع و علمه بسوال من يساله قدورد فلا مانع من سوال الستسقاء و غيره منه کمال کان فى الدينا.

دا جريان پردې ګواهي ورکوي، چې له پېغمبر نه په برزخ کې د دعا غوښتنه کېدای شي او دا غوښتنه څه پروانه کوي؛ ځکه هغه د خلکو په غوښتنه پوه دی؛ ځکه نو د هغه د ژوندوني په شان ترې د دعا غوښتنه څه منع نه ده.

سمهودي له حافظ ابوعبدالله محمد بن موسى بن النعمان نه په حضرت علي (رض) پورې د يوه منسوب سند له مخې رااخلي، چې د پېغمبر د تدفين درې ورځې تېرې وې، چې د مدينې له بهر نه يو عرب راغی او د پېغمبر د قبرخاورې يې پر سر وشيندلې او و يې ويل:

يا رسول الله قلت فسمعنا قولک ووعبت عن الله سبحانه ما وعينا عنک و کان فيما انزل عليک (اولوانهم اذ ظلموا انفسهم جاوک فاستغفروالله.....)

(وفاء الوفاء ١٣٦١/٢ مخ –نساء ٦٤)

د خدای رسوله! چې ودې ویل، وا مو وربدل، څه چې مو له تا واخستل هغه تا له خدای نه اخستي وو، پر تا له نازل شویو ځنې دا آیت دی، چې کله هغوی پر ځان تېری وکړ، تا ته دې درشي او بخښنه دې وغواړي، ته هم د هغوی په باب د بخښنې غوښته وکوې، خدای به بخښونکی ومومي." ما پر ځان ظلم کړی او تاته راغلی یم، ماته د بخښنې غوښتنه وکړه....."

د وفاء الاخبار دارالمصطفی د اتم باب په پای کې زیاتې پېښې رااخلي، چې ټول داښيي، چې له پېغمبر نه مرسته او د حاجت غوښته د مسلمانانو همېشنی خوی دی.

حتی وایي امام محمد بن موسی بن نعمان رحمه الله علیه د دې موضوع په باب د مصباح الظلام فی المستغیثین بخیر الانام په نامه کتاب لیکلی دی.

۳ _ محمد بن المنکدر وایي:

" یو سړي اتیا دیناره زما پلار ته امانت ورکړل او په خپله جهاد ته لاړ او وویل: که دا پیسې دې په کار شوې، و یې لګوه، خدای کوله، چې ګراني راغله او پلار مې پیسې ولګولې. په دې کې د پیسو خاوند راغې او پیسې یې وغوښتې، پلار مې ورته وویل: سبا راشه، (پلار مې) د شپې جومات ته راغې، د پېغمبر قبر او منبر ته یې اشاره وکړه، تر سهاره یې د مرستې غوښتنه وکړه، په دې کې د جومامت په تیاره کې یو سړی را پیدا شو او و یې: ابا محمده! واخله، پلار ته مې یې یوه کڅوره ورکړه، چې اتیا دیناره پکې وو.

(وفاء الوفاء ۱۳۸۰/۲ (د مصر چاپ)، هغه ۱۳۸۵ مخ پورې د استغاثو بېلګې ښوولې دي)

٤ _ ابوبکر بن المقري وایي:

پر ما، طبراني او ابوالشیخ باندې لوږې زور وکړ، مونږ د پېغمبر د قبر ترڅنګه ناست وو، شپه راغله، مونږ د د جناب رسول الله (ص) قبر ته ورغلو او ومو ویل: یا رسول الله الجوع (یا رسول الله !وږي یو) ډېر وخت تېر نه و، چې د جومات ور وټکول شو، یو سپین ږیری له دوو ځوانانو سره راننووت اوهر یوه په لاس کې له خوړو ډک یو لوښی نیولی و، مونږ چې خواړه وخوړل، سپین ږیري وویل:

ما رسول الله په خوب کې ولید، امر یې وکړ، چې تاسې ته ډوډۍ راوړم.
(پورتنی مأخذ)
۵ _ ابن جلاد وایي:
ډېر مسکین وم، چې مدینې ته راغلم، قبر ته ورغلم او ورته مې وویل: د خدای رسوله ! ستا مېلمه یم، ناڅاپه خوب راغی، پېغمبر مې خوب ته راغی او ډودۍ یې په لاس کې راکړه.
(وفاء الوفاء ۱۳۶۱/۲)
مونږ ددې جریانونو او پېښو له صحت او نه صحت سره کار نه لرو: زموږ مطلب دادی، چې دا پېښې دروغ وي، که رښتیا، گواهي ورکوي، چې دغه راز یو کار خپور شوی دی او که دغه بدعت او حرام یا شرک او کفر وي؛ نو حرفه ای تېر ایستنکیو او جوړوونکیو هېڅکله دغه شان مطالب نه را اخستل چې هغوی پرې د خلکو له سترگو پرېوځي.
ما د "روح اصالت" نومې کتاب د ارواحو تړون په برخه کې یو لړ روایات او احادیث را اخستي دی، چې ټول له مقدسه ارواحونه د دعا د غوښتنې صحت ښیي.

## له الهي اولیاوو نه د شفاعت غوښتنه

مونږ ټول د شفاعت له ټکي سره بلد یو، چې کله د یو چا د جرم، گناه او محکومیت خبره کېږي او یو څوک ترمنځه کېږي او منځگړتوب کوي، چې له مرگ، اعدام، زندان او توفیق نه یې وژغوري، وایو چې پلاني یې په حق کې شفاعت وکړ.
شفاعت کلمه د "شفع" له مادې نه چې د وتر (طاق) په مقابل کې د جفت په معنی ده، اخستل شوې ده، د گنهگار د خلاصون لپاره د چا منځگړتوب ته له دې امله شفاعت وایي، چې د شفاعت کوونکي مقام او موقعیت اود شفاعت کېدونکي په وجود کې د نجات پر عاملو د شفاعت کوونکي تاثیر (که څه هم لږ وي) پیوست (او جوختېږي) او دواړه یو د بل په مرسته د گنهگار شخص د خلاصون سبب کېږي.
د گنهگارانو لپاره د خدای د اولیاوو د شفاعت حقیقت ظاهرا دادی، چې د خدای نازولي د هغه مقام او نژدېکت له مخې چې د خدای پر وړاندې یې لري (البته د خدای په حکم او تر خاصو قاعدو له مخې، چې کلي او عمومي دی، نه فردي) د گنهگارانو او مجرمانو په باب منځگړتوب کولای شي او په دعا او نمانځنې سره له ستر خدای نه غوښتلای شي، چې د هغوی له تقصیر او گناه نه تېر شي؛ البته د هغوی شفاعت کول او شفاعت منل کېدل په یو لړ شرایط پورې تړلي دي، چې ځینې یې په گنهکار او ځینې یې د "گناه" د شفاعت په ځای ځیگي پورې اړه لري.
په بله وینا شفاعت له هغو کسانو سره د خدای په حکم د خدای د اولیاوو سره خپل معنوي تړون نه وي پرېکړی او دغه قاعده باید همېشه خوندي وي.
په بله معنی شفاعت دادی چې یو تر لاس لاندې موجود دی د خوځښت او پرمختگ وړتیا لري، له پاسني یا لوړ موجود نه د یوې قانوني چارې په توگه مرسته غواړي؛ البته مرسته غوښتونکی باید د روحي بشپړتیا او کمال له پلوه دومره تیټ نه شي، چې د خوځښت او بشپړتیا ځواک او طاقت له لاسه ورکړي او په یوه سپېڅلي انسان یې د بدلون امکان له منځه لاړ شي.

د رسول الله (ص) له زمانې تر وروستيو زمانو پورې د مسلمانانو چلن له ربښتينو شفاعنگرونه د شفاعت غوښتنه وه او همېشه يې ترې د مرگ او ژوند په اجل کې د شفاعت غوښتنه کوله او دغه راز غوښتنه هېڅ يوه اسلامي دانشمند د اسلام له هېڅ راز اصولواو بنسټونو سره مخالفه نه گڼله.

په اوومه هجري پېړۍ کې چې شيخ ابن تيميه پيدا شواو له يو خاص طرز فکر سره يې له دې مسالی او د مسلمانانو ترمنځ ډېرو مروجو بنسټو سره مخالفت وکړ او تر هغه درې پېړۍ وروسته (محمد بن عبدالوهاب نجدي) يو ځل بيا د مخالفت بيرغ اوچت کړ او د شيخ ابن تيميه مکتب يې په يوه سخته بڼه له سره راژوندی کړ.

له نورو اسلامي ډلو سره د وهابيانو د اختلاف يو ټکی دا دی، چې دوی سره له دې، چې شفاعت د يوه اسلامي اصل په توگه منلی دی اووايي، چې د قيامت پر ورځ به شفاعتگر د امت د گنهکارو شفاعت کوي او د جناب رسول الله (ص) په دې لړ کې ستره برخه لري؛ خو ورسره دا هم وايي، چې په دې دنيا کې له هغوي نه د شفاعت غوښتو حق نه لري او په دې موضوع کې دومره تېر دی، چې د ويناوو کټ مټ رااخستنه يې روحي ستوماني رامنځته کوونکی دی، د هغوی د وينا لنډيز دادی چې:

د سلام پېغمبر؛ نور پېغمبران او اوليا او پرښتې د قيامت په ورځ شفاعت حق لري؛ خو شفاعت بايد د شفاعت له خاوند او اذن ورکوونکی نه (خدای) نه وغواړي او و يې ويل:

اللهم شفع نبينا محمدا فينايوم القيامة او اللهم شفع فينا عبادک الصالحين او ملائکتک او نحوذ لک مما يطلب من الله لا منهم فلا يقال يا رسول الله او ياولی الله اسالک الشفاعه او غيرها مما لا يقدر عليه الا الله فاذا طلبت ذلک فی ايام البرزخ کان من اقسام الشرک.

"پروردگاره! پېغمبر او نور نېک بنډگان د قيامت پر ورځ زموږ شفيعان وگرځوه؛ خو موږ حق نه لرو، ووايو چې ای د خدای رسوله يا ای د خدای نازوليه! له تانه غواړو، چې زموږ په حق کې شفاعت وکړه؛ ځکه شفاعت داسې څه دی، چې بې له خدايه يې

بل څوک نه شي کولای، که داسې څه دې له پیغمبر نه چې په برزخ کې دی وغوښتل؛ نو د شرک په جال کې ونښتې."
(الهدایه السنیه، دویمه رساله ٤٢ مخ)
د شیخ ابن عبدالوهاب ډلې په یو لړ اټکلونو سره له رښتینو شفاعتګرو نه د شفاعت غوښتنه تحریم کړې ده او غوښتونکی مشرک او عمل یې شرک ګڼي.
موږ د هغوی د دلایلو له څېړنې د مخه مساله په خپله د کتاب او سنت او مسلمانانو د سیرت په رڼا کې څېړو بیا یې دلایل څېړو.

## د شفاعت د غوښتنې د جواز په باب زموږ دلایل

د شفاعت د غوښتنې پر جواز زموږ دلیل له دوو مطلبو نه جوړ دی.
او د دواړو په ثبوت سره خبره بیخي سپینیږي، هغه دوه مطلبه دادي:
۱ _ د شفاعت غوښتنه د دعا غوښتنه ده.
۲ _ له وړو او مستحقو کسانو نه د دعا غوښتنه یو مستحب کار دی.
اوس د دواړو مطلبو پا ب غږیږو.
۱ _ د شفاعت غوښتنه د دعا غوښتنه ده
د جناب رسول الله (ص) او نورو رښتینو شفاعتګرو شفاعت په الهي دربار کې له دعا او نمانځنې پرته نور څه نه دي او د هغه مقام او نزدېکت په رڼا کې، چې هغوی یې د خدای په دربار کې لري ګنهګارو ته د دعا له امله مهربان خدی یې د خپل پراخ لطف په برکت بخښي، له نبي اکرم نه خو څه چې له مؤمن ورور نه دا غوښتنه یو نېک کار دی، چې یو مسلمان عالم یې (وهابي او که بل څوک) په صحت کې تردید نه دی کړی.
البته دا نه شو ویلای، چې د شفاعت حقیقت د محشر په هر حال کې هماغه په الهی دربار کې دعا ده؛ خو دا ویلای شو، چې له روښانه معناوو څنې یې یوه هم هماغه دعا ده او څوک چې وايي: " یا وجیها عندالله اشفع لنا عندالله" (ای چې د خدای په وړاندې مقام او پرتم لرې، خدای په نزد زموږ شفاعت وکړه) دهمدې معنی قصد لري.

نظام الدين نيشابوري د "نسا ۸۵ آيت" په تفسير کې له "مقاتل" نه رانقلوي "الشفاعه الى الله انما هى الدعوة لمسلم" (د شفاعت حقيقت د مسلمان لپاره دعا ده.)
له جناب رسول الله (ص) نه نقل شوې ده، چې څوک چې په خپل مسلمان ورور پسې دعا وکړي؛ نو دعا يې قبليږي او يوه پرښته ورته وايي ستا لپاره به هم همداسې وي.
شيخ ابن تيميه له هغو کسانو څنې دی، چې د دعا غوښتنه له ژوندي شخص نه سمه گڼي؛ نو د شفاعت غوښتنه يوازې په پيغمبر او اولياوو پورې اړونده نه ده؛ بلکې له هر مؤمن نه چې د خدای په وړاندې قدر او ارزښت لري غوښته کېدای شي.
امام فخر رازي له هغو کسانو څنې دی، چې شفاعت يې په الهي دربار کې په دعا او نمانځنه تفسير کړی دی د غافر د سورت د ۷ آيت [الَّذِينَ يَحْمِلُونَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ؛ د عرش باروونکې پرښتې او هغه (پرښتې) چې په چاپېرکې يې دي، ټولې د خپل پالونکي له ستاينې سره د هغه پاکي څرگندوي او ايمان پرې لري او مؤمنانو ته ښښنه غواړي (او وايي:) پالونکيه! ستا رحمت او علم پر هر څه خپور دی؛ نو هغه کسان وښنه، چې توبه يې ايستلې او ستا پرلار روان دي او د دوزخ له اوره يې وساته!]په تفسير کې وايي:دا آيت گواهي ورکوي چې دعرش د وړونکيو شفاعت يوازې د گنهگارو په باب دی. (؛ ځکه د آيت په "وقهم عذاب الجحيم" (د جهنم له عذابه يې وساته) راغلی دی)
ځکه د جناب رسول الله (ص) او نورو پيغمبرانو شفاعت د دې ډلې په باب همدا دی.
ځکه خدای داسې حکم کوي: [فَاعْلَمْ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ ؛ نو پوه شه، چې په حقيقت کې بې له "الله" هيڅ وړ معبود نشته او د خپلو گناهونو او هم نارينه او ښځمنو ايمانوالو ته ښښنه وغواړه او خدای ستاسې له تلو راتلو او هستوگنځي خبر دی. ] (محمد/۱۹)
او حضرت نوح د ځان، د مور و پلار او د هغو کسانو په باپ چې ايمان يې پرې راوړی و او د ټولو هغو ايمان والو په باب، چې تر قيامته راتلونکی وو د بخښنې غوښتنه وکړه. او په دې توگه يې د شفاعت په باب ژمنه او تعهد ترسره کړی دی.

[رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا؛ پالونکیه! ما، مور و پلار مې او هغه ایمانوال، چې زما کور ته راننووتي او ټول مؤمنان او مؤمنې وبښه او یوازې (د مشرکو) ظالمانو تباهي ورزیاته کړې!))]
(نوح/ ۲۸)

د فخر رازي دا وینا په دې گواهي ورکوي، چې هغه شفاعت د گنهکار په حق کې د شفیع د عا ته وایي او د شفاعت غوښتنه یې د دعا غوښتنې ته ویلې ده.

په اسلامي احادیثو کې تر سترگوم کېږي، چې د مسلمان په حق کې د مسلمان دعا شفاعت دی.

ابن عباس (رض) له جناب رسول الله (ص) نه نقلوي: ما من رجل مسلم یموت فیقوم علی جنازته اربعون رجلالا یشرکون بالله شیئا الا شفعهم الله فیه؛ څه وخت چې مسلمان مړ شي او څلوېښت داسې کسان یې د جنازې لمونځ وکړي، چې شرک نه کوي، خدای یې شفاعت (دعا) د هغه په باب قبلوي. (صحیح مسلم ۵٤/۳)

په دې حدیث کې دعا کوونکی شفاعتگر ښودل شوی دی اوس که یو څوک په ژوندوني له خپلو څلوېښتو وفادارو دوستانو نه وغواړي، چې تر مرگ وروسته یې په جنازې کې گډون وکړي او ده ته دعا وکړي.

په حقیقت یې ور نه د شفاعت غوښتنه کړې او د خدای د بندگانو د شفاعت مقدمات یې برابر کړي دي.

صحیح بخاري د "اذاستشفعوا الی الامام لیستسقی لهم لم یردهم" په نامه یو باب لري.

(چې کله خلکو له امام نه د شفاعت غوښتنه وکړه، چې هغوی ته باران وغواړي، د هغوی غوښتنه نه ردوي.)

او همدارنگه یو بل باب لري، چې (اذا استشفع المشرکون) بالمسلمین عن القحط" نومېږي.

(څه وخت چې مشرکان د حقطی په باب د شفاعت غوښتنه کوي)

ددغې دوو بابونو په باب روایات گواهي ورکوي، چې د شفاعت غوښتنه هماغه د دعا غوښتنه ده او په بل ډول یې تفسیرول پکار نه دي.

تردې ځایه د استدلال یو اړخ روښانه شو او هغه داچې د شفاعت غوښتنې حقیقت، له دعا پرته نور څ نه دي.
اوس د استدلال دویم اړخ روښانه او هغه دا چې له اولیاوو خو څه چې له مسلمان ورور نه غوښتنه یو مطلوب او مستحب کار دی او همدا ده ددې برخې څرګندونه.

## له ور (اهلو) خلکو غوښتنه یو مستحب کار دی

**الف: قرآن او له پېغمبر نه د دعا غوښتنه**

قرآني آیتونه ګواهي ورکوي، چې له پېغمبر نه د چا لپاره د بخښنې غوښتنه ډېره ګټوره او اغېزمنه ده. آیتونه دادي:
محمد ۱۹ آیت:[فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوَاكُمْ ؛ نو پوه شه، چې په حقیقت کې بې له "الله" هېڅ وړ معبود نشته او د خپلو ګناهونو او هم نارینه او ښځمنو ایمانوالو ته ښښنه وغواړه او خدای ستاسې له تلو راتلو او هستوګنځي خبر دی. ]
توبه ۱۰۳ آیت:[خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاَتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ؛ د هغوی له مالونو (د زکات په نامه) صدقه واخله، چې په هغه یې پاك او سوتره کړې او (د زکات اخستو پر وخت) ورته دعا وکړه؛ ځکه ستا دعا ورته ډاډېنه ده او خدای اورېدونکی (او) پوه دی.]
که د پېغمبراکرم دعا د یو چا لپاره داسې ګټوره وي؛ نو ترې د یو چا لپاره د دعا غوښتنه څه باک لري. بلخوا ددعا غوښتنه د شفاعت غوښتنه ده.
نساء ٦٤ آیت:[وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا؛ موږ هېڅ یو استازی نه دی لېږلی؛ خو د دې لپاره، چې د خدای په اجازه لاروي یې وشي او که دې مخالفینو (داسې کړي وای)، چې تر ګناه (او د الهي قوانینو تر پښو لاندې)کولو وروسته درته راغلي وای او له خدای یې ښښنه غوښتې وای او پېغمبر هم ورته ښښنه غوښتې وای (؛ نو) هرومرو خدای یې توبه قبلوونکی (او) مهربان مونده.]

دا چې وايي "جاوک" تا ته درتلل، مقصد دادی، چې را دې شي يا در دې شي له پيغمبر نه د دعا او بخښنې غوښتنه وکړي. که هدف دا نه وي د هغوی راتگ: لغو (بيځايه) و او د پيغمبر حضور ته ورتگ او ورنه غوښتنه په خپله پر هغه روحي انقلاب گواهي ورکوي، چې د دعا منلو نه لارهواروي.

٤ _ قرآن کريم د يعقوب (ع) د زامنو له خولې وايي چې هغوی له خپل پلار نه وغوښتل چې د هغوی په حق کې بخښنه وغواړي، يعقوب عليه السلام هم ورسره ومنله او خپله وعده يې ورسره پخه کړه.

"قالوا يا ابانا استغفرلنا ذنوبنا انا کنا خاطئين قال سوف استغفرلکم ربي.

(و يې ويل: پلاره مونږ ته زمونږ د گناهونو بخښنه وغواړه، مونږ خطا کار وو، هغه هم وويل : ډېر ژر به درته له خپل خدای نه د بخښنې غوښتنه وکړم)

دغه ټول آيتونه دا ښيي چې له پيغمبرانو او نېکانو نه د دعا غوښتنه، چې شفاعت دی، د اسلامي موازينو له پلوه ډېر لږ باک هم نه لري.

## اسلامي احاديث او د صحابه وو سيرت

امام ترمذي مشهور محدث له انس (رض) نه رانقلوي چې:

سالت النبي ان يشفع لی يوم القيامه فقال انا فاعل قلت و اين اطلبک فقال علی الصراط...

(انس وايي) له جناب رسول الله (ص) نه مې وغوښتل، چې د قيامت پر ورځ زما په حق کې شفاعت وکړي هغه ومنله او و يې ويل وبه يې کړم. ما ويل چېرته به دې ومومم؟ ويې فرمايل: د صراط تر څنگه.

(سنن ترمذي، ٤/ ٤٢ باب صراط)

انس (رض) له د جناب رسول الله (ص) نه دشفاعت غوښتنه کوي، هغه (صلی الله عليه واله وسلم) يې هم مني او زېری ورکوي.

سواد قارب د جناب رسول الله (ص) له يارانو څخه دی. د شعر په ژبه له پيغمبر نه د شفاعت غوښتنه کوي وايي:

فکن لی شفیعا یوم لا ذو شفاعه
یمن فتیلا عن سوا بن قارب
(د قیامت پر ورځ زما شفیع وسه، پر هغه ورځ، چې سواد قارب په حق کې به د بل چا شفاعت هېڅ گټه ونه لري.) (قاموس الرجال)
د حمیر قبیلې "تبع" نومي یوه سړي د جناب رسول الله (ص) تر تولد د مخه اورېدلي وو چې ډېر ژر به د عربستان له خاورې نه د خدای له لوري یو استازې راواستول شي.
له خپل مرگ نه مخکې یې یو لیک ولیکه اوله خپلوانو نه یې په کې وغوښتل، چې که کله هم پېغمبر مبعوث شو، زما دا لیک به ورسپارې، په لیک کې یې لیکلي وو:
و ان لمادرک فاشفع لی یم القیامه و لا تنسنی
(که ما ونه لیدې او د ستا تر تولد د مخه مړ وم؛ نو د قیامت پر ورځ مې شفاعت وکړه، چې هېر مې نه کړې)
دا لیک چې پېغمبر ته ورکړ شو، درې ځلې یې وفرمایل: مرحبا یتبع الاخ صالح (پر صالح او نېک ورور تبع دې افرین وي).
(مناقب ابن شهر اشوب ۱۲/۱)
که د شفاعت غوښتنه شک وای؛ نو پېغمبر به ورته هېڅکله ورور نه وای ویلی او نه به یې پرې درې ځله افرین وایه.

## د مرگ په حالت کې له چا څخه د شفاعت غوښتنه

د احادیثو دا برخه ښیي چې په ژوندوني له ربتین شفاعتگر نه د شفاعت غوښتنه هېڅ باک او پروا نه لري.
روایات او احادیث ښیي چې د جناب رسول الله (ص) صحابه وو تر وفاته وروسته د هغه له سپېڅلې روح نه دشفاعت غوښتنه کوله د ساري په توگه:
۱ ـ ابن عباس (رض) وایي: امیرالمؤمنین حضرت علي (رض) چې د رسو ل اکرم (ص) له غسل نه وزگار شو، مخ یې ورته لوڅ کړ او و یې ویل:
بابی انت وامی طبت حبا و طبت میتا.... واذکرنا عند ربک....

(مور و پلار مې درنه ځار، په ژوند او مرګ سپېڅلی يې، د خدای پر وړاندې موږ ياد کړه).
(نهج البلاغه ۲۳۰ خطبه)
۲ ـ د جناب رسول الله (ص) چې رحلت وکړو، حضرت ابوبکر صديق يې په کور کې مبارک مخ څرګندکړ او ښکل يې کړ او و يې ويل، مور و پلار مې درنه ځار، په ژوند او مرګ سپېڅلی وې، د خدای په دربار کې موږ درنه هير نه شو.
(کشف الارتياب ٦٥ مخ له خلاصة الکلام نه را خستنه)
ددغو رواياتو له مخې جوتېږي چې د شفيع په ژوندوني او مرګ د شفاعت غوښتنه يو شان ده؛ نو دغو آيتونو، روايتونو او په هر عصر کې د مسلمانانو ترمنځ د رايجو سنتو له مخې د شفاعت غوښتنې موضوع داسې يوه څرګنده مساله ده، چې هېڅ وخت پکې څه شک او ترديد نه دی په کار. پردې سربېره د جناب رسول الله (ص) صحابه وو د هغه (صلی الله عليه و اله وسلم) تر وفات وروسته هم له هغه نه د دعا غوښتنه کوله؛ نو که له هغه مبارک نه تر وفات وروسته د دعا غوښتنه صحيح وي؛ د شفاعت غوښتنه به هم چې يو ډول دعا ده، صحيح ده.

## د شفاعت غوښتنې د مخنيوي په باب د شيخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې د دلايلو څېړنه

په تېر بحث کې د شفاعت غوښتنې د جواز له دلايلو سره بلد شو اوس له همدې غوښتنې سره د مخالفينودلايل هم اورو، يوې مخالفی ډلې په داسې يو لړ گومانونو او له اولياوو الله څخه د شفاعت غوښتنه منع کړې ده، چې دلته يې په لنډو څېړو.

١ ـ د شفاعت غوښتنه شرک دی

له شرک نه ددې ډلی غرض په عبادت کې شرک دی او داسې ښيي چې د شفاعت عوښتنه د شفاعتگرو نمانځنه او پرستش دی.

په عبادت کې د توحيد په بحث کې د عبادت په باب زيات وغږېدواو روښانه مو کړه، چې له شخص نه هر ډول غوښتنه او يا شفاعت غوښتنه په هغه صورت کې عبادت گڼل کيږي چې بل لوري "اله"، "خدای"، "رب" او د نړۍ "څرخوونکی" او "د خدايي چارو څښتن او سرچينه" وگڼو، له دې پرته به هر راز غوښتنه او سوال هر ډول درناوی او خصوع هېڅکله عبادت ونه شمېرل شي.

د الهي دربار له رښتنيو شفاعتگرو نه (چې خدای ورته د شفاعت اذن کړی دی) شفاعت غوښتونکی هغوی د خدای غوره، او نژدې بندگان گني، چې نه خدای دی او نه ورته له بخښنې او شفاعت په څېر چارې سپارل شوي او په خپل سر له الهي اذن پرته د هر چا په باب، چې وغواړي شفاعت کولای شي او يا يې له گناه تېرېدای شي.

دغه ډله خلک د الهي اذن په چوکاټ کې د ځينو خاصو وگړيو په باب چې له خدای سره يو معنوي اړيکې تينگې دي او له الهي شفيعانو سره يې روحي تړون شليدلی نه وي، د گناه د بخښنې غوښتنه کولای شي، دغه راز يوه غوښتنه له داسې يوه وگړي نه چې د غوښتونکي له نظره تر مقرب بنده زيات نور څه نه وي، هېڅکله د هغه عبادت نه شمېرل کيږي.

البته د يادونې وړ ده، چې که دغه شان غوښتنه د مړينې په حال کې د شفاعتگر نمانځنه وگڼل شي؛ نو بيا خو دغه راز غوښتنه په ژوندوني عبادت گڼل پکار دي.
په تېر بحث کې مو ويل، چې قرآن او سنت حکم کوي، چې مسلمانان دې د جناب رسول الله (ص) حضور ته ورشي او ترې و دې غواړي چې د هغوی لپاره د بخښنې غوښتنه وکړي او دغه راز غوښتنه په ژوندوني د شفاعت غوښتنه ده او دا هېڅکله نه شي کېدای، چې يوار له يوې خوا شرک وي او له بلې خوا توحيد.
۲ _ د مشرکينو شرک له بوتانه د شفاعت غوښتنې له امله و، د خدای له اولياوو نه د شفاعت غوښتنې د مخنيوي او تحريم په باب د شيخ ابن عبدالوهاب د ډلې دويم استدلال دا دی، چې خدای د حجاز بوت نمانځونکي له دې امله مشرکان گنلي دي چې هغوی له بوتانو د شفاعت غوښتنه کوله او د هغوی په مخکې يې ژړا او زارۍ کولې او د منځگړتوب غوښتنه يې ترې کوله؛ لکه دا آيت چې پرې گواهي ورکوي.
[وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللّهِ مَا لاَ يَضُرُّهُمْ وَلاَ يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَـؤُلاء شُفَعَاؤُنَا عِندَ اللّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللّهَ بِمَا لاَ يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلاَ فِي الأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ ؛ او (مشرکان) بې له خدايه هغه څه لمانځي، چې نه څه زيان (ترې تمبولای شي) او نه څه گټه وررسولای شي او وايي : ((دا خدای ته زموږ سپارښتگر دي.)) (ورته) ووايه : ((ايا خدای له داسې ځيزه خبروئ، چې هغه يې په اسمانونو اوځمکې کې نه پېژني؟!)) هغه له هغه څه پاك او لوړ دی، چې هغوی يې (ورسره) شريکوي!](يونس/۱۸)
نو له خدايه پرته هر راز شفاعت غوښتنه به شرک او د شفاعتگر پرستش گڼل کېږي.
ځواب:لومړی خو دغه آيت د هغو (وهابيانو) پر مقصود ډېر لږ دلالت هم نه کوي او که قرآن هغوی مشرکان گڼي؛ نو له دې امله نه چې هغوی له بوتانو نه شفاعت غوښته؛ بلکې د هغوی د مشرکوالي وجه داوه چې هغوی (بوتان) د دې لپاره نمانځل چې شفاعت يې وکړي.
که له بوتانونه د شفاعت غوښتنه چې د يعبدون پر چملې سربېره د "يقولون هولا شفعا و نا عندالله " په څېر جمله راوړي.

داچې په آیت کې دا دوه جملې د عطف په بڼه راغلي، دا ښيي چې د بوتانو د نمانځنې موضوع له هغوی نه د شفاعت غوښتنې له مسالی جلا خبره ده.
د بوتانو نمانځنه د شرک او دوه نمانځنې نښه ده او تېري او لرگې نه د شفاعت غوښتنه یو احمقانه او له علم او منطق نه ډېر لرې عمل گڼل کېږي.
آیت هېڅکله پردې دلالت نه کوي، چې له بوتانو نه شفاعت غوښتنه د هغوی نمانځنه ده، د حق له اولیاوو او د هغه جل جلاله د درگاه له دوستانو شفاعت غوښتنه خو لرې خبره ده، چې د هغوی نمانځنه وي.
دویم: فرض کړئ، چې د هغوی د شرک وجه له بوتانو نه د هغوی د شفاعت غوښتنې او د مسلمانانو د شفاعت غوښتنې ترمنځ د ځمکې او اسمان هومره لار ده، هغوی بوتان د شفاعت خاوندان او د گناه د بخښلو او شفاعت په مسایول کې دالهي دربار واکمن گڼل؛ لکه خدای چې په دغو برخو کې له دې چارو جلا شوی وي او دغه راز چارې یې بوتانو ته سپارلې دي. دغه راز یوه شفاعت غوښتنه خو به په خپله د هغوی عبادت وي؛ ځکه د الوهیت، ربوبیت او د الهي چارو سرچینې د اعتقاد له مخې له هغوی نه شفاعت غوښتل کېده، په داسې حال کې چې یو مسلمان له الهي اولیاوو نه د خدای د یوه مقرب او عزتمن او د خدای له لوري د شفاعت په چارو کې د یو ماذون بنده په توگه د شفاعت ا دعا غوښتنه کوي، چې د دغو دواړو ډولونو پرتله او یو پر بل بروالی له انصاف او واقعیتبینی نه لرې دی.
۳ _ بې له خدایه د حاجت غوښتنه حرامه ده
له اولیاوو نه د شفاعت غوښتنې د تحریم په باب د هغوی درېیم دلیل دادی، چې د قرآن د څرگند حکم له مخې باید موږ د دعا پر وخت له خدایه پرته بل څوک یاد نه کړو او له هغه جل جلاله پرته د دعا غوښتنه بې له خدایه د حاجت یو ډول غوښتنه ده.
قرآن کریم فرمایي: [وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا ؛ او داچې جوماتونه یوازې د خدای دي؛ نو (په هغوکې) له خدای سره بل څوك مه بلئ (او مه لمانځئ).
(جن/۱۸)

چې کله یې وویل، له خدای پرته د بل چا بلنه حرامه ده او له بلې خوا د خدای د اولیاوو شفاعت ثابت دی؛ نو پخه خبره داده، چې د اولیاوو شفاعت له خدای نه غواړو، نه له هغوی نه.
پردې چې دا بلنې عبادت او نمنانځه ده دا ایت گواه دی:
[وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ؛ او پالونکي مو ویلي دي : ((و مې بلئ، چې (دعا) مو قبولې کړم، په واقع کې هغوی چې زما له لمانځنې سرغړونه کوي (؛ نو) ژر به خوار او سپك دوزخ ته ننوځي!))(غافر/ ٦٠)
ځیر شئ، د آیت په سر کې د دعوت او بلنې او په پای کې یې د عبادت ټکی راغلی دی او دا پردې گواهي ورکوي، چې دعوت او عبادت یو مفهوم لري او د اخلاقو په کتابونو کې راغلي دي:"الدعا، مخ العبادة""دعا د عبادت مغز (زړی) دی."
ځواب:
لومړی: په "فلا تدعوا" جمله کې بې له خدایه د بلنې له حریم نه مراد مطلق لوستل او غوښتل نه دي؛ بلکې د دعوت د تحریم مراد بې له خدایه د نمانځنې تحریم دی.
د آیت د لومړۍ برخې په گواهۍ چې فرمایي " و ان المساجدالله" دا جمله پردې دلالت کوي، چې په آیت کې د دعوت مقصود هغه ځانگړی دعوت دی، چې له نمانځنې سره تړلی وي او هغه د هغه چا پر وړاندې له ډېر ذلت او خضوع سره تړلی درېدل (قیام) دی، چې هغه د کائناتو خدای او د نړۍ واکمن او د خلفقت پر ډگر مطلق واکمن "رب" گڼي. (په حقیقت کې د آیت معنی داسی ده: "فلا تعبدوا مع الله له احداء" لکه په بل آیت کې چې فرمایې " ولا یدعوا مع الله الها آخر"
او له هغه بنده نه د شفاعت په غوښتنه کې هیڅکله دا بندیز نه دی لگول شوی، چې خدای ورته دغه حق ورکړی وی، چې له خدای سره (یوځای) ویلو او په خدایي مقام یې وگڼو، چې "مع الله" عبادت د دې مطلب ځرگندوونکی دی، که څوک له پیغمبر نه وغواړي، چې په حق کې یې دعا وکړي، چې خدای یې گناهونه وبخښي یا یې اړتیا

ترسره کړي. په دې يې هېڅوک له خدای سره ګډ نه دی بللی؛ بلکې ددې بلنې حقیقت د خدای بلنه ده.
که له بوتانو نه د حاجت غوښتنه په ځینو آیتونو کې شرک ښوول شوی له دې امله دي، چې هغه يې واړه خدایان، د خدای د ټولو یا ځینو چارو واکمن او د خپلو ټولو غوښتنو پر تر سره کولو برلاسی ګڼل؛ نو ځکه قرآن کریم پر دغسې انګېرنو او تفکراتو د نیوکی په لړ کې فرمايي: [وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ لاَ يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلآ أَنفُسَهُمْ يَنْصُرُونَ ؛ او هغوی چې د "الله" پرځای رابلئ (؛ نو) نه درسره مرسته کړای شي او نه له ځان سره. (اعراف/۱۹۷)
او همداراز فرمايي :[إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُواْ لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ؛ په حقیقت کې تاسې، چې د خدای پرځای نور رابلئ (او عبادت يې کوئ)؛ نو هغوی خو ستاسې په څېر د خدای بندګان دي، هغوی (په سختیوکې) راوبلئ او که رښتیا وایئ؛ نو باید چې ستاسې ځواب ووايي (او غوښتنې مو پوره کړي)!] (اعراف/۱۹٤)
لنډه دا چې مشرکانو بوتان واړه خدایان ګڼل او بشپړ متصرف او د الهي چارو واکمن يې بلل؛ خو له داسې یوه چا نه چې خدای ورته دا حق او ځای ورکړی دی، د شفاعت غوښتنه د دغو شرایط نه لري.
دویم: بلنه او دعوت یوه پراخه معنی لري او کله کله يې په عبادت استعمالول روا وي؛ لکه "ادعوني استجب لکم ان الذين يستکبرون" او "الدعا مخ العباده" چې استدلال يې پرې کړی دی؛ نو د دغه شان جزيې استعمالاتو مجازوالی پردې دلالت نه کوي، چې دعوت همېشه د عبادت په معنی تفسیر کړو او له چا نه د جاچت او دعا غوښتنه په معقولیت سره شک وګڼو.
په داسې حال کې چې د دعوت حقیقي معنی بلل دي، چې کله د عبادت په بڼه شي او زیاتره د نورو د بلنې په معنی دی، نه د عبادت په معنی.

# شفاعت يواځې د خدای حق دی

دا لاندې آيت دا ښيي چې شفاعت د خدای حق دی؛ نو بيا له بل نه د شفاعت غوښتنه څه معنی؟

[أَمِ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ شُفَعَاء قُلْ أَوَلَوْ كَانُوا لَا يَمْلِكُونَ شَيْئًا وَلَا يَعْقِلُونَ. قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا لَّهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ؛ ايا [کافرانو ] د خدای پر ځای نور سپارښتگر نيولي دي؟! ورته ووايه : ((ايا (هغوی به شفاعت وکړي) که څه هم هېڅ يې په واك کې نه وي او نه درك او پوهه لري؟!))

ووايه : ((د ټول شفاعت (اختيار) يوازې له خدای سره دی؛ (ځکه) د اسمانونو او ځمکې واکمني يوازې د هغه ده بيا يوازې د هغه لوري ته ورستنول کېږئ.)) (زمر ٤٣ – ٤٤ آيتونه)

ځواب:

له "الله الشفاعة جميعا" نه مراد دانه دی، چې يواځې خدای شفاعت کوي او بس او نور څوک د شفاعت حق نه لري؛ ځکه شک نه شته، چې خدا هېڅکله چا ته د چا شفاعت نه کوي، بلکې مطلب دادی، چې خدای د شفاعت اصلي څښتن دی نه بوتان؛ ځکه د شفاعت څښتن هغه څوک کېدای شي چې عقل، پوهه او شته ولري.

خو د هغوی نمانځل کېدونکي بوتان دغه يو شرط هم نه لري؛ ځکه فرمايي: قل اول كانو الا يملكون شيئا

نو ددې آيت د بحث مرکز دادی، چې خدای د شفاعت څښتن دی، نه بوتان او چې په هر چا کې يې وړتيا او قابليت وليد، د نورو په باب ورته دشفاعت اذن کوي. په دې صورت کې دا آيت زموږ په بحث پورې اړه نه لري؛ ځکه مسلمانان يواځې خدای د "شفاعت څښتن" گڼي، نه اولياء او معتقد دي، چې چاته يې اذن وکړ، هماغه شفاعت کولای شي، نه هر څوک او دا يې هم عقيده ده، چې د خدای د اياتو او رواياتو له مخې پېغمبر نه د يوه ماذون (نه د شفاعت د مالک) په توگه د شفاعت غوښتنه کوو، په دې صورت کې دا وينا د آيت له مطلب سره څه اړيکه لري؟

٥ _ له مړيو نه د شفاعت غوښتنه خوشې ده.

د هغوی وروستی استدلال دا دی، چې له الهي اولیاوو نه په دنیا کې شفاعت غوښتنه له هغه مړي نه دحاجت غوښتنه ده چې څه نه اوري.
قرآن کریم په ډاګه مړی نه پوهېدونکی ګڼي، فرمايي:
[إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَى وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاء إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ؛ البته ته مړيو ته (خپله خبره) اورولای نشې او نه يې هغو کڼو ته اورولای شې، چې مخ اړوي.]
(نمل ۸۰ آيت)
قرآن کریم په دې آيت کې مشرکان له مړيو سره تشبيه کړي او وايي؛ لکه مړی چې نه شي، پوهول کېدای، همداسې هم ته دغه ډله نه شي پوهولای، که مړيو خبرې کولی شوای او اورېدل يې کولی شوای. د زړه مړيو مشرانو تشبيه به د مړيو له ډلې سره سمه نه وای.
[وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاء وَلَا الْأَمْوَاتُ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَاء وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ؛ او د ژونديو (زړونه) او مړيو (زړونه) سره برابر نه دي، په حقيقت کې د خدای، چې چاته خوښه شي (خپل پيغام) وراوروي او ته په قبرو کې پرتو خلکو ته (خپله خبره) نشې اورولای.](فاطر ۲۲ آيت)
په دې آيت استدلال هم د تېر آيت د استدلال په څېر دی؛ نو له مړه شخص نه شفاعت غوښتنه به له کاڼي نه څه غوښتل وي.
ځواب:
دا ډله همېشه د نورو اسلامي ډلو د تېر ايستو لپاره د شرک خبره شاربي او د توحيد د پلويتوب په نام د نورو د کافرولو په لټه کې وي؛ خو په دې استدلال کې يې د وينا بڼه بدله کړې او اولياوو ته د پاملرنې د بې ازښته کېدو موضوع يې رامنځته کړې د؛ خو په دې بيخي نه پوهېږي چې:
الهي اولياء د عقلي (له بدن نه تر جلا کېدو وروسته له مادې نه د معنی د بېلتون دلايل او له مادي جسدونو نه يې بې نيازي دا غوښتنه کوي، چې انساني روح تر مرګ وروسته هم پاتې وي او يو ځانګړی ژوند او پوهه لري او د اسلام سترو فلسفيانو په لسو دلايلو سره د روح پايښت او له مادی له بروالی جوت کړی دی او هېڅ يوه منصف ته

یې د شک ځای نه دی پرېښی) او نقلي (د آل عمران ۱٦۹، ۱۷۰ د نساء ۷۱ د احزاب ٤٥ د مؤمنون ۱۰۰ او د غافر سورت ٤٦ آیتونه گواهي ورکوي، چې تر مرگ وروسته هم ژوند روان وي. د مخه په دې باب وغږېدو. تر مرگ وروسته دکافر او مؤمن د نفسونو د ژوند دوام په باب دومره زیات اسلامي احادیث دي، چې دلته یې راوړای نه شو.) له مخې ژوندی دی او ددې آیتونو هدف دادی، چې په ځمکه کې پراته جسدونه نه پوهېدونکي نه دي او نه داچې له کومو جسدونو نه چې روح جلا شوی؛ نو د پوهې او درک له ورشو ووتل او هسې تېره شوه.

خو ځېریدل په کار دي، چې زموږ وینا په قبرونو کې پرتو جسدونو ته نه ده؛ بلکې موږ له هغو سپېڅلیو او ژوندیو ارواحو سره غږېږواو شفاعت ترې غواړو، چې له جسدونو سره په برزخ کې اوسي او د قرآن په څرگندونه ژوندي دي، نه په خاورو کې له پرتو بدنونو سره.

که مړی او د ځمکې په زړه کې ایښي جسدونه د پوهونې له بریده وتي وي، ددې دلیل نه شي کېدای چې د هغوی سپېڅلي او پاک ارواح، چې د قرآن د وینا له مخې ژوندي او روزی خواره دي، د پوهولو نه دي.

که سلام وایو، یا د شفاعت غوښتنه کوو، یا غږېږو؛ نو زمونږ مخه له هغو پاکو او ژوندویو ارواحو سره ده، نه په ځمکه کې له پرتو جسدونو سره، که موږ د هغوی قبر، خاورې یا جونگړې ته ورځو؛ نو ددې لپاره چې ځان له هغوی سره روحي تړون ته ساز کړو.

## ایا پر غیبي طاقت عقیده، شرک دی؟

شک نه شته چې په کلکه د حاجت غوښتنه په هغه صورت کې کېدای شي، چې غوښتونکی مخامخ لوری د خپلې غوښتنې په ترسره کولو برلاسی وګڼي دا قدرت کله مادي او ظاهري قدرت وي؛ لکه له چانه اوبه وغواړو او هغه د اوبو لوښی له شیدو ډک راکړي او لکه هم دا قدرت غیبي او له طبیعت او مادي سرچینو لرې وي؛ لکه یو انسان عقیده لري، چې حضرت علي د خیبر دروازه، چې د عادي انسان له وسې پوره نه وه، له لرې نه له ځایه لرې کړې، هغه هم په بشري قوت نه؛ بلکې په غیبي قدرت.
یا مسیح علیه السلام کولای شي، په خپل شفا بخښونکي پوکی سره د سخت ناروغ علاج وکړي، بې له دې چې ناروغ درمل وخوري یا یې د جراحۍ عملیات وشي.
پر دغه راز غیبي قدرت اعتقاد که د خدای د مشیت او قدرت له مخ وي؛ نو دا به پر مادي قدرت باندې داعتقاد په څېر وي، چې شرک راوستونکی نه دی؛ ځکه هماغه خدای چې یوه کس ته هغه مادي قوت ورکړی، هماغه جل جلاله یوه بل ته غیبي قدرت وبخښلی دی، بې له دې، چې د یو مخلوق خالق وګڼل شي او له خدای نه یو بې نیازه بشر وانګېرل شي.

## د شیخ عبدالوهاب د ډلې نظر

هغوی وایي: که څوک له یوه الهي ولي نه مړ وي، که ژوندی وغواړي، چې ناروغ یې روغ کړي یا یې ورک پیدا کړي یا یې پور ورلنډ کړي. دا غوښتنه دا ښیي چې هغه د مسوول پر قوت او داسې برلاسۍ معتقد دی، چې پر طبیعي نظام او دکاینانو د نړۍ پر جاري قوانینو حاکم دی او بې له خدایه پر دغه راز قدرت او حاکمیت اعتقاد د مسول پر الوهیت د اعتقاد په شان دی او په قید سره د حاجت غوښتنه به شرک وي.
که یو سړی په پیدا کې له خپل نوکر نه اوبه وغواړي؛ نو پر طبیعتي قوانینو یې د حاکم نظام پیروي کړې ده او دغه شان غوښتنه به شرک نه وي؛ خوکه له یوه داسې تبې او

امام نه چې د خاورې په زړه کې پروت دی او یا په کوم بل ځای کې ژوند کوي اوبه وغواړي؛ نو دغسې غوښتنه پر غیبي قوت باندي د هغه د اعتقاد ښکارندویه ده، چې بې له مادي اسبابو او وسایلو غوښتونکي ته اوبه رسوي، چې دغه شان اعتقاد به کټ مت د مخامخ لوري پر الوهیت اعتقاد وي.
ابوالاعلی مودودی رحمة الله علیه ددې خبرې داسې څرګندونه کوي: داچې انسان خدای رابولي او فریاد ورته کوي، وجه یې داده، چې فکر کوي هغه د طبیعت پر قوانینو او هغو قواوو برلاسی دی، چې د مادي قوانینو د نفوذ له بریده وتی دی.
(المصطلحات الاربعه ۱۸۰مخ)

## پردې خبره زموږ نظریه

تېروتنه له دې ځایه ده، چې دا یې ګڼلې، چې په خلکو کې پر غیبي قدرت باندې اعتقاد مطلق شرک او دوه نمانځنه ده؛ نور نه دی بریریالی شوی، چې د خدای پر قدرت باندې د متکي قدرت اعتقاد او له خدای نه د جلا او مستقل قدرت ترمنځ توپیر وکړي، څه چې شرک زیږوونکی دی، دویم حال دی، نه لومړی.
قرآن په ډاګه د هغو خلکو نومونه اخلي چې ټول د غیبي سلطې لرونکي وو او ارادې یې پرطبیعي قوانینو برلاسې وې.
موږ دلته د الهي اولیاوود هغې ډلې نومونو ته اشاره کوو، چې د قرآن له نظره د دغه شان قدرت لرونکي وو:

## د یوسف علیه السلام غیبي سلطه

یوسف خپلو ورونو ته وایي: [اذْهَبُواْ بِقَمِيصِي هَـذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيراً وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ.وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلاَ أَن تُفَنِّدُونِ.قَالُواْ تَاللّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلاَلِكَ الْقَدِيمِ.فَلَمَّا أَن جَاء الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيراً قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ؛ زما دا کمیس درسره یوسئ او

زما د پلا رپرمخ يې وغوړوئ (چې) ليدونکی شي او ټوله کورنۍ مو ماته راولئ)) او چې کله (د ورونړو) کاروان (له مصره) ووت؛ نو پلار يې (په کنعان کې) وويل : که ما پر ناپوهۍ اوکم عقلۍ نه تورنوئ؛ نو ماته خوبيخي د يوسف بوی راځي.(شاوخوا يې) وويل :((پر خدا ی قسم، ته خو په هماغه پخواني سوداييتوب کې يې!)) نو چې زېربانۍ راغی او کميس يې د يعقوب پرمخ وغوړاوه؛ نو ليدونکی شو! و يې ويل :((درته مې نه و ويلي، چې په واقع کې زه د خدای له لوري پرهغه څه پوهېږم، چې تاسې پرې نه پوهېږئ.)) (يوسف ۹۳ – ۹٦ آيتونه)

آيت په ښکاره داسې دی، چې د يعقوب (ع) سترګې د يوسف د اکتسابي قدرت او ارادې په رڼا کې وغړېدې او دا کار هېڅکله دخدای مستقيم فعل نه وو؛ بلکې د خدای کار و، د "سببيت" له لارې ګنې څه وجه وه، چې خپلو ورونړو ته يې د پلار پر مخ د کميس د اچولو حکم کاوه او همدومره بس وه، چې دعا وکړي، دا کار د خدای د ولي له تصرف او د پرودرګار له اذن پرته نه شو کېدای او فاعل يې د غيبي سلطې خاوند دی، چې خدای په يوه ځانګړي ځای کې ورته وربخښلی دی.

## د موسی علیه السلام غيبي سلطه

موسی (ع) د خدای لخوا مامور شو، چې خپله امساء پر تيږه ووهي، د اسرائيل د اولادې لپاره ترې د دولسو قبيلو په شمېر چينې راووځي.قرآن فرمايي: [وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْناً قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُواْ وَاشْرَبُواْ مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ ؛ او(در ياد کړئ) چې کله موسی خپل قوم ته اوبه وغوښتې؛ نو دستور مې ورکړ: ((همسا دې پر هغه ځانګړې ډبره ووهه!)) چې ناڅاپه ترې دولس چينې وخوټېدې، داسې چې (دبني اسراييلو دولس ګونو ټبرونو) هر يو خپلې چينې پېژندلې. (او ورته مو وويل :) د خدای له درکړ شوي روزۍ وخورئ او وڅښئ او په ځمکه کې فساد مه کوئ.](بقره /٦٠)

په بل ځای کې ورته امر کېږي چې سيند په خپله امسا ووهي چې د بني اسرائيلو د تېرېدو لپاره د اوبو هره برخ د غره په څېر شي فرمايي: [فَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنِ اضْرِب

بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ ؛ نو موسی ته مو وحې وکړه:((په خپلې همسا دې سمندر ووهه.))(هغه دا کار وکړ)؛ نو سمندر څېرې شو (او دولس ټوټې شو) او هر ټوټه يې (په هسکوالي کې) د لوی غره په څېر شوه!] شعراء ٦٣ آيت) دلته د موسی (ع) اراده او اوغوښتنه او د هغه په امسا د اوبو له وهلو د چينو را په خوټکېدل او اوبه د غرونو په شان په کېدولو کې بې اغېزی نه شو ګڼلای.

## د سليمان عليه السلام غيبي سلطه

حضرت سليمان عليه السلام د خدای له سترو وليانو څنې دی، چې د پراخو غيبې قدرتونو خاوند دی، چې په خپله دغه سترې خدايي بخښنې په (و اوتينا من کل شئي - نمل ١٦) جملې سره تعبير کړي دي او د نمل په ١٧، ٢٤ د سبا په ١٢ د انبيا په ٨١ د ص په ٣٦، ٤٠ آيتونو کې د دې بخښنو او مواهبو تفصيل راغلی دی او د دغو آيتونو مطالعه موږ د سليمان عليه السلام د قدرت له سترتوب سره اشنا کوي.
ددې لپاره چې ګران لوستونکي په لنډه توګه له دغو قدرتونو سره بلد شي، د دغه الهي ولي په باب ځيني آيتونه را اخلو، چې دا ترې روښانه شي، چې د خدای د بندګانو پر غيبي قدرت اعتقاد داسې يوه مساله ده، چې قرآن ترې خبر کړي يو.
سليمان عليه السلام د قرآن له نظره پر پيريانو او مرغانو سلطه درلوده او د مرغانو او ځځندو په ژبه پوهېده. قرآن فرمايي:[وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ وَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ الطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيْءٍ إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ.وَحُشِرَ لِسُلَيْمَانَ جُنُودُهُ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ.حَتَّى إِذَا أَتَوْا عَلَى وَادِي النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَا أَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسَاكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَانُ وَجُنُودُهُ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ.فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَى وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ ؛او سليمان د داؤد وارث شو او و يې ويل : ((خلکو! موږ ته د مرغانو د ژبې [پوهېدل] راښوول شوي دي او هرڅه راکړ شوي دي، په رښتيا چې دا (راکړه) هماغه ښکاره لوړاوی دی.)) او سليمان ته د پېريانو، انسانانو او مرغانو لښکرې راغونډې کړای شوې او د هغوی (د خپرې ورېدو او

بې نظمۍ) مخه نيول کېده. (هغوی وخوځېدل) چې د مېږيانو ناو ته ورسېدل؛ نو يو مېږي (په خپله ژبه) وويل : ((مېږيانو! خپلو ځالو ته ننوځئ، هسې نه چې سليمان او لښکر يې تاسې په بې خبرۍ کې تر پښولاندې کړي.)) نو (سليمان) د مېږي پر خبره مسکی او په خندا شو او و يې ويل : ((پالونکيه! ما ته دا الهام (او را په برخه) کړه، چې ستا د هغه لورونې شکر پر ځای کړم، چې ما او زما مور و پلار ته دې راکړې ده او داسې ښه چار وکړم، چې ستا خوښ شي او په خپلې لورنې دې ما په خپلو صالحو بندګانو کې وشمېره.))] (نمل ١٦-١٩ آيتونه)
تاسې په قرآن کې د ملا چرګګ قيصه، چې دسيلمان لخوا ملکې سبا ته د پيغام رسولو لپاره مامور شوی و، ولولئ؛ نو د حضرت سليمان غيبي قدرت ته به ګوته پر غاښ شئ؛ نو د نمل سورت ٢٠-٤٤ آيتونه ښه په ځير سره ولولئ.
سليمان عليه السلام د قرآن د څرګندونې له مخې د غيبي سلطې خاوند و او باد يې په حکم او اراده چلېده فرمايي:
[وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ عَاصِفَةً تَجْرِي بِأَمْرِهِ إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عَالِمِينَ ؛ او سليمان ته مو توند باد [ايل کړی و]، چې په حکم به يې د هغه هېواد لوري ته الوته، چې موږ پکې برکتونه ايښي وو او موږ پر هر څه پوه [او وسمن] يو.] (انبيا ٨١ آيت)
د پام ور ټکی " تَجْرِي بِأَمْرِهِ " جمله ده، چې دا ښيي چې باد د هغه په حکم چلېده.

## حضرت مسيح او غيبي سلطه

د قرآني آيتونو د څېړنې له مخې د حضرت مسيح په غيبي ځواک پوهېدای شو او د هغه مقام او موقعيت ته د اشارې لپاره يو آيت را اخلو، قرآنکريم د مسيح کيسه داسې کوي:
[وَرَسُولاً إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنِّي قَدْ جِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللّهِ وَأُبْرِئُ الأكْمَهَ والأَبْرَصَ وَأُحْيِـي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللّهِ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ؛

((او (هغه به) د استازي (په توگه) بني اسراییلو ته (ولېږي، چې ورته به ووایي :) ما درته ستاسې د پالونکي له لوري یوه نښه راوړې، زه له خټې د مرغۍ په ډول یو څیز جوړوم بیا پکې پوکی کوم، چې د خدای په اجازه به الوتونکی شي. زه د خدای په امر "مورزېږی" روند او د برگي(پیس) ناروغان رغوم او د خدای په اجازه مړي را ژوندي کوم او څه چې خورئ اوڅه په کورونو کې زېرموئ، زه مو ترې خبروم، که زما پر نبوت یقین لرئ؛ نو تاسې ته په دې (معجزو) کې) زما د حقانیت (پوره) نښې دي.] (آل عمران ٤٩ آیت)

مسیح خپلې چارې د خدای په اذن پورې ځکه اړوندې گڼي، چې یو پېغمبر هم د خدای له اذن پرته دا شان تصرف نه شي کولای. فرمايي:[وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلاً مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلاَّ بِإِذْنِ اللّهِ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ ؛ په رښتیا چې موږ تر تا مخکې (هم) رسولان لېږلي ول او د مېرمنواو اولادونو خاوندان مو کړل او هېڅ یو پېغمبر (له ځانه) معجزه نشي راوړای؛ خو د خدای په اجازه؛ د هرې پېښې (او وخت لپاره حکم) کښل شوی دی (او هرکار ته ټاکلې موده ده).] (رعد ٣٨ آیت)

خو د دې ترڅنگ حضرت مسیح غیبي چارې په ځان پورې تړي او وایي : زه ښېگڼه (شفا) ورکوم، زه ژوندي کوم، زه خبروم؛ لکه "ابرئ، احیی، انبئکم" چې ټولې متکلمې صیغې دي پر همدې دلالت کوي.

دا یواځې یوسف، موسی او سلمیان (علیهم السلام) نه دي، چې غیبي قدرت او مافوق طبیعي سلطه یې درلوده؛ بلکې د پېغمبرانو او پرښتو یوه ډله ده، چې غیبي سلط یې درلوده او لري یې چې قرآن جبراییل شدید القوي (نجم/٥) او پرښتې په "مدبرات امرا" (نازعات/٥ یادوي.

پرښتې په قرآن کې د نړۍ دچارو تدبیروونکې، د ارواحو نیوونکې، د انسانانو ساتندویانې د اعمالو کښونکې (ثبتوونکی) د عصبانگرو ولسونو تس نس کوونکې او.... ښوول شوي دي او څوک چې حتی د قرآن کریم له الفبا سره بلد وي، پوهیږي

چې پربنتی د غیبي قدرت لرونکي دي او د خدای په اذن او قدرت ستری او له عادت نه بهر چارې تر سره کوي.
که پر غیبي سلطه باندې اعتقاد د مخامخ لوري الوهیت وي؛ نو بیا خو دوی ټول د قرآن له نظره "الهه" ګڼل په کار دي.
حل لاره همدا ده، چې وویل شوه او داچې د ځانګړي او اکتسابي قدرت ترمنځ توپیر په کار دی. پر استقلالي قدرت اعتقاد په هر وخت کې شرک دی. په داسې حال کې د هر عمل په باب پر اکتسابي قدرت اعتقاد د توحید متن دی.
تردې ځایه روښانه شوه، چې د اولیاء الله وو پر "غیبي ځواک" باندې اعتقاد، چې د الهي ذات پر قدرت ولاړ وي او اولیاء داسې عومل وګڼو، چې خدای یې راولاړوي؛ نه یواځې شرک نه دی؛ بلکې کټ مټ توحید دی او د توحید کچ میچ دا نه دی، چې پر طبیعي قواوو ولاړې چارې له انسان او پرغیبي قواوو ولاړې چارې له خدایه وګڼو؛ بلکې د توحید حقیقت دادی، چې هر څه په خدای پورې وګڼو او هماغه جل جلاله د هر راز ځواکونو، چارو هڅو سرچینه وبولو.
اوس نو وخت دی، چې له الهي اولیاوو نه له عادت نه د بهر چارو غوښتنه تر غور او څېړنې لاندې ونیسو.

## ايا له عادت نه د بهر چارو غوښتنه شرک دی؟

هر څيز د علت او معلول د قاعدې له مخې ځان ته يو علت لري، چې د هغه څيز وجود له علت پرته کېدونی (ممکن) نه دي او په نيتجه کې هېڅ يو څيز په نړۍ کې بې وجهی او بې علته نه وي.
د اولياوو او پېغمبرانو کرامات او معجزی هم بې علته نه وي، څه چې دي مادي او طبيعي علت نه لري او دا بېله خبره ده، چې ووايي د هغوی لپاره علت نه شته.
که د موسی عليه السلام امسا په مار بدلېده او د مسيح په پوکي مړی ژوندي کېدل او جناب رسول الله (ص) سپوږمۍ دوه نيمه کوي او کاڼي د رسول الله په لاس کې تسبيح وايي او... څه چې شته دا يو هم بې علته نه دی. په دې لړ کې طبيعي يا پېژندل شوي مادي علت نه دی کارېدلی، نه دا چې علت نه لري.
کله کله داسې ګڼل کېږي، چې د طبيعي چارو غوښتنه شرک نه دی؛ خو د خارق العاده او له عادت نه بهر چارو غوښتنه شرک دی. دلته دا نظريه هم څېړو.
ځواب: قرآن ځينې داسې ځايونه يادوي، چې له پېغمبرانو يا نورو نه په کې ديو لړ داسې خارق العاده چارو غوښتنه شوې ده چې له طيعي او مادي قوانينو نه بره وي او قرآن دغه غوښتنه را اخلي، بې له دې چې څه نيوکه پرې وکړي؛ مثلا د موسی (ع) قوم، د قرآن د څرګندونې له مخې موسی (ع) ته ورغلل او د اوبو او باران غوښتنه يې ترې وکړه، چې له وچکالۍ او تنګسې نه وژرغورل شي. فرمايي: [و اوحينا موسی اذاستسقاه قومه ان اضرب بعصاک الحجر؛ له موسی نه يې قوم اوبه وغوښتې؛ موږ ورته وحې وکړه، چې تيږه دې په امسا ووهه]
(د بقرې ٦٠ آيت هم وګورئ)
ښايي وويل شي، چې له ژوندني نه ګنې خارق العاده غوښتنه څه پروا نه کوي؛ خو خبره له مړه نه د داسې په غوښتو کې ده، د دوی ځواب روښانه دی، ځکه مرګ او ژوند په هغو چارو کې، چې له توحيد سره سم وي، څه تفاوت رامنځته کولای نه

شي.داسې چې يوه ته شرک او بل ته کټ مټ توحيد ووايي. ژوند او مرگ پر گټورتوب او بې گټې توب باندې اغېزه پرې ايستلای شي، نه پر توحيد او شرک.

## سليمان (ع) د بلقيس تخت غواړي

حضرت سليمان (ع) د بلقيس د تخت په راوړلو کې له ورسره ناستو نه خارق العاده کار وغوښت او و يې ويل: [قَالَ يَا أَيُّهَا المَلأُ أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ. قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ الْجِنِّ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ ؛(سلېمان) وويل: (((د هېواد) مشرانو! له تاسې به کوم يو د هغې تخت ماته تر دې مخکې راوړي، چې هغوی ماته اېللي راشي؟)) له پېريانو يوه زورور؛ د غښتلې جوسې خاوند وويل :((زه به يې درته راوړم، مخکې تردې، چې له خپله ځايه پاڅېږې، زه ددې (کار) وسه لرم او امين هم يم!)) ] نمل ۳۸-۳۹ آيتونه)

که داسې يوه نظريه سمه وي؛ نو بيا بايد په هره زمانه کې د نبوت له مدعيانو نه د معجزې غوښتنه کفر او شرک وگڼل شي؛ ځکه د نبوت له مدعي نه د معجزې غوښتنه يو خارق العاده کار دی، نه د هغه مدعي له استوونکي، خدای نه، قرآن فرمايي: [قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِآيَةٍ فَأْتِ بِهَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ؛ (فرعون) وويل :((که تا کومه نښه راوړې وي (او) رښتونی يې؛نو را و يې ښيه.)) ] (اعراف ۱۰۶ آيت)

حال داچې د نړۍ ټولو ولسونو د رښتيني او دروغجن نبي د بېلولو او پېژندلو لپاره همدا د معجزې غوښتنې لار نيوله او پيغمبرانو همېشه د نړۍ ټولو ولسونو ته بلنه ورکوله، چې راشي او د هغوی معجزی په خپلو سترگو ووينې او قرآن کريم هم د نبوت له مدعيانو سره د معجزې د غوښتو په باب د قومونو خبرې اترې، چې د هغوی (پيغمبرانو) گرانښت ښيي، را اخلي.

که يو پلټونکی او څېړونکی ملت عيسی عليه السلام ته ورشي او ورته ووايي، چې که په خپله دعوه کې رښتينی يې؛ نو دغه ړانده يا برگ (په پيس اخته ناروغ) ته شفا ورکړه.

په دې سره نه يواځې مشرک کېږي نه؛ بلکې يو حقيقت پلټونکی ملت گڼل کېږي، چې په دې کار ستايل کېږي هم، اوس نو که د مسيح عليه تر وفات وروسته د هغه امت د هغه له سپيڅلی روح نه وغواړي، چې نور ناروغان يې شفا ومومي؛ نو مشرک ولې وگڼل شي؟ حال داچې په شرک او توحيد کې د مقابل لوري ژوند او مرگ هېڅ اثر نه لري. (د حضرت مسيح په معجزو د پوهېدو لپاره د آل عمران ٤٩ او د مائدې ١٠٠ – ١١٠ آيتونه وگورئ)

داچې د قرآن د څرگندونې له مخې د خدای د غوره بندگانو يو ټولی پر خارق العاده چارو وسمن واو کله کله يې له دغه ځواک نه کار اخسته.

او ځينې کسان به د همدې لپاره ورتلل هم که د شيخ محمد بن عبدالوهاب ډله وايي، چې پردې کار له خدايه پرته هېڅوک وسه نه لري؛ نو بيا خو دغه آيتونه د هغې پر خلاف گواهي ورکوي.

که وايي چې له دې لارې د يوه کار غوښتنه شرک دی؛ نو سليمان عليه السلام او نورو ولې غوښته وکړه؟ که وايي چې له اولياوو نه په خارق العاده توگه د حاجت غوښتنه پر غيبي سلطه باندې د هغوی اعتقاد غواړي، د هغې ځواب دادی، چې پر غيبي سلطه باندې اعتقاد دوه ډوله دی؛ يو کټ مټ توحيد دی او بل د شرک جوړه وي.

که وايي: له ژونديو اولياوو نه د کراماتو غوښتنه څه پروا نه لري؛ خو له مړو دې نه وي، د هغوی ځواب دادی، چې ژوند او مرگ د مشرک او توحيد ميچ نه دی.

که وايي چې د ناروغ د روغتيا او له غير عادي لارې د پور د لندېدو غوښتنه د خدای کار له بل نه غوښتنه دی. موږ وايو د شرک ميچ او ملاک دادی، چې مسوول خدای او د خدايي چارو سرچينه وگڼو او د غير طبيعي کار غوښتنه له بل چا نه د خدايي کار غوښتنه نه ده؛ ځکه د خدايي کارونو ميزان دا نه دی، چې دعا دې د قوانينو له پولو اخوا وي، چې داسې غوښتنې له خدای نه د بنده د چارو غوښتتنه ده؛ بلکې د خدايي چارو ميزان دادی، چې فاعل يې په ترسره کولو کې ازاد وي او که يو فاعل يو کار د الهي قدرت په مرسته ترسره کړي، ددغه شان يو کار غوښتنه له بل چا نه د خدای د کار غوښتنه نه ده، که کار عادي وي او يا غيرعادي.

د خدای له بندګانو نه د شفا لپاره د غوښتنې په باب وایو چې ځینې وخت داسې ګڼل کېږي، چې له اولیاوو نه د شفا یا دې ته ورته نور څه له بل چا نه د خدایي چارو غوښتنه ده او قرآن فرمايي: [وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ؛ او چې کله رنځور شم؛ نو هماغه مې رغوي؛ ] (شعرا ۸۰ آیت)
له دې سره سره نو دا ځنګه وایو، چې : ای پیغمبره! ماته شفا راکړه او نورې هغه غوښتنې هم همداسې وګڼې، چې خارق العاده خواوې لري.
ځواب: دغې ډلې خدایي او بشري چارې سره نه دې پېژندلي او داسې یې ګڼلې ده، چې هر څه چې له طبیعي سرچینې نه بهر وي، هغه په الهي چارو او هر کار، چې طبیعي اړخ او مادي علت ولري، هغه باید بشري کار وګڼل شي؛ دغې ډلې یا نه دي غوښتي او یا نه دي بریالي شوي، چې الهي او غیر الهي چارې سره توپیر کړي او د الهي او بشري چارو میزان هېڅکله عادي والی او غیر عادي والی نه دی او ګنې نو د اولیاوو چارې باید الهي چارې وګڼل شي او هغوی ټولو ته باید "الهه"وویل شي؛ بلکې په خدایي چارو کې میزان دادی، چې عامل په خپل کار پر خپلو پښو ولاړ وي او له بل چا نه مرسته ونه غواړي، د داسې وګړي کار الهي کار دی؛ خو کوم عامل، چې خپل کار د خدای د قدرت په رڼا کې ترسره کړي د هغه کار غیر الهي کار دی. هغه کار عادي او مادي اړخ ولري او که د عادت له پولو نه بهر وي.
بشر د هرې چارې په ترسره کولو کې عادي وي او که له عادت او طبیعي قوانینو نه بهر وي، پر خدای تکیه لري او د هغه له قدرته مرسته غواړي او چې هر کار کوي، د هغې ځواک په رڼا کې یې ترسره کوي، چې له خدای نه یې اخستی وي. په دې صورت کې د داسې قدرت درلودل او د اهدافو په ترسره کولو کې یې کارونه او یا یې د په کارولو غوښتنه یوه هم د شرک جوړه نه شي ګڼل کېدای؛ ځکه په ټولو حالاتو کې وایو، چې دا قدرت ده ته خدای ورکړی او ده ته یې حکم کړی، چې ګټه ترې واخلي.
خدایي کار هغه کار دی، چې فاعل په خپل او د بل له مرستې پرته خپل کار ترسره کړي.

يا په بله وينا : خدايي کار دی، چې کوونکي يې په کولو کې خپلواک، بشپړ او له بل مړه خوا وي او غير خدايي چارې د دې پر عکس دی.
خدای نړۍ شته کوي، روزي ورکوي، روغتيا بخښي، د هغه چارې د بل چا له مرستې پرته ترسره کېږي او هېڅوک يې په چارو کې کلي او جزيي لاسوهنه نه کوي او د هغه قوت او قدرت له بل څخه نه وي.
خو که بې له خدايه بل څوک يو کار ترسره کړي، که عادي او اسان کار وي او ياغير عادي او گران، د هغه قوت په خپله د هغه نه دی، په خپل مټ يې نه ترسره کوي.
په روښانه وينا سره: که يوه موجود ته د وجود يا تاثير له پلوه يوه خپلواکي ومنو، د توحيد له لارې به واوړو؛ ځکه د هستۍ په اصل کې د يوه څيز پر خپوالکۍ اعتقاد په هستۍ کې له خدای نه د هغه د بې نيازۍ برابره ده او دغسې يو موجود به بې له خدايه چې په هستۍ کې څه شي ته اړ نه دی او وجود يې په ځان پورې اړوند دی، بل څوک وي.
همداشان که د هغه وجود د خدای مخلوق وگڼو؛ خو په دې عقيده اوسو، چې د نړۍ او بندگانو چارې هغه ته ورسپارل شوي دي او هغه يې په تدبير کې خپولاک دی، په دې ترخ کې به هم مشرکان يو.
د جاهليت په زمانه کې او د اسلام د لمر څرک پر وخت د زياتره مشرکانو عقيده همدا وه، د هغوی عقيده وه، چې پرښتې او ستوري چې مخلوق دي، د نړۍ مدير دی (يادداشت: چې کله عمرو بن لحی د بوت د لمانځنې د وجهې پوښتنه وکړه، د شام خلکو ورته وويل : موږ ورنه باران غواړو. هغوی موږته باران راليږي، مرسته ترې غواړو مرسته راسره کوي؛ نو هغه په دې عقيده "هبل" بوت له ځان سره مکې ته راووړ. سيرة ابن هشام ۷۷/۱)
او يا لږ تر لږه د خدايي چارو يوه برخه؛ لکه شفاعت او مغفرت هغوی ته سپارل شوی دی او هغوی په دې چارو کې بشپړه خپلواکي لري.
د معتزله وو ډله، چې انسان د هستۍ له پلوه د خدای د خدای مخلوق گڼي؛ خو د تاثير او کار په ترسره کولو کې ورته په خپلواکۍ قابل دی، که په خپله وينا کې ښه پوره غور

وکړي؛ نو و به ویني، چې دغسې عقیده یو ډول خفي شرک دی، چې دوی ترې ناخبره دي، که څه هم د مشرکانو د شرک په څېر نه وي. ددې داوړو ډولو شرکونو توپیر بیخي روښانه دی. یوه یې د نړۍ په تدبیر او الهي چارو کې د استقلال دعوی لري او بله یې په خپلو چارو کې د انسان د استقلال مدعي ده.

# خدای ته د اولیاوو پرمخ سوگند ورکول

د شیخ محمد بن عبدالوهاب ډله په دوو لاندې برخو کې له نورو اسلامي فرقو سره اختلاف لري او وايي، چې دا ډول قسمونه حرام او احيانا په عبادت کې شرک گڼل کيږي.

۱ _ خدای ته د اولیاوو پر مخ سوگند ورکول.

۲ _ بې له خدايه پر بل څه قسم.

دلته مونږ دا دواړه قسمونه تر څېړنې لاندې نیسو.

خدای ته د اولیاوو پر مخ قسم ورکول

قرآن مجید د آل عمران په ۱۷ آيت کې یو ډله په لاندې صفتونو ستايي

آل عمران ۱۷ آيت: [الصَّابِرِينَ وَالصَّادِقِينَ وَالْقَانِتِينَ وَالْمُنفِقِينَ وَالْمُسْتَغْفِرِينَ بِالأَسْحَارِ ؛ هغوی چې (د ستونزو پروړاندې او د اطاعت په بهیر او د گناهونو په پرېښوو کې) صبر اوزغم کوي، رښتوني دي (د خدای پر وړاندې) امر منونکي دي او (د هغه په لار کې) نفقه ورکوي اوسهار مهال له خدايه د بښنې دعاگانې کوي.]

اوس که څوک د شپې تر لمانځه وروسته خدای تعالی ته د دغو په مقام او مخ قسم ورکړي او ووايي: "اللهم اني اسالک بحق المستغفرين بالاسحاراعفرلي ذنوبی" "خدايه! په سهار کې د استغفار کې د استغفار غوښتونکيو په مخ زما گناهونه وبخښه" نوڅنگه دا عمل په "عبادت کې شرک" گڼل کيږي؛ ځکه په عبادت کې شرک خو دادی چې څوک له خدای پرته بل څه ولمانځي او غير خدای د خدايي کارونو مبدا وگڼي، حال داچې مونږ په دې دعا کې خدای ته مخه کړې او له هغه پرته مو له بل چا څه نه دی غوښتي.

که چېرې دا عمل حرام وي؛ نو له "شرک" پرته بل دلیل او علت باید ولرو؛ مونږ وايو، چې قرآن مجید راته د مشرک (البته په عبادت کې شرک) او موحد د بېلولو لپاره قاعده ښوولې او د مشرک په باب د هر ډول "تفسير بالرای" مخنيوی يې کړی دی او هغه دا

چې: [وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لاَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ؛ چې کله د ايکي يو "الله" خبرې کېږي؛ نو پر اخرت د ناموٴمنانو زړونه وترهېږي او چې کله نور معبودان ياد شي؛ نو خوشحالېږي.] (زمر۴۵)
[إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ.وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ؛(ځکه) چې کله ورته د "لا اله الا الله" [کلمه] ويل کېدل (؛ نو) لويي يې کوله او سر يې غاړوه؛ او ويل يې: ((آيا موږ د يو لېوني شاعر لپاره خپل معبودان پرېږدو؟!))
](صافات ۳۵-۳٦)

د دې دوو آيتونو د مضمون له مخې:
مشرک هغه دی، چې کله د الله پاک نوم ياد شي؛ نو دوی خپه کېږي او زړونه يې درنېږي او د نورو (دروغجنو خدايانو) په يادولو خوښېږي او ياداچې خدای تعالی له وحدانيت ځنې سرغړوي او په هېڅ بيه د غير خدای عبادت نه پرېږدي.
د دې معيار له مخې څوک، چې په پخه شپه کې راپاڅېږي او د الله پاک د ياد لپاره خوږ خوب پر ځان حراموي او له هغه سره په راز و نياز اخته وي او هغه ته په موحدو او منلو بنېگانو قسم ورکوي؛ نو ايا دا شرک دی؟ ايا ددې زړه د خدای پاک، د ياد له امله درنېږي او خدای تعالی له وحدانيته سرغړوي؟!
ولې دوی د خپلو خيالي معيارونو له مخې ټولو موحدينو ته مشرکان وايي او خپل ځانونه د خدای تعالی د دربار منلی ګڼي؟
نو ددې معيار له مخې په سلو کې ۹۹ اهل قبله وو ته مشرک نه شو ويلای او يوازې د نجدي ډلې ته موحدين ووايو.
د حضرت علي په دعا کې هم دا ډول قسمونه ليدل کيږي.
د صحيفه علويه په ۳۷ مخ کې راغلي چې:
اللهم اني اسالک بحرمه من من عاذبک منک، و لجا الی عزک واستظل بفيئک واعتصم بحبلک، و لم يشق الابک"

خدايه! هغه چې ستا له عذابه تا ته پناه درووړی او ستا په عزت ښايست شوي او تر سيورې لاندې دي او ستا پر رسی يې منگولې لگولي اوله تا پرته په بل چا يې زړه نه وي تړلی؛ نو ددې په احترام له تا نه سوال کوم او غواړم.
د شيخ نجدي په پيروانو کې نرم دريځو "خدای ته د اولياوو پر مخ سوگند ورکول" د صنعاني (ددې ډلې سخت دريځی ليکوال دی، چې دا مساله د کفر او شرک په پولو کې څيړي) پر خلاف د تحريم او کراهت په محدوده کې مطرح کړې.
اوس چې مونږ ته د خپلې موضوع محور څرگند شو؛ نو مسئله د حرامو او مکروه په حدودو کې تر غور لاندې نيسو او د مسئلې موضوع په دغه شان مطرح کول د هغه په سموالي دلالت کوي.

## په اسلام کې د دې توسل پيښېدل

په اسلامي رواياتو کې دغسې توسلات راغلي او د هغو په باب د حرامو يا مکروه فکر نه شو کولای.
حضرت پيغمبر هغه ړوند سړي ته داسې وښوول، چې ووايي:
اللهم اني اسالک و اتوجه اليک بنبيک محمد نبی الرحمه (سنن ابی ماجه ٤٤١/١، سند احمد ٣٨١/٤، مسندرک حاکم ٣١٣٠/١، التاج ٢٨٦٠/١)
ابوسعيد خدري رضی الله عنه د حضرت نبي اکرم نه داسې دعا نقل کړې ده.
"اللهم اني اسالک بحق السائلين عليک و اساءلک بحق ممشای هذا".
(صحيح ابن ماجه ٢٦١/١-٢٦١، مسند احمد ٣ جلد ٢١ حديث.)

## حضرت آدم داسې توبه ويستله

اساءلک بحق محمدالاغفرت لی.
(الدرالمنشور ٥٩/١، متسدرک حاکم ٦١٥/٢، روح المعاني ٢١٧/١)
حضرت پيغمبر چې د حضرت علي مور ښخه کړه؛ نو د هغه په باب يې دا دعا وکړه:

اغفرلا مى فاطمه بند اسد و وسع عليها مدخلها بحق نبيک ولانبياء الذين من قبلى......
(الفصول املهمه ۳۱مخ، دابن صباغ مالکي تاليف (۸۵۵ کال مړ)
په دې جملو کې که څه هم د قسم لفظ نه دی راوړل شوی؛ خو واقعي مفاد يې همدغه ډول قسم دی.

**لومړی اعتراض:**

کشف الارتياب په ۳۲ مخ کې يې له الهديه السنيه نه نقل کړی دی چې:
اسلامي علماء په دې باب يوه خوله دي، چې خدای ته پر مخلوق قسم ورکول او يا د مخلوق حق حرام دی.
ځواب: د اجماع معنی داده، چې د اسلام علماء په هر عصر او يا ټولو عصرونو کې ديو حکم په باب يوه خوله وي او په يو حکم کې په يو خوله کېدل د اهل سنتو د علماوو له نظره يوه الهي دليل دی.
اوس دلته پوښتنه کوو، چې په دې مسئله کې د علماوو ترمنځ اتفاق نظر شته؟
ايا د اهل سنتو امامانو ددې قسم د تحريم په باب فتوی ورکړې؟ او که ورکړې يې وي، د فتواوو متن، کتاب او مخ دې يې وښيي.
اصولاً د اهلسنتو په فقهي او حديثي کتابونو کې دا ډول توسل عنوان شوی نه دی، چې د هغه په باب نظر څرګند کړي، اوس نو دا پوښتنه کوو، چې د الهديه السنيه مولف، چې ددې قسم په باب د اجماع خبره کړې، هغه اجماع چېرته ده؟
د الهديه السنيه مولف يوازې د يوې ناشنا څېرې "العزين عبدالسلام" د تحريم يادونه کړې او بيا يې و رپسې د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمة الله عليهما له لوري نقل کړی، چې هغوی هم د فلاني په حق ويل يې مکروه ګڼلي؛ خو د دې فتوی سند يې نه دی ښوولی.
نو ويلای شو، چې د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پورې د دې فتوی منسوبول سم نه ښکاري.

**دويم اعتراض:**

کشف الارتياب په ۳۳۱ مخ کې د قدوري په نقل ليکي:

ان المساله بحق المخلوق لا نجوز لا نه لا حق للمخلوق على الخالق.

د مخلوق په حق له خدای پاک څخه سوال جايز نه دی؛ ځکه مخلوق د خالق په ذمه کې حق نه لري.

ځواب:

دا ډول استدلال د نص په مقابل کې له اجتهاد پرته نور څه نه دي. په قرآن مجيدکې په ځينو آيتونو کې راغلي دي، چې صالح مؤمنين پر خدای تعالى باندې حقوق لري.

روم ٤٧ آيت: [وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلاً إِلَى قَوْمِهِمْ فَجَاؤُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ؛

توبه ۱۱۱ آيت: [إِنَّ اللّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللّهِ فَاسْتَبْشِرُواْ بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ؛ په حقيقت کې خدای له مؤمنانو ځانونه او مالونه يې د جنت په بدل کې پېرلي دي؛ (په دې توگه چې) د خدای په لار کې جنگېږي؛ نو وژني او وژل کېږي، پر هغه دا (د جنت وعده) پخه وعده ده، چې په تورات او انجيل او قرآن کې ياده شوې ده او ثوك دی، چې تر خدای ښه خپله ژمنه پوره کوي؟ (هو، هېڅوك نشته) نو له خدای سره په خپلې راکړې ورکړې خوښ اوسئ او يوازې دا ستره بريا ده!]

يونس ۱۰۳ آيت: [ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُواْ كَذَلِكَ حَقًّا عَلَيْنَا نُنجِ الْمُؤْمِنِينَ ؛ بيا (چې کله عذاب راورسېږی؛ نو) موږ خپل استازي او هغوی ژغورو، چې ايمان يې را وړی وي او په دې توگه پر موږ فرض (او حق) دی، چې مؤمنان وژغورو.]

نساء ۱۷ آيت:[إِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّهِ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السُّوَءَ بِجَهَالَةٍ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٍ فَأُوْلَـئِكَ يَتُوبُ اللّهُ عَلَيْهِمْ وَكَانَ اللّهُ عَلِيماً حَكِيما؛ خدای يوازې د هغه چا توبه قبلوي، چې په ناپوهۍ بدکار ترسره کړي او بيا ژر توبه وباسي؛ خدای د دغسې کسانو توبه مني او خدای پوه (او) حکيم دی.]

که رښتیا مخلوق پر خالق باندې حق نه درلود؛ نو ولې په تېرو شویو احادیثو کې حضرت آدم او حضرت محمد علیهما السلام خدای ته پر دغسې حقوقو قسم ورکاوه.
بیا هم په دې باب لاندې احادیثو ته پاملرنه وکړئ:
الجامع الصغیر سیوطي ۳۳/۲
حق علی الله عون من نکح التماس العفاف مما حرم الله
څوک چې د عفت لپاره ځان له حرامو نه ساتي پر خدای ده، چې ورسره مرسته وکړي.
سنن ابن ماجه ۸٤۱/۲: قال رسول الله: ثلاثه حق علی الله عونهم، العازی فی سبیل الله، والمکاتب الذی برید الاداء، والناکح الذی برید التعفف.
له درې ډلو سره د خدای تعالی مرسته لازمه ده: خدای د لارې مجاهد، هغه مریی، چې له خپل مولا سره یې تړون کړی وي، چې د یو مقدار مبلغ تر ورکولو وروسته به یې ازادوي، هغه ځوان چې د واده له لارې خپل عفت ساتي.
"نهایه" ابن اثیر د "حق" ماده: "اتدری ما حق العباد علی الله...."
ایا پر پروردګار باندې چې د بندګانو حق دی نه یې وینې؟
هو! دا باید ووایو، چې ذاتا هېڅوک پر خدای تعالی حق نه لري که په پېړیو یې هم عبادت کړی وي؛ ځکه بنده چې هر څه لري، هغه د خدای تعالی دی او خپل یې څه د خدای پاک په لاره کې نه دي لګولي، چې بالذات د هغه د بدلې مستحق وي.
نو ځکه په دغسې مواردو کې دغسې حق، هماغه الهي اجرونه، مقام او منزلت دی، چې متعال خدای د خپل رحمت له مخې پرې لورولی او د دې پیرزوینو ذمه واری یې پر غاړه اخستې او په خپله ذمه د دغسې حق اخستل د عظمت او سترتوب نښه ده.
یا په بله وینا پر خدای تعالی باندې د مخلوق د حق مساله داسې ده؛ لکه چې خدای پاک له فقیر او نیستمن بنده څنې پور اخلي [مَّن ذَا الَّذِي يُقْرِضُ اللّهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضَاعِفَهُ لَهُ أَضْعَافًا كَثِيرَةً وَاللّهُ يَقْبِضُ وَيَبْسُطُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ؛څوك دی، چې خدای ته غوره پور (قرض حسنه) ورکړي (او خدای ورکړي مالونه نفقه کړي) چې خدای ورته هغه څو ځل زیات کړي؟ او خدای دی، چې (د بندګانو روزي) کموي یا پراخوي (او

نفقه هېڅکله د هغوی د روزۍ د کمولو لامل نه گرځي) او یوازې د هغه لوري ته ورگرځول کېږئ (او خپله بدله به تر لاسه کړئ.)]
(بقره ۲٤٥ آیت:)

او دا تعهدات او ژمنې او د بندگانو حقدارېدل یې د خپل لطف او کرم له مخې دي، چې په کمال لطف سره ځان د صالحو بندگانو پور وړی کوي او هغوی د حقوق خاوندان گڼي او خپل ځان (من علیه الحق) متعهد او ژمن بڼيي.

## بې له خدايه پر بل څه قسم

بې له خدايه پر بل څه قسم، له هغو مسئالو څنې دی، چې د شيخ محمد بن عبدالوهاب ډله ورسره خاص حساسيت لري.
د دې ډلې يو ليکوال "صنعاني" د "تطهير الاعتقاد" په ١٤ مخ کې دا مساله د شرک سرچينه گڼلې اود الهديه السنيه مولف د دې کتاب په ٢٥ مخ کې ورته وړوکی شرک ويلی دی.
خو مونږ دلته دا مساله له تعصب پرته د "قرآن او سنت" په رڼا کې څېړو.

## په غير خدای باندې د قسم د جواز دلايل

**لومړی دليل:**
په قرآن مجيد کې په لس گونو ځايونو کې په غير خدای قسم ياد شوی، چې دلته د ټولو راوړل بحث اوږدوي.
متعال خدای په "شمس" سورت کې پر اتو څيزونو قسم يادوي: "لمر، د هغه د هغه په نور، سپوږمی، ورځ، شپه، اسمان، انساني نفس او ځمکه."
تين ١-٣ آيتونه: [وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ.وَطُورِ سِينِينَ.وَهَذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ ؛ پر انځر او ښونه قسم! [يا پر شام او بيت المقدس قسم]! او پر "طور سينين" قسم! او (د مکې) پردې (له) امن [و امانه پر ډک] ښار قسم! ]
الليل ١-٢ آيتونه:[وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى.وَالنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّى ؛ پر شپه قسم، چې کله (نړۍ په خپلو تيارو کې) ونغاړي! او پر ورځ قسم، چې کله راښکاره شي ! ]
فجر ١-٤ آيتونه:[وَالْفَجْرِ.وَلَيَالٍ عَشْرٍ.وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ.وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ؛ پر سباوون قسم! او پر لسگونو شپو قسم!او پر جوړه او طاق قسم !او قسم پر شپه، چې کله (د ورځې د رڼا پر لور) روانيږي (چې ستا پالونکی ظالمانو ته په څارنځي کې دی)!]

طور ۱-٦:[وَالطُّورِ.وَكِتَابٍ مَّسْطُورٍ.فِي رَقٍّ مَّنشُورٍ.وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ. وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ. وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ ؛ قسم دی پر طور (غره) او پر لیکل شوي کتاب قسم، (چې) په پرانسته پاڼه کې (لیکل شوی دی)، او پر ودان کور قسم، او پر لوړ چت (اسمان) قسم او [له اوبو یا اوره] پر ډك سمندر قسم، ]

حجر ۷۲ آیت: [لَعَمْرُكَ إِنَّهُمْ لَفِي سَكْرَتِهِمْ يَعْمَهُونَ ؛(خدای ووېل:) ستا پر عمر قسم، چې دوی د خپلې (بې لارۍ) په مستۍ کې له سده وتلي دي (او عقل او شعور یې له لاسه ورکړی دی) !]

همدارنگه په "النازعات" سورت کې په دریو ځیزونو، په "المرسلات" سورت کې په دوو ځیزونو قسم یاد شوی او د بروج، الطارق، القلم، العصر او البلد په سورتونو کې هم قسمونه یاد شوي دي.

نو په قرآن کریم چې دا پر له پسې قسمونه راغلي؛ نو ایا ویلای شو، چې په غیر خدای قسم شرک او حرام دی؟

قرآن د لارښوونې کتاب دی او که چېرې په غیرخدای قسم په بندگانو حرام وای؛ نو ویلي به یې چې دا ډول قسم د خدای تعالی له خصوصیاتو دی او تاسې پرې قسم مه یادوئ.

ځینې چې د قرآن له اهدافو بې خبره دي، په ځواب کې وایي: ممکن دی له خدای تعالی سره، چې کوم ځیز ښایي، هغه له نورو سره نه ښایيږي.

خو په ځواب کې یې وایو که په رښتیا په غیر خدای قسم شرک او د غیر خدای له خدای تعالی سره تشبیه وي؛ نو ولې په خپله خدای تعالی دغسې شرک او یا وړوکی شرک کوي؟ ایا دا سمه ده، چې الله تعالی له ځان سره په شریک قایل شي او له ځانه پرته نور له دغسې شرک ځنې وساتي؟

دویم دلیل:

حضرت جناب رسول الله (ص) په ځینو مواردو کې په غیر خدای قسم یاد کړی دی؛ لکه:

۱ _ د صحیح مسلم، کتاب الزکاة، درېیم جز باب افضل الصدقة په ۹٤ مخ کې راغلي چې:
جاء رجل الی النبی فقال یا رسول الله ای الصدقه اعظم اجرا فقال اما وابیک لتنباء نه ان تصدق و انت صحیح شحیح تخی الفعر و تامل البقاء"
یو سړی نبې اکرم ته راغی او و یې ویل: ای رسول الله! کومه صدقه لوی اجر لري؟ ورته یې وویل : په پلار دې قسم، چې له هغه نه به دې خبر کړم او هغه دا چې صدقه ورکړې؛ خو چې ته روغ او رمټ یې او حرص هم لرې، له فقر نه وېرېږې اود راتلونکې غم هم درسره وي.
۲ _ د صحیح مسلم، لومړی جزء، باب ما هو الا سلام و بیان خصاله، په ۳۲مخ مخ کې راغلي چې:
جاء رجل الی رسول الله من اهل نجد، یسال عن الاسلام، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: خمس صلوات فی الیوم واللیل، فقال: هل علی غیر هن؟ قال: لا، الا ان تطوع، وصیام شهر رضمان، فقال: هل علی غیره؟ قال: لا، الا ان تذ وع، وذکر له رسول الله صلی الله علیه وسلم الزکاة فقال : هل علی غیره؟ قال: لا، الا ان تطوع، فادبرالرجل و هو یوقل والله لا ازید علی هذا ولا انقص منه، فقال رسول الله افلح و ابیه ان صدق او دخل الجنة و ابیه ان صدق.
د نجد له اوسېدونکیو یو سړی نبي اکرم ته راغی او د اسلام په باب یې پوښتنه وکړه. حضرت پېغمبر ورته وویل، چې اسلام پر دغو سنتو ولاړ دی:
الف: په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه، د نجد سړي وویل:
له دې پرته نور لمونځونو شته؟ ورته یې وویل: هو مستحب لمونځونه شته.
ب: د رمضان د میاشتې روژه نیول. سړي پوښتنه وکړه: له دې پرته نوره روژه شته؟ و یې ویل: هو، مستحبي روژې شته.
ج:زکات. سړي پوښتنه وکړه : نور زکات شته؟ ورته یې وویل : هو مستحب زکات شته.

سړي له حضرت پيغمبر څنې پاڅېد او ويل به يې : نه يې زياتومه او نه يې کومه.
حضرت نبي اکرم وويل: د هغه پر پلار قسم، چې بريالی شي که رښتيا وايي، د هغه پر پلار قسم چې جنت ته به ننوځي که رښتيا وايي.
۳ _ د مسند احمد حنبل د ۵ ټوک په ۲۲۵ مخ کې راغلي:
فلعمری لان تکلم بمعروف و تنهی عن منکر خير من ان تسکت
په ځان مې قسم، تر چوپتيا غوره دی، چې په نېکيو امر وکړې او له بديو منع وکړې.
دغسې د تېر ماخذ، ۲۱۲مخ او سنن ابن ماجه د لومړي ټوک ۹۹۵ او ۲۵۵ مخونه وګورئ.
د موطاء امام مالک (د زرقاني شرح) د ۱۵۹/٤ کې راغلي چې د مسلمينو لومړي خليفه حضرت سيدنا ابوبکر د مخاطب سړي په پلار قسم ياد کړی او حضرت علي هم څو څو ځله پر ځان قسم ياد کړی، په دې باب د شيخ محمد عبده له خوا د تشريح شوي نهج البلاغې ۲۳، ۲۵، ٥٦، ۸۵، ۱٦۱، ۱٦۸، ۱۸۲، ۱۸۷ خطبې او ٦، ۹ او ٥٤ ليکونه وګورئ.

## د اهلسنتو څلور مذاهب او پر غيرالله قسم

د الفقه على المذاهب الاربعة کتاب اليمين د ۷۵/۱ کې راغلي چې:
احناف عقيده لري، چې په پلار او ژوند او داسې نورو باندې د قسمونو يادول مکروه دي.
شافعيان عقيده لري، چې که پر غير خدای باندې قسم، خدای تعالی ته د تعظيم او سپکاوي په حدودو کې نه وي؛ نو مکروه دی.
مالکيان وايي: په سترو شخصيتونو او مقدساتو (؛ لکه حضرت پيغمبر او کعبه) باندې قسم يادول له يوه پلوه مکروه او له بله پلوه حرام دی؛ خو مشهور يې حرمت دی.
حنبليان وايي: د خدای تعالی او د هغه له صفاتو نه پرته په نورو قسم يادول حرام دی، که څه هم پيغمبر يا ولي وي.
خو په حنابله وو پورې د دې ډول قسمونو د تحريم تړل سم نه دي؛ ځکه ابن قدامه د المغني د ۵۱۷/۹ کې (چې د حنبلي فقهې د احيا پر بنياد يې ليکلی) ليکي:
زمونږ يوې ډلې اصحابو ويلي، چې پر رسول الله باندې د قسم ماتول کفاره لري. له امام احمد نه نقل شوي، چې ويلي يې دي: هر څوک چې د رسول الله په حق کې قسم ياد کړي او بيا يې مات کړي، کفاره لري؛ ځکه د شهادت له ستنو يو هم پيغمبر دی؛ نو ځکه پر هغه باندې قسم په خدای تعالی باندې قسم دی او دواړه کفاره لري.
نو له دغسې نقلونو څنې معلومېږي، چې هېڅکله هم داهل سنتو ائمه وو په غوڅه او قطعي توګه په غير خدای باندې د قسم د حرمت فتوی نه ده ورکړې.

# پر غير خدای باندې د قسم په باب د شيخ محمد بن عبدالوهاب د ډلې لاسوند

**لومړی حديث:**
د سنن ابن ماجه د ۲۷۷/۱، د سنن ترمذي ۱۰۹/٤، سنن نسايي ۷ مخ او دالسنن الکبری ۲۹/۱۰ چې:
ان رسول الله سمع عمر رضی الله عنه وهو يقول: وابي فقال ان الله ينها کم ان تحلفوا بابائکم، و من کان حالفا فليحلف بالله او يسکت.
رسول الله واورېدل، چې عمر رضی الله په خپل پلار قسم ياودي، حضرت جناب رسول الله (ص) ورته وويل، چې الله تعالی تاسې پر پلرونو باندې له قسم يادولو نه منع کړي اوسئ؛ نو څوک چې قسم يادوي، په خدای تعالی دې يې ياد کړي او يا دې چپ اوسي.
۱ ـ پر پلرونو باندې د قسم له يادولو نه منع ددې له امله وه، چې غالبا د هغوی پلرونو به مشرکان او بوت پرست وو او دغسې کسان کوم ارزښت او احترام نه لري، چې سړی ورباندې قسم ياد کړي؛ لکه چې په ځينو احاديثو کې راغلي:
پر پلرونو او طاغوت (د عربو بوتان) باندې قسم مه کوئ. (د السنن الکبری ۲۹/۱ کې يې له صحيح مسلم نه نقل کړی او د سنن نسايي ۷۷/۷ د سنن ابن ماجه ۲۷۸/۱ کې دغسې د سنن نسايي ٦/۷ کې بل حديث راغلی چې: لا تحلفوا بابائکم و لا بامهاتکم و لا بالانداد.
۲ ـ اسلامي علماوو په اتفاق سره منلې، ده چې ددښمنۍ د پای ته رسولو لپاره پر خدای تعالی او د هغه پر صفاتو پرته بل قسم (سم نه دی) پوره اوکافي نه ده.
نو ځکه د قضاوت او دښمنۍ د پای ته رسولو په وخت کې پر پلرونو باندې له قسم يادولو نه منع شوي.

**دویم حدیث:**

د السنن الکبری ۲۹/۱۰ کې او د مسند احمد ٤٧/١ او ٣٤/٢، ٦٧، ٧٨ او ١٢٥ کې راغلي چې:

جاء ابن عمر رجل فقال: احلف بالکعبه، قال لا و لکن احلف برب الکعبه قان عمر کان یحلف بابیه فقال رسول الله صلی الله علیه و سلم لا تحلف بابیک، فان من حلف بغیر الله فقد اشرک.

یو سړی د حضرت عمر زوی ته راغی او و یې ویل: چې زه په کعبه قسم یادوم، ابن عمر ورته وویل: دا مه کوه او د کعبې په رب قسم وکړه، حضرت عمر په پلار قسم یاداوه؛ خو رسول الله هغه له دې کاره منع کړ؛ نو څوک چې په غیر الله قسم کوي؛ نو له خدای سره به یې شرک کړی وي.

**ځواب:**

د مخکینیو دلایلو له مخې، چې په غیر خدای باندې قسم روا ګڼي؛ نو دا پورته حدیث باید داسې توجیه او تفسیر شي:

دا حدیث له دریو برخو جوړ شوی دی:

۱ ـ یو سړی ابن عمر رضی الله عنه ته راغی او ورته یې وویل، چې زه په کعبه قسم یادوم؛ خو نوموړي هغه له دې قسمه منع کړ.

۲ ـ عمر رضی الله عنه د پیغمبراکرم په مخ کې پر خپل پلار (خطاب) باندې قسم یاداوه، چې حضرت د جناب رسول الله (ص) هغه له دې عمل نه منع کړ او ورته یې وویل چې په غیر الله قسم شرک دی.

۳ ـ حضرت جناب رسول الله (ص) د (من خلف بغیر الله فقد اشرک) خبره پر مشرک باندې د قسم په باب کړی؛ خو ابن عمر رضی الله له دې نه په پراخه معنی پوهیدلی او مقدسان (لکه کعبه) یې هم په کې راوستې.

ددې روایت او له مخکینیو روایاتو (چې پیغمبر او نورو په غیر خدای قسم یاداوه)(له یو ځای کېدو نه دا نتیجه په لاس راځي، چې د جناب رسول الله (ص) دا خبره (څوک

چې په غير خدای قسم ياد کړي؛ نو شرک به يې کړی وي) يوازې په دې پورې تړلې، چې حق "مقسم به" مشرک وي؛ نه مسلمان او د قرآن، کعبې او پيغمبر په څېر مقدسات او دابن عمر رضی الله عنه اجتهاد، چې د پيغمبر له خبرې يې پراخه معنی اخستې، يوازې هغه ته دليل دی؛ نه نورو ته.
او دا چې په "مشرک پلار" باندې قسم يو ډول شرک دی؛ علت يې دادی، چې دا ډول قسم په ښکاره د هغوی د لارې او طريقې د تصديق په معنی دی.

**دويمه څېړنه:**

د حضرت جناب رسول الله (ص) د "من حلف بغير الله فقد اشرک"خبره د "لات او عزی" طواغيتو ته ده؛ نه مشرک پلار ته او دا خو لا څه کوې، چې پر مقدساتو باندې قسم خو نه دی او نه دی او دا د ابن عمر رضی الله عنه اجتهاد دی، چې په بوتانو پورې اړونده قانون يې په دوو نورو مواردو (پر مشرک او پر کعبې قسم) هم تطبيق کړی دی او که نه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم خبر دومره پراخه نه ده او ددې خبرې لپاره لاندې حديث سند دی:
"من حلف فقال فی حلفه بللات والعزی، فليقل، لا اله الا الله... سنن نسايي ۸/۷
څوک چې په لات او عزی قسم ياد کړي؛ نو سم دستي دې "لا اله الا الله... ووايي:
دا حديث ښيي، چې تر هغه وخته پورې د مسلمانانو په اذهانو کې جاهلي رسوبات لا پاتې وو او کله ناکله به يې د پخواني عادت له مخې پر طواغيتو قسم ياداوه او حضرت پيغمبر ددې ناوړه عمل له منځه وړو لپاره هغه کلي خبره وکړه! خو ابن عمر رضی الله عنه هغه پر مقدساتو او مشرک پلار هم تطبيق کړه.
دا چې د حضرت پيغمبر خبره نه پر مقدساتو او نه پر مشرک پلار باندې قسم ته مقارنه ده، لاندې دليل دی:
۱ _ امام الحنابله د مسند ۳٤/۲ کې دويم حديث داسې نقل کړی، چې ښيي د حديث د معنی د پراخوالي تطبيق د ابن عمر رضی الله له خوا دی.
د حديث متن: کان يحلف ابی، فنهاه النبی، قال من حلف بشيئ دون الله فقد اشرک.

عمر رضی الله عنه پر خپل پلار قسم خوري؛ رسول الله منع کړ او و يې ويل : هر څوک چې غير خدای باندې قسم ياد کړي؛ نو له خدای تعالی سره به يې شرک کړی وي.
لکه چې ويني: د "من حلف..." جمله د عطف له "واو" يا "فاء" پرته راغلې او که چېرې درېيم حديث پر پلار باندې د قسم د حديث ذيل وای؛ نو لازمه وه، چې دويم حديث د عطف په ټکي پيل شوی وای، بيا د مسند مولف د ۶۷/۲ کې ليکي: "من حلف" يې په مستقل ډول بيان کړی، بې له دې چې د حضرت عمر د قسم قصه يې ياده کړې وي او وايي "من حلف بغير الله قال فليه قولاً شديدا"
څوک چې پر غير خدای قسم ياد کړي؛ نو په دې باب يې ناروا خبره کړې ده او يا نبي اکرم د هغه په باب سخت ويلي مثلا ويلي يې دي، چې شرک يې کړی.
د دې دوو څېړنو ترمنځ پوره توپير لېدل کېږي، لومړنۍ څېړنه پردې ولاړه ده، چې د حضرت پيغمبر خبره د "رجس" څيزنو (؛ لکه بوتان مشرکان) په باب ده او کله هم پر مقدسو څيزنو (؛ لکه قرآن، کعبه، پيغمبر) نه تطبيقېږي اودا يوازې عبدالله بن عمر رضی الله عنه دی، چې د جناب رسول الله (ص) خبره په پراخه مفهوم ګڼي.
په دويمه څېړنه کې د حضرت پيغمبر خبره له دې هم ګونګه ده او يوازې په بوتانو او طاغوتانو (؛ لکه "اصنام" او "اوثان") پورې ده او دا عبدالله بن عمر رضی الله عنه دی، چې د جناب رسول الله (ص) خبره يې تر "مشرک" هم رارسولې.
يوازې د حضرت پيغمبر مسئله پاتې کېږي، چې حضرت عمر يې پر پلار باندې له قسم نه منع کړی دی، بې له دې چې هغه کلي جمله پرې تطبيق کړي او د مجوزو رواياتو ته په پام سره دا نهې، يوه کراهتي نهې ده، چې پر "مشرک" تطبيقېږي؛ نه پر مسلمان او مقدسو څيزونو.

# الهي اولیاوو ته نذر

د نړۍ په مسلمانانو کې رواج دی، ځینې چې له ستونزو سره مخامخ شي؛ نو وايي که خدای پاک رانه دا مشکلات لرې کړي؛ نو یا به پسه حلال کړم او یا به دا کار وکړم، چې دې ته نذر وايي: "لله علیه کذا ان کان کذا" په تېره بیا مسلمانان په هغو ځایونو کې نذرونه ورکوي، چې هلته د صالحانو او اولیاوو قبرونه دي.
شیخ مجمد بن عبدالوهاب او شیخ ابن تیمیه دواړو دا عمل د مشرکانو عمل ګڼلی او شیخ ابن تیمیه په دې باب وايي:
فرقان القرآان ۱۳۲ مخ: من نذر شیاء للنبي او غیره من النبیین والاولیاء من اهل القبور او ذبح ذبیحه کان کالمشرکین الذین یذبحون لا وثانهم وینذرون لها فهو عابد لغیر الله فیکون بذلک کافرا"
هر څوک چې د پیغمبر او یا نور پیغمبرانو لپاره څه نذر او ذبح کوي؛ نو دوی د مشرکانو په څېر دی، چې خپلو بوتانو ته نذر کوي او یا ورته څه ذبح کوي او په دې توګه هغوی "غیرالله" نمانځنې او کافران کېږي.
دلته دا دواړه د حکم په ظاهري ورته والي تېر ایستل شوي، حال داچې په ګډو او شریکو اعمالو کې باید د ظاهري ورته والي له مخې قضاوت ونه کړو؛ بلکې دلته زموږ کچه او ملاک باید نیت او د زړه اراده وي.
نو که موږ د ظاهري اعمالو له مخې قضاوت کوو؛ نو دحج ډېر اعمال د بوت نمانځنکیو په څېر دي، چې هغوی له ډېرو او ختو نه تاوېږي او خپل ډبرین یا لرګین بوتان ښکلوي او همدغسې ورته کار موږ هم کوو، له کعبې (چې له ډبرو او ختو جوړه شوې)ګرد چاپېره طواف کوو، جحرالاسود ښکلوو او په منی کې وینه تویو او ذبح کوو.
موږ باید په ظاهرا شریکو کارونو کې د نیت او انګېزې له مخې قضاوت وکړو، نه داچې د اعمالو ظاهري ورته والي له امله دواړه سره یو شان وګڼو.

په دې باب، د "صلح الاخوان" مولف په ۱۰۲ او.... مخونو کې لیکي: انما المساله تدرو مدارنیات الناذرین و انما الا عمال بالنیات فان کان قصد الناذرالمیت نفسه والتقرب الیه بذلک لم یجز قولا واحدا و ان کان قصده وجه الله تعلای وانتفاع الاحیاء بوجه من الوجوه و ثوابه لذلک المنذور له المیت فیجب الوفاء بالنذر.

که له نذر څنې هدف مړي ته نژدېوالی وي؛ نو دا عمل ناروا دی او که نذر د خدای لپاره وي، چې یوه له خلک ترې ګټه واخستی شي او ثواب یې مړي ته ورسي؛ نو په دې صورت کې نذر ښه دی.

نوموړی اسلامي عالم حقه خبره کړې او د نړۍ مسلمانان د خدای لپاره نذرونه کوي او له همدې ځایه د مسلمانانو او بوت نمانځنکیو د اعمالو ترمنځه بنیادي توپیر لیدل کیږي، چې هغوی د بوت نامه او یا هغه ته د نژدېوالي لپاره کوي او تحفې هم وروړي؛ خو مسلمانان د خدای تعالی د رضا لپاره نذر کوي او ثواب یې مړي ته بخښي؛ نو ځکه په نذرونو کې د الله جل جلاله نوم اخلي او وایي: لله علیه ان قضیت حاجتی ان افعل کذا؛ په حقیقت کې د نذر هدف د خدای تعالی د رضا حاصلول او ثواب یې د قبر خاوند ته بخښل دي او نذر فقیرانو او نیستمنو ته او یا په نورو خیریه ځایونو کې لګول دي؛ نو څنګه دې عمل ته شرک ویلای شو او عمل کوونکی یې مشرکان ګڼو؟

لنډه داچې دا ډول نذرونه د پیغمبرانو او صالحانو له خوا یو ډول صدقه ده، چې ثواب یې هغوی ته ورګرځول کیږي او یو اسلامي عالم هم د مړو له خوا صدقې ورکولو ته ګوته نه ده نیولې.

د دې لپاره چې لوستونکی د هغوی له تېروتنو سره بلد کړو؛ نو په دې باب لږه رڼا اچوو:

په عربي به کې د صدقې په باب مطلب په لام ادا کیږي؛ خو کله له لام څنې مراد هدف او عرض وي؛ لکه "لله علی" او کله ترې مطلب د لګښت بیانول وي؛ لکه : " انما الصدقات للفقراء"

او د نذر د صیغې د اجرا په وخت کې دواړه "لامونه" استعمالیږي او وایي: "نذرت لله ان قضیت حاجتی ان اذبح للنبي"

لومړی لام "لله" د هدف او عرض لپاره راوړل شوی او مطلب یې د نذر د هدف بیانول دي، چې د خدای د رضا لپاره ترسره کېږي او دویمني "لام" له نذر څنې ګټه اخستل مراد دی، چې ثواب یې چا ته رسي.
لنډه داچې په "صلیت لله" او یا "نذرت لله" کې "لام" د هدف ښوونکی دی، چې د الله د رضا لپاره، لمونځ کوم او یا نذر کوم.
حال داچې په "اذبح للنبی، اولوالدی، اولو الدتی" کې "لام" د ګټې اخستونکي لپاره راوړل شوی، چې دا عمل د هغه لخوا ترسره کېږي او له ثواب نه یې برخمن کېږي او دغسې نذر د هغه سړي عبادت نه دی؛ بلکې د خدای عبادت دی، چې د خدای مخلوق ترې ګټور کېدای شي او په اسلامي احادیثو کې د دې مطلب په باب زیات مثالونه شته، چې څینې یې دادي:
۱ _ حضرت سعد (رض) له جناب رسول الله نه پوښتنه وکړه: مور مې وفات شوې او که ژوندۍ وای؛ نو صدقه یې ورکوله؛ نو که اوس زه د هغه لخوا صدقه ورکړم، هغې ته څه ګټه رسوي؟
جناب رسول الله (ص) وویل: هو ! بیا یې پوښتنه وکړه: کومه صدقه به زیاته ګټوره وي؟ ورته یې وویل: اوبه؛ نو حضرت سعد (رض) څاه وویسته او و یې ویل: "هذه لام سعد" په دې جمله کې "لام" د "نذرت لله" له "لام" پرته دی، لومړی "لام" د نیت او انګېزې بیانوونکی او دویمنی "لام" د ګټې او استفادې ښودونکی دی.
(فرقان الفرقان، ۱۳۳ مخ)
۲ _ یو سړي نذر کړی و، چې په "بوانه" کې به اوښ حلالوي؛ نو د پوښتنې لپاره حضرت جناب رسول الله (ص) ته ورغی، د جناب رسول الله (ص) ورته وویل:
هلته د جاهلیت په وخت کې بوت و، چې خلکو نمانځنو، و یې ویل: نه بیا ترې حضرت پېغمبر وپوښتل : ایا هلته په یو جاهلي اختر کې هم کومه غونډه جوړه شوې وه؟ ورته یې وویل : نه ! نو حضرت پېغمبر ورته وویل: "اف بنذرک فانه لا وفاء لنذر فی معصیة الله و لا فیما لا یملک ابن آدم"
"نذر دې وکړه؛ څکه نذر په دوو مواردو کې سم نه دی."

۱ _ د گناه په صورت کې
۲ _ په هغه څه کې، چې انسان يې خاوند نه وي.
(سنن ابی داود ۸۰/۲)
۳ _ يوې ښځې حضرت پيغمبر ته وويل: نذر مې کړی، چې په يو خاصځای کې ځاروي حلال کړم: حضرت ورته وويل: ايا د بوت (صنم) لپاره دې نذر کړی؟ و يې ويل: نه؛ جضرت پيغمبر ورته وويل، په خپل نذر عمل وکړه.
(سنن ابی داود ۸۱/۲)
٤ _ د حضرت ميمونې بي بي پلار له حضرت پيغمبر نه پوښتنه وکړه، چې نذر مې کړی، چې په "بوانه" کې ۵۰ پسونه حلال کړم، حضرت ورته وويل: ايا هلته بوت شته؟ ورته يې ويل :نه ! نو جناب رسول الله (ص) ورته وويل چې نذر وکړه.
داچې حضرت جناب رسول الله (ص) پرله پسې پوښتنه کوله، چې هلته مخکې يا اوس بت شته او يا د اختر په نامه کومه غونډه جوړېږي؛ نو مطلب يې دا و چې د قرآني دستور (و ما ذبح علی النصب – او هغه ځاروی چې د کوم چا په دربار کې ذبحه کړای وي؛ يعنې د بوت او د بوت د رضا تر لاسه کولو لپاره ذبحه حرامه ده) له مخې د بوت او بوت ته د نژدېوالي په نامه ذبح حرامه ده.
او پوښتونکيو ددې له امله په ټاکلي ځای کې حلاله کوله، چې هلته فقيران او نيستمن زيات وو او يا داچې هلته به د حلالې کار اسانه و.
په پاې کې وايو چې نذر د خدای تعالی لپاره دی او هغه څه چې د هغه په نامه ذبح کېږي، ثواب يې "اولياء الله" ته رسي او فقيران او زايران هم ورنه مادي گټه اخستی شي.

## د اولياوو د اثارو تبرک

مسلمانان د اولياوو اثارو ته په تبرک او احترام قايل دي؛ خو د شيخ محمد بن عبدالوهاب ډله دې عمل ته شرک وايي او څوک چې د نبي اکرم محراب او منبر ښکلوي (که څه هم په هېڅ ډول الوهيت ورته قايل نه وي)؛ نو دوی ورته مشرکان وايي. حال داچې مسلمانان له حضرت د جناب رسول الله (ص) سره د زياتې مينې له امله د هغه اثار ښکلوي؛ نو اوس دلته له دوی نه پوښتنه کوو، چې د يوسف (ع) د کميس په باب څه دليل لري؟
[اذْهَبُواْ بِقَمِيصِي هَـذَا فَأَلْقُوهُ عَلَى وَجْهِ أَبِي يَأْتِ بَصِيراً وَأْتُونِي بِأَهْلِكُمْ أَجْمَعِينَ. وَلَمَّا فَصَلَتِ الْعِيرُ قَالَ أَبُوهُمْ إِنِّي لأَجِدُ رِيحَ يُوسُفَ لَوْلاَ أَن تُفَنِّدُونِ.قَالُواْ تَاللّهِ إِنَّكَ لَفِي ضَلاَلِكَ الْقَدِيمِ.فَلَمَّا أَن جَاء الْبَشِيرُ أَلْقَاهُ عَلَى وَجْهِهِ فَارْتَدَّ بَصِيراً قَالَ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ إِنِّي أَعْلَمُ مِنَ اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ؛ زما دا کميس درسره يوسئ او زما د پلار پرمخ يې وغورځوئ (چې) ليدونکی شي او ټوله کورنۍ مو ماته راولئ)) او چې کله (د ورونو) کاروان (له مصره) ووت؛ نو پلار يې (په کنعان کې) وويل : که ما پر ناپوهۍ اوکم عقلۍ نه تورنوئ؛ نو ماته خوبيخي د يوسف بوی راځي. (شاوخوا يې) وويل :((پر خدا ی قسم، ته خو په هماغه پخواني سودايتوب کې يې!)) نو چې زېرباڼی راغی او کميس يې د يعقوب پرمخ وغوړاوه؛ نو ليدونکی شو! و يې ويل :((درته مې نه و ويلي، چې په واقع کې زه د خدای له لوري پرهغه څه پوهېږم، چې تاسې پرې نه پوهېږئ.)) ](يوسف ۹۳ -۹٦ آيتونه)

نو که اوس يو مسلمان د نبي اکرم د قبر خاورې پر خپلو ليمو ومښي او د اسلامي لارښوونکيو قبرونه د احترام په توګه ښکل کړي او يا په هغوی کې تبرک ولټوي او ووايي، چې خدای پاک په دې خاورو کې داسې اغېزې غورځولې او په دې کار کې د زمانې د "يعقوب" پيروي وکړي؛ نو ولې تکفير او ورټل شي!
څوک چې دګران پيغمبر د تاريخ په باب لږ و ډېر معلومات لري؛ نو دا ورته څرګنده ده، چې د هغه يارانو به د آنحضرت د اوداسه اوبه د تبرک لپاره اخستلې او په دې عمل

کې به یو له بله ړومبي کېدل، په دې باب د صحیح بخاري او صحیح مسلم څو روایتونو ته مو پام گرځوو:
۱ ـ د بخاري شریف ۵۵/۳ کې راغلي: د حدیبیه د سولې په وخت کې، چې به پېغمبر اودس کاوه؛ نو یارن به یې د اوداسه د څاڅکو د تښتولو لپاره پر یو بل ړومبي کیدل.
۲ ـ د صحیح بخاري ۲۲۷/٤ کې د نبوت د ختم په باب او د صحیح مسلم د خاتم النبوع په باب کې داسې راغلي: امام بخاري له سائب بن یزد نه نقل کوي، چې ویل یې ترور مې زه د جناب رسول الله (ص) حضور ته بوتلم او و یې ویل: خور مې ناروغه ده، جناب رسول الله (ص) اودس وکړ او ماته یې له خدایه برکت وغوښت او اودس یې وکړ، چې د پېغمبر د اودس له اوبو مې وڅښلې.
۲ ـ د صحیح بخاري۲۲٦/٤ کې د جناب رسول الله (ص) د صفاتو په باپ کې نقل شوي:
امام بخاري له وهب بن عبدالله نه نقل کوي، چې خلکو د جناب رسول الله (ص) لاسونه پر مخ راښکل او ماهم د جناب رسول الله (ص) لاسونه ونیول او پرمخ مې راښکل او لاسونه یې له مشکو ډېر خوږبویه وو.
٤ ـ د صحیح بخاري ٤/ ۲۳۱ کې د پېغمبر د صفاتو په باب نقل شوي : حضرت پېغمبر په ابطح کې دننه په خیمه کې و، حضرت بلال له خیمې راووت او اذان یې وکړ، چې لمونځ ادا کړي بیا خیمې ته ننووت او د پېغمبر د اوداسه د اوبو پاتې شونې یې دباندې راوستې او خلکو پرې ګڼه ګوڼه جوړه کړه.
۵ ـ د صحیح مسلم د ٤ جلد د فضائل الصحابه په باب کې امام مسلم له انس نه نقل کړی دی، چې حضرت جناب رسول الله (ص) خپل سر خرایه او یاران یې ترې ګر چاپېره ولاړ وو؛ نو هر وېښته یې یارانو په لاس کې نیوه.
د تبرکاتو په باب د زیاتو پوهېدو لپاره د صحیح بخاري د زغرې – امسا - تورې – لوښو- مهر – ګوتې- ویښته او کفن باب ته مراجعه وکړئ.
مونږ چې پورته پنځه نمونو ته اشاره وکړه؛ نو دا خو له حضرت جناب رسول الله (ص) سره د هغه د یارانو د بې کچه مینې یادونه وه، چې د هغه په اثارو کې به یې تبرکات

لټول. د شيخ ابن عبدالوهاب ډله چې خلک د اولیاوو د اثاراو له تبرکاتو منع کوي، داسې انګېري، چې د مړي احترام د هغه عبادت دی، حال داچې په اسلام کې د عبادت لپاره ټاکلی حد او پولې شته او داسې نه ده، چې "هر احترام به عبادت وي" په دې باب څو لاندې مطالبو ته پام وکړئ.

۱ _ شبراوي د الاتحاف په ۹ مخ، سمهودي د وفاء الوافاء ۴۴۴/۲ او خالد صلح الاخوان په ۵۷ مخ کې لیکلي دي، چې:

د حضرت جناب رسول الله (ص) تر ښخولو وروسته د هغه لور حضرت فاطمه د خپل ګران پلار د قبر تر څنګه ودرېده او د قبر خاوره يې راپورته کړه او پر مخ يې ومښله او ویې ژړل او دا دوه شعره يې وویل:

ماذا علی من شم تربه احمد

ان لا یشم مدی الزمان غوالیا

صبت علی مصائب لوانها

صبت علی الایام مرن لیالیا

"پر هغه چا به څه وشي، چې د احمد صلی الله علیه وسلم د قبر خاوره بوی کړي او بیا د عمر تر پایه قیمتي مشک بوی نه کړي.

داسې مصيبتونه راباندې راغلل که په رڼا ورځ راغلي وای؛ نو په توره شپه به يې اړولې وای."

۲ _ د ځینو دلایلو له مخې، چې حضرت بلال مدینه منوره پرېښې وه او په شام کې اوسېده؛ نو په خوب کې ورته پیغمبر راغی او ورته يې وفرمایل: ای بلاله! دا څه جفا ده ایا دا وخت نه دی رارسېدلی، چې زما زیارت وکړې. بلال رضی الله عنه پرېشانه له خوبه راوېښ شو؛ نو پر سپرلۍ راسور او مدینې ته را روان شو، چې کله د حضرت پیغمبر قبر ته راروسېد؛ نو په ژړا يې پیل وکړ او مخ يې پر قبر مښه او چې حسن او حسین يې ولېدل دواړه يې ښکل کړل.

دا قصه سبکي په شفاء السقام کې د قسام بن عساکر له تاریخه نقل کړي او ابن اثیر د اسدالغابة د لومړي جلد په ۲۸ کې راوستی.

۳ _ سمهودي د وفاء الوفاء ۹۱۲/۲ او شیخ داوود خالد په صلح الاخوان کې یوه قیصه بیان کړې: حضرت علي وايي:
د حضرت د جناب رسول الله (ص) تر وفاته درې ورځې وروسته یو بیاباني عرب راغی او د هغه مبارک پر قبر یې ځان وغورځاوه او د قبر خاورې یې پر سر شنیدلې او پیغمبر ته یې په خطاب کې وویل: ای د خدای پیغمبره! څه دې، چې ویلي مونږ اورېدلي، حقایق، چې تاله خدایه واخستل؛ نو مونږ هم هغه له تا واخستل، له هغې جملې نه، چې خدای تعالی پر تا نازل کړي یو دا هم دی " و لو انهم اذ ظلموا انفسهم" ما پر ځان تېرى کړی، ماته له خدایه بخښنه وغواړه، ناڅاپه یې اواز واورېد، چې گناهونه دې وبخښل شول.
٤ _ حاکم د مستدرک ٥١٥/٤ کې نقل کوي، چې مروان بن حکم جومات ته راننووت او ویې لیدل، چې یو سړي پر قبر مخ ایښی، مروان یې پر څټ لاس کېښود او ورته یې وویل: پوهېږې، چې څه کوی؟
هغه سر راپورته کړ؛ نو معلوم شو، چې هغه حضرت ابوایوب انصاري دی او و یې ویل: زه تیږې ته نه یم راغلی؛ بلکې حضرت جناب رسول الله (ص) ته راغلی یم؛ خو ای مروانه! له جناب رسول الله (ص) نه مې اورېدلي، چې وېلي یې دي: که د دین رهبري د صالحینو په لاس کې وه؛ نو مه ژاړئ؛ خو که لارښوونکي نا اهلان وو؛ نو وژاړئ.
له دې ځایه معلومه شوه، چې د تاریخ دا برخه ښيي، چې اموي واکمنانو د جناب رسول الله (ص) یاران د هغه د قبر له تبرکه منع کول؛ یعنې دا مروان بن حکم او ددې پر لیکه روان واکمنان وو، چې له دې مشروع عمله یې خلک منع کول.

پای